# مُعَلِمُ الانشَاء

لومړی ټوک

( د عربي ليکنې او ترجمې لارښود کتاب)

مولانا عبدالماجد ندوي

ژباړن

محمد رسول سعيد

Maktaba Tul Ishaat.com

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مُعَلِّمُ الْاِنشَاء

## لومړی برخه

## پښتو

د عربي ليکنې او ژباړې لارښود

تاليف

مولانا عبدالماجد ندوي

مترجم

محمد رسول سعيد

Maktaba Tul Ishaat.com

د کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

## د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم : مُعَلِّمُ الْاِنشَاء (لومړی برخه)

❁ تالیف : مولانا عبدالماجد ندوي

❁ مترجم : محمد رسول سعید

❁ خپرندوی : **صداقت کتب خانه/ کندهار**

❁ کمپوز/ ډیزاین : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❁ د چاپ کال : ۱۳۹۵ ش - ۲۰۱۶ع،

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو پته:

**صداقت کتب خانه**

کندهار - افغانستان

**تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷**

**ایمیل:** sadaqat.books@gmail.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

Maktaba Tul Ishaat.com

# فهرست


| | مضامين | صفحه |
|---|---|---|
| مقدمة الكتاب | مولانا ابو الحسن علي ندوي | ٦ |
| الدرس الاول | كلمه او د هغې قسمونه | ٩ |
| الدرس الثاني | نكره او معرفه | ١١ |
| الدرس الثالث | مركب | ١۴ |
| الدرس الرابع | مركب توصيفي | ١۶ |
| الدرس الخامس | مركب اضافي | ٢٧ |
| الدرس السادس | مركب تام | ٣٧ |
| الدرس السابع | جمله فعليه | ۴٧ |
| الدرس الثامن | د فعل قسمونه (ماضي، مضارع، امر، نهي) | ۵٣ |
| الدرس التاسع (١) | فعل مضارع | ۵٨ |
| الدرس التاسع (٢) | فعل مستقبل | ٦٣ |
| الدرس التاسع (٣) | فعل مضارع د استمرار په معنى | ٦۵ |
| الدرس العاشر | فعل مجهول \ نائب فاعل | ٦٧ |
| الدرس الحادي عشر ١ | ماضي بعيد وماضي استمراري | ٧٣ |
| الدرس الحادي عشر ٢ | ماضي استمراري منفي | ٧٩ |
| الدرس الثاني عشر ١ | فعل امر | ٨٢ |
| الدرس الثاني عشر ٢ | فعل نهي | ٨۶ |
| الدرس الثالث عشر | د مبتدا خبر چې جمله يا شبه جمله وي | ٨٩ |

| | مضامين | صفحه |
|---|---|---|
| الدرس الرابع عشر ۱ | په قد سره د فعل ماضي تاكيد | ۹۵ |
| الدرس الرابع عشر ۲ | د فعل مضارع تاكيد په قد او لام سره | ۹۷ |
| الدرس الخامس عشر | فعل نفي په "لَم، لَما، لَن" سره | ۹۹ |
| الدرس السادس عشر | د فعل مستقبل مثبت تاكيد | ۱۰۵ |
| الدرس السابع عشر ۱ | ادوات الاستفهام | ۱۱۸ |
| الدرس السابع عشر ۲ | استفهام او نفي يو ځاى | ۱۲۵ |
| الدرس الثامن عشر ۱ | ادوات الشرط | ۱۳۰ |
| الدرس الثامن عشر ۲ | ادوات الشرط غير جاذمه | ۱۳۵ |
| الدرس التاسع عشر | اسم موصول | ۱۳۸ |
| الدرس العشرون | نواسخ جمله | ۱۴۱ |
| الدرس الحادي والعشرون | افعال ناقصه | ۱۴۶ |
| الدرس الثاني والعشرون | ما ولا المشبهتان بليس | ۱۵۳ |
| الدرس الثالث والعشرون | لاء نفي جنس | ۱۵۶ |
| الدرس الرابع والعشرون | افعال المقاربه والرجاء والشروع | ۱۶۰ |
| الدرس الخامس والعشرون | حروف جاره | ۱۶۵ |
| | رسالة من طالب الى ابيه | ۱۶۹ |
| | رد الوالد علي رسالة ولده | ۱۷۰ |
| | معاني الالفاظ الصعبة | ۱۷۲ |


Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# مقدمه

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى !

اما بعد ! عربي ژبه دوه مهم ارزښتونه لري، يو دا چي د قرآن او حديث ژبه ده او په هغه کي زموږ ديني اصطلاحات او الفاظ دي، د هغو څخه د خبرتيا پرته موږ د اسلام د نظام او احکامو څخه خبرتيا او د هغي ستري ذخيري څخه چي په خپل تاريخي مساحت کي ديارلس نيم سوه کاله وخت لري او په خپلي جغرافيايي پراخې کي د اسلامي نړۍ پر پراخه رقبه خپور سوی دی، بېله عربي ژبي زموږ د هغه سره تعلق نه سي پيدا کيدای او نه ور څخه ګټه اخيستلای سو .

دغه ارزښت د عربي ژبي لومړی او تر ټولو مهم ارزښت دئ او زموږ د تعلق او شوق اصل وجه ده، د دغه ارزښت په وجه ضروري ده چي دغه ژبه بې تکليفه او په صحيح توګه ووايو او په پوه سو او کوم علوم چي د دغي ژبي دپاره ضروري دي بايد هغه زده کړو .

دوهم ارزښت يې دادئ چي عربي ژبه تر رسالت مخکي او د اسلام په شروع کي هم يوه ژوندۍ ژبه وه، د اسلامي تاريخ په هر دور کي يوه ژوندۍ ژبه وه او په دغه زمانه کي هم يوه ژوندۍ او پر مختللې ژبه ده چي د ټولو انساني اړتياوو پوره کولو او د خپلو خيالاتو په روښانولو کي بشپړ وړتيا لري او کوم چي د قرآن کريم په برکت عربي ژبه پر خپل اصالت پاته ده، د دغه حيثيت فطري تقاضا داده چي زموږ تعلق هم د دغي ژبي سره ژوندی او په عملي توګه تعلق وي، بايد د يوې پراخي انساني ژبي په ډول يې زده کړو او په دغه ژبه کي بېله تکلفه د خپلو خيالاتو اظهار وکړای سو، په تقرير او تحرير کي يې استعمال کړای سو، زموږ د ليکنو، تصانيفو او مجالس ژبه جوړه سي، دا يوه ډېره نادره او د فهم څخه ليري خبره ده چي يو کس يا يوه ډله د خپل ژوند لويه برخه او خپلي ذهني وړتياوي د هغو علومو او تصانيفو په درس او ويلو کي مصرف

ري کوم چي په عربي ژبه لیکل سوي دي مګر بیا هم په هغه ژبه د خپلو خیالاتو ظهار نه سي کولای.

د دغي کمزورۍ لویه وجه دا ده چي عربي ژبه د یوې ژبي په حیثیت نه ویل ي بلکه د یو نظري علم او کتابي فن په حیثیت ورته کتل کیږي او یوازي د بونو د پوهېدو ذریعه ګڼل کیږي، د دغه ذهنیت او نظر نتیجه دا وي چي ښکله عملي تمرین او تحریر ته توجه نه کیږي او پایله یې دا وي چي زموږ ډېر اګردان او فاضلان د نورو وړتیا سربېره په عربي ژبه کي د څو کرښو لیکلو او څو دقیقو وینا باندي قادر نه وي په خاصه توګه کله چي دغه تحریر یا تقریر د ام ژوند اړوند او یا د ورځنیو اړتیاوو په اړه وي او یوازي د دیني یا علمي ث پوري محدود نه وي، د نظر خاوندانو دغه کمي مخکي هم محسوس کړې مګر اوس د عربي هیوادو د عالمانو سره د ناستي او اجتماع ډېري موقع دا سوي دي او د دیني خدمت مېدان ډېر پراخ سوی دئ ځکه نو دغه کمي په ره سختۍ سره محسوس کیږي.

دار العلوم ندوة العلماء د عربي ژبي د زده کړي او د نصاب ترتیب ته توجه کړه او تر یو حده یې ګټور خدمت وکړی، او کوم چي د عربي ژبي او د ادب د صاب تعلق دئ نو هغه یوه ډېره لویه کمي پوره کړل او یو ترتیب سوی نصاب ې وړاندی کړی چي په هغه کي ادبي ښېګني او د نوو تعلیمي تجربو سره سلامیت او دیني روح په پوره توګه موجود دي. د هندوستاني مسلمانانو ره د دغو خبرو لحاظ کول ضروري وه، مګر د انشاء په اړه یې تر اوسه یو مل شی وړاندی کړی نه دی، دغه کار ښوونکو ته سپارل سوی وو او د خپلو وړتیاوو مطابق یې په ټولګیو کي کار کوئ، مګر په هغه کي د نظم او توازن کمي قدرتي وه، د ټولګیو تعلیمي کار بې نظمه وو او ډېري کمۍ پکښې وې.

دغي کمۍ پوره کولو دپاره دا خبره ضروري سول چي د انشاء لپاره هم یو مل او ترتیب نصاب وړاندي سي چي له کبله یې ښوونکي په منظمه ط انشاء تعلیم وکړای سي، د دغه کار پراخه خاکه او بشپړ لړۍ ستاسي په م ده، زه خوشحاله یم چي زموږ د مدرسې یو ښوونکي مولوي عبد الماجد ندوي په ډېره ښه طریقه د دغي لړۍ لومړۍ برخه ترتیب کړل او زه امید لې ان شاء الله د عربي مدرسو دپاره به ګټوره ثابته سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دغه کتاب کي د انشاء او ژباړي تر تمريناتو مخکي د صرف او نحو ضروري قاعدې بيان سوي دي کوم چي د انشاء او ژباړي بنياد دئ، بيا مختلف تمرينونه ورکړل سوي دي تر څو د يوې خوا قاعدې په ذهن کي راسي او بلي خوا ته شاګردان د صحيح جملو او صحيح عربي ليکني تمرين وکړي، د قاعدو د ښوونې هم دغه فطري طريقه ده چي شاګردانو ته يوازي د قاعدو او مسائلو په صورت کي ونه ويل سي بلکه د جملو او عملي مثالونو سره د هغوئ په ذهن کي راوستل سي او په شاګردانو عملي تمرين وکړل سي، قاعدې د ژبي څخه بېلول او په نظري توګه زده کول يوازي د متاخرينو ځانګړتيا وه او د ژبي خاوندان ورسره نا اشنا وه.

په تمرينونو کي ورته والی نسته او جملې هم وچي او بې روح نه دي بلکه په هغو کي تنوع، ژوند او زړه لګېدل دي،

بيا د جملو او الفاظو په انتخاب کي هم اسلامي ذهنيت او ديني خيالونه ښکاره دي، زياتي جملې د قرآن او حديث څخه اخيستل سوي دي، د دغو جملو او تمرينونو په ذريعه د عربي مدرسو د تنکي شاګردانو ديني احساس بېداره کېږي او څرګندېږي چي دا د هغو مسلمانو شاګردانو درسي کتاب دئ کوم چي په راتلونکي کي ددين داعي او د اسلام ساتونکي جوړېږي او د ژبي په زده کولو سره د دين خدمت سرته رسوي.

زه اميد لرم چي دغه کتاب د خپلو ځانګړتياوو سره په عربي مدرسو کي د ښه ورو وګرځي او هغوئ هم تر يو حده پوري دغه کمي پوره کړي کوم چي زموږ په نصاب کي د ډېر وخت څخه محسوس کېدل، الله ﷻ دي دغه کتاب ګټور وګرځوي او تر ډې وروسته دي د بشپړېدو او خپرېدو توفيق ورکړي.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين.

ابو الحسن علي

۶ شوال ۱۳۷۲هـ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اَلدَّرْسُ الْاَوَّلُ

## مفرد (۱)

## کلمه او د هغې قسمونه

هغه لفظ چې معنی ولري د نحو په اصطلاح کې کلمه ورته وايي، کلمه درې قسمونه لري: اسم، فعل او حرف.

**اسم:** هغې کلمې ته وايي چې د يو انسان، حيوان، ځای او يا شي نوم ور څخه معلوم سي، او په هغه کې د ماضي، حال او مستقبل څخه هيڅ زمانه موجود نه وي، لکه: خَالِد، اَلْقُرْآن، اَلْفَرَسُ، کَنْدَهَار، اَلشَّجَرُ، اَلْاِبْرِيْق، اَلْقِرَاۃُ (ويل)، اَلْحَرْيُ (ځغستل) او داسې نور...

**فعل:** هغه کلمې ته وايي چې د هغه څخه د يو کار کېدل او يا کول معلوم سي او دا هم معلوم سي چې هغه کار د ماضي، حال او مستقبل څخه په يوې زمانه کې سوی يا کيږي، لکه: قَرَأَ (هغه وويل) يَقْرَأُ

[1]- انسان چې د خولې څخه خبره باسي نو هغه د ځينو مفرد الفاظو ټولګه وي، که موږ دغه الفاظ د يو بل څخه بېل کړو نو هر يو مفرد بلل کيږي لکه: رَکِبَ خَالِدٌ عَلَی الْحِصَانِ، دغه يوه جمله ده چې د څلورو الفاظو څخه مرکب ده، که دغه الفاظ جلا جلا کړل سي نو هر لفظ مفرد بلل کيږي او ټولګه يې مرکب بلل کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(هغه وايي يا به يې ووايي)، په قَرَأَ کي د ماضي زمانه او په يَقْرَأُ کي د حال او استقبال دواړي زمانې موجود دي.

حرف: داسي کلمه ده چي د خپلي پوره معنى ښودلو لپاره د بلي کلمې محتاج وي، يعني تر څو چي بله کلمه ورسره يو ځای نه سي په معنى يې څوک نه پوهيږي لکه: مِنْ (څخه)، إِلَىٰ (تر)، فِيْ (په) او داسي نور...

پاملرنه! الف لام (ال)، تنوين (ـً ـٍ ـٌ)، اضافت او جر\زير (ـِ) د اسم علامې دي، پر فعل باندي ال، جر او تنوين نه راځي او نه هم فعل مضاف کيږي، په فعل کي د زمانې موجود کېدل ضروري دي، د حرف علامه د هغه د تعريف څخه معلوميږي.

## اَلتَّمْرِيْن ①

په لاندي جملو کي اسم، فعل او حرف جلا کړئ:

۱- اَلطَّيْرُ يَطِيْرُ فِي الْهَوَاءِ.

۲- اَلسَّمَكُ يَعِيْشُ فِي الْمَاءِ.

۳- اَلْعُصْفُوْرُ يَتَغَرَّدُ عَلَى الشَّجَرَةِ

۴- إِنَّ السَّفِيْنَةَ تَجْرِيْ عَلَى الْمَاءِ.

۵- يَنْزِلُ الْمَطَرُ مِنَ السَّمَاءِ.

۶- سَافَرَ عَلِيٌّ إِلىٰ دِهْلِي.

۷- تَوَضَّأْتُ بِالْمَاءِ الْبَارِدِ.

۸- صِدْتُ الطُّيُوْرَ بِالْبَنْدُقِيَّةِ.

۹- حَفِظَ التِّلْمِيْذُ الدَّرْسَ.

۱۰- إِنَّ اللهَ عَلىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

# اَلدَّرْسُ الثاني

## نکره او معرفه

د اسم دوه قسمونه دي: ۱- نکره، ۲- معرفه.

**نکره:** د یو ډول څو شیانو مشترک نوم ته اسم نکره ویل کیږي، دغه اسم پر یو معلوم او خاص شي دلالت نه کوي لکه: کِتَابٌ (یو کتاب)، رَجُلٌ (یو سړی)، فَرَسٌ (یو آس)، مَاءٌ (اوبه)، بَلَدٌ (یو ښار) او داسي نور...

**معرفه:** هغه اسم دی چي پر یو معلوم او خاص شي دلالت کوي، لکه: اَلْکِتَابُ (یو خاص کتاب)، اَلْفَرَسُ (یو خاص آس)، دِهْلِيْ (د یو خاص ښار نوم)، خَالِدٌ (د یو خاص کس نوم) او داسي نور...

**پاملرنه!** د نکره معنی په عامه توګه په یو، څه او ځینو سره کیږي او د معرفه معنی مطلق وي یعني د هغه سره د خاص یا معلوم لفظ لګولو اړتیا نه وي بلکه دغه لفظ په ذهن کي وي او اوریدونکی په پوهیږي.

د اسم معرفه اووه قسمونه دي چي په لاندي توګه دي:

(۱) **علم:** هغه اسم چي د یو خاص سړي، ښار او یا بل شي لپاره اېښودل سوی وي لکه: خَالِدٌ، مَحْمُوْدٌ، مَکَّة، کَنْدَهَار، اَلْمَدِيْنَة، مِصْرُ، اَلْعِرَاقُ او داسي نور...

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢) معرف باللام: يعني هغه اسم چي د (ال) په ذريعه معرفه سوى وي، لکه: اَلْبَيْتُ، اَلْكِتَابُ، اَلْوَلَدُ، اَلرَّسُوْلُ، او داسي نور...

(ال) ته حرف تعريف ويل کيږي، يعني معرفه کوونکی حرف، کله چي د يو نکره اسم څخه معرفه جوړول مقصد وي نو پر هغه (ال) داخل کړي او معرفه جوړ سي، لکه د رَجُلٌ څخه اَلرَّجُلُ، د وَلَدٌ څخه اَلْوَلَدُ، او داسي نور..

که پر يو لفظ (ال) داخل وي نو پر هغه تنوين نه راځي، پر علم يعني خاص نومانو باندي (ال) نه راځي، مګر هغه نومونه چي د شروع څخه (ال) ورباندي وي لکه: اَلْمَدِيْنَة، اَلْعِرَاق، اَلْبَصْرَة، پر دغو نومونو د شروع څخه (ال) سته.

(٣) اسم ضمير: لکه: هُوَ، هُمَا، هُمْ، اَنْتَ، اَنَا، نَحْنُ، او داسي نور...

(٤) اسم اشاره: لکه: هٰذَا، هٰذِهٖ (دغه)، ذٰلِکَ، تِلْکَ (هغه)، هٰؤُلَاءِ (دغه ټول)، اُوْلٰئِکَ (هغه ټول).

(٥) اسم موصول: لکه: اَلَّذِيْ، اَلَّتِيْ (هغه)، اَلَّذِيْنَ، اَلَّائِيْ (هغه-جمع).

(٦) منادى: لکه: يَا رَجُلُ، يَا وَلَدُ، او داسي نور.

(٧) مضاف الى المعرفة: يعني هر هغه اسم چي د معرفه د لومړنيو پنځو قسمونو (علم، معرف باللام، اسم ضمير، اسم اشاره، اسم موصول) څخه يوه ته مضاف وي، لکه: كِتَابُ مَحْمُوْدٍ (د محمود کتاب)، فَرَسُ الرَّجُلِ (د معلوم او خاص سړي آس)، قَلَمُهُ (د ده قلم)، كِتَابُ الَّذِيْ جَاءَ (د هغه کس کتاب چي راغلی).

## اَلتَّمْرِيْن ②

لاندې الفاظ په پښتو ترجمه کړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١: اَلْقَلَمُ | ٢: اَلْكِتَابُ | ٣: كُرَّاسَةٌ | ٤: حِبْرٌ |
| ٥: مِرْسَمٌ | ٦: اَلْمِحْبَرُ | ٧: اَلسَّبُّوْرَةُ | ٨: اَلْبُسْتَانُ |
| ٩: اَلشَّجَرَةُ | ١٠: غُصْنٌ | ١١: اَلْوَرَقُ | ١٢: اَلزَّهْرُ |
| ١٣: اَلتَّمْرُ | ١٤: فَاكِهَةٌ | ١٥: بَيْتٌ | ١٦: اَلسَّقْفُ |
| ١٧: اَلْبَابُ | ١٨: جِدَارٌ | ١٩: اَلْمِفْتَاحُ | ٢٠: قُفْلٌ |
| ٢١: اَلشُّبَّاكُ | ٢٢: اَلْاَبُ | ٢٣: اَلْاَخُ | ٢٤: اَلْاُسْتَاذُ |
| ٢٥: تِلْمِيْذٌ | ٢٦: اَلْوَلَدُ | ٢٧: اَلْخَادِمُ | ٢٨: اَلْبِنْتُ |

## اَلتَّمْرِيْن ③

لاندې الفاظ په عربي ترجمه کړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١: سپوږمی | ٢: ستوری | ٣: لمر | ٤: آسمان |
| ٥: مځکه | ٦: وریځ | ٧: هوا | ٨: دریاب |
| ٩: غر | ١٠: ځنګل | ١١: اور | ١٢: اوبه |
| ١٣: دود | ١٤: رڼا او تاریکي | ١٥: باران او شبنم | ١٦: میز |
| ١٧: یو میز | ١٨: یوه چوکی | ١٩: یو ګل | ٢٠: جاذب |
| ٢١: قمیص | ٢٢: یو دسمال | ٢٣: یو هلک | ٢٤: بوټ |
| ٢٥: یوه خولی | ٢٦: پرتوګ | ٢٧: بالښت | ٢٨: څادر |

Maktaba Tul Ishaat.com

# اَلدَّرْسُ الثالث

## مرکب

د دوو یا تر دوو زیاتو الفاظو ټولګي (مجموعې) ته مرکب وايي.

مرکب دوه قسمونه لري: مرکب تام او مرکب ناقص.

مرکب تام: هغه مرکب ته وايي چي ور څخه پوره خبره معلومه سي، يعني د هغه څخه يو خبر، حکم يا خواهش معلوم سي، لکه: اَلْبُسْتَانُ جَمِيْلٌ (باغ ښائسته دی)، يَلْعَبُ الْوَلَدُ (هلک لوبي کوي)، نَظِّفْ ثِيَابَکَ (خپلي جامې پاکي کړه)، قُمْ يَا سَعِيْدُ (ولاړ سه اې سعيده)، اِجْلِسْ (کښېنه)، مرکب تام ته جمله مفيده او کلام هم وايي.

مرکب ناقص: هغه مرکب ته وايي چي ور څخه پوره خبره معلومه نه سي، لکه: اَلثَّوْبُ النَّظِيْفُ (پاکي جامې)، مَاءُ الْبَحْرِ (د درياب اوبه)، حِذَاءُ خَالِدٍ (د خالد بوټونه)، خَمْسَةَ عَشَرَ (پنځلس).

مرکب ناقص ډېر قسمونه لري چي په هغو کي دوه مشهور قسمونه مرکب توصيفي او مرکب اضافي دي.

پاملرنه: په مرکب تام کي د (قم، اجلس) او داسي نور الفاظ په ښکاره يو لفظ معلوميږي مګر په حقيقت کي داسي نه ده بلکه په دغو الفاظو کي يو بل لفظ پټ وي چي نه ويل کيږي مګر په ذهن کي وي

چي دلته يو لفظ پټ دی، هغه لفظ د (انت) دی، کله چي اجلس وويل سي نو مطلب به د (اجلس انت) وي او پوره خبره په ذهن کي راځي ځکه نو دغه جمله مرکب تام ده، په خلاف د مرکب ناقص چي په هغو کي (مَاءُ الْبَحْرِ، اَلثَّوْبُ النَّظِيْفُ، خَمْسَةَ عَشَرَ) او داسي نور که څه هم د دوو لفظو څخه جوړ (مرکب) سوي دي مګر پوره معنی په ذهن کي نه راځي ځکه نو مرکب ناقص بلل کیږي .

==========

## اَلتَّمْرِيْن ۴

په لاندي جملو کي مرکب تام او مرکب ناقص جلا کړئ :

| | |
|---|---|
| ۱- اَلْمَاءُ الْبَارِدُ. | ۲- اَلثَّوْبُ نَظِيْفٌ |
| ۳- اَلْبَيْتُ النَّظِيْفُ | ۴- لَيْسَ الْوَلَدُ |
| ۵- لَيْتَ الْفَاكِهَةَ | ۶- اَكَلَ فَرِيْدُ الفَاكِهَةَ |
| ۷- اَلْقَلَمُ الَّذِيْ | ۸- لَعَلَّ الْخَادِمَ |
| ۹- لَعَلَّ التِّلْمِيْذَ يَنْجَحُ | ۱۰- إِنْ جِئْتَ |
| ۱۱- كَاَنَّ الْكِتَابَ | ۱۲- اَلنَّجْمُ لَامِعٌ |
| ۱۳- اَلْفَاكِهَةُ نَاضِجَةٌ | ۱۴- نَامَتِ الصَّبِيَّةُ |

Maktaba Tul Ishaat.com

# اَلدَّرْسُ الرابــع

## مرکب توصيفي

**مرکب توصيفي:** هغه مرکب ته وايي چي پکښې د يو اسم (اسم ذات[٢]) صفت، حالت، کيفيت او يا بل څه بيان سوي وي لکه: اَلْمَاءُ الْعَذْبُ (خوږې اوبه)، اَلْهَوَاءُ الْبَارِدُ (يخه هوا)، اَلْوَلَدُ الْمُجْتَهِدُ (کوښښ کوونکی هلک)، مَحْمُوْدُ الْخَطِيْبُ (تقرير کوونکی محمود) او داسي نور...

١. د مرکب توصيفي لومړی جز موصوف او دوهم صفت بلل کيږي.

٢. موصوف همېشه اسم ذات او صفت په عامه توګه اسم صفت[٣] وي.

٣. د مرکب توصيفي يعني صفت او موصوف په منځ کي په لاندنيو خبرو

---

[٢]- د اسم ذات څخه مراد هغه لفظ دی چي د يو شي محض وجود وښيي لکه په پورتنيو مثالونو کي اَلْمَاءُ، اَلْهَوَاءُ، الوَلَدُ، مَحْمُودٌ، دغه الفاظ د اوبو، هوا، هلک او محمود پر محض وجود او د هغو پر ذات دلالت کوي.

[٣]- اسم صفت د يو شي پر ښه والی، بدوالی، حالت، کيفيت او صفت باندي دلالت کوي، لکه: اَلْعَذْبُ، البَارِدُ، الْمُجْتَهِدُ او الخَطِيبُ، دغه څلور الفاظ حالت او کيفيت بيانوي، د اسم صفت پنځه قسمونه دي، اسم فاعل لکه: عَالِمٌ، اسم مفعول لکه: مَعْلُوْمٌ. صفت مشبه لکه عَلِيْمٌ، اسم تفضيل لکه اَعْلَمُ، اسم مبالغه لکه عَلَّامٌ او عَلَّامَةٌ. صفت په عامه توګه د اسماء صفات څخه راوړل کيږي مګر کله نا کله د صفت لپاره جمله يا شبه جمله هم راوړل کيږي چي تفصيل به يې په دوهم جلد کي راسي.

کي پوره مطابقت (ورته والی) وي او هغه دادي: ۱: اعراب [۴]، ۲: تعریف وتنکیر، ۳: تذکیر وتانیث، ۴: واحد، تثنیه او جمع، او که موصوف د غیر عاقل جمع وي نو صفت به واحد مؤنث وي لکه: اَلشَّجَرَاتُ الطَّوِيلَةُ، او کله نا کله د مطابقت لپاره الطَّوِيلَاتُ هم ویل کیږي.

==========

## اَلتَّمْرِين ۵

په لاندي جملو کي مرکب تام او مرکب ناقص جلا کړئ:

۱- اَلْبُسْتَانُ الْجَمِيْلُ
۲- اَلْغُصْنُ الْاَخْضَرُ
۳- اَلْوَرَقُ النَّاعِمُ
۴- ثَوْبٌ رَخِيْصٌ

---

[۴]- اعراب د لفظ آخري حالت ته وايي او هغه څلور دي: رفع، نصب، جر او جزم، جر د اسم سره خاص دئ او جزم د فعل سره خاص دی.
د رفع علامه ضمه (ـُ ـٌ)، د نصب علامه فتحه (ـَ ـً) او د جر علامه کسره (ـِ ـٍ) ده، جزم د حرکت نه موجودتیا ته وايي، رفع (پېښ) لرونکي اسم ته مرفوع، نصب (زور) لرونکي اسم ته منصوب او جر(زېر) لرونکي اسم ته مجرور ویل کیږي.
ضمه، فتحه او کسره ته اعراب بالحرکت وايي، د اعراب یو بل ډول اعراب بالحروف دی او هغه (الف، واو، یاء) دي، په اسماء سته (اَبٌ،اَخٌ....) کي د رفع لپاره واو، د نصب لپاره الف او د جر لپاره یاء استعمالیږي مګر په تثنیه کي الف د رفع علامه ګڼل کیږي، د نصب او جر دواړو لپاره یاء چي ماقبل یې مفتوح او مابعد یې مکسور وي، لکه خَالِدَيْنِ، په جمع مذکر سالم کي د رفع لپاره واو، د نصب او جر لپاره یاء چي ماقبل یې مکسور او مابعد یې مفتوح وي یعني د یاء تثنیه برعکس راځي لکه: خَالِدِيْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٥- قَلَمٌ ثَمِيْنٌ　　٦- اَلرِّدَاءُ الْخَشِنُ

٧- اَلْمَطَرُ الْغَزِيْرُ　　٨- اَلسَّحَابُ الْكَثِيْفُ

٩- تِلْمِيْذٌ مُجْتَهِدٌ　　١٠- اَلْفَلَّاحُ الْكَسْلَانُ

١١- اَلْقِطَارُ السَّرِيْعُ　　١٢- فَرَسٌ بَطِيْئٌ

١٣- اَلتُّفَاحُ الْحُلْوُ　　١٤- اَللَّيْمُوْنُ الْحَامِضُ

١٥- اِقْبَالُ الشَّاعِرُ　　١٦- اَلدِّيْنُ الْقَيِّمُ

## اَلتَّمْرِيْن ⑥

د لاندي الفاظو څخه د مرکب توصيفي جملې جوړي کړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| طَائِرٌ | اَلْبَابُ | اَلْجَدِيْدُ | وَلَدٌ |
| اَلسَّرِيْعُ | اَلنَّاعِمُ | اَلْكَبِيْرُ | شُبَّاكٌ |
| اَلْكِتَابُ | اَلْمَسْجِدُ | جَمِيْلٌ | صَغِيْرٌ |
| اَلْفِرَاشُ | اَلثَّوْبُ | مَفْتُوْحٌ | اَلْمُغْلَقُ |
| صَالِحٌ | اَلْحِصَانُ | بَيْتٌ | اَلْخَلَقُ (زو |

## اَلتَّمْرِيْن ⑦

لاندي الفاظ په عربي وليکئ:

| | | |
|---|---|---|
| يخي اوبه | صافه هوا | خوږه ميوه |
| سور رنګ | تور پنسل | يو ښائسته مر |
| يو ګران بيه هار | چاغ غوايي | يو تېز آس |

| | | |
|---|---|---|
| پراخ سرک | یو نیک هلک | یو ښه کتاب |
| لایق شاګرد | مهربان استاد | شاهد ادبناکه |
| آخري نبي | محمد رسول | رښتونی رسول |

## اَلتَّمْرِيْن ⑧

## په تذکیر (۵) او تانیث کي د موصوف او صفت مطابقت

لاندي جملې په پښتو ترجمه کړئ:

۱- اَلْحَدِيْقَةُ الْجَمِيْلَةُ
۲- اَلشَّجَرَةُ الْمُثْمِرَةُ
۳- وَرْدَةٌ حَمْرَاءُ
۴- اَلطَّعَامُ الشَّهِيُّ
۵- لَحْمٌ طَرِيٌّ
۶- خُبْزٌ بَائِتٌ
۷- اَلْفِضَّةُ الْبَيْضَاءُ
۸- اَلْفَاكِهَةُ الْفِجَّةُ

---

۵- تذکیر او تانیث: د جنس په اعتبار د اسم دوه قسمونه دي: مذکر او مؤنث، اسم مؤنث دوه ډوله دی: قیاسي او سماعي، بیا د قیاسي دوه قسمونه دي: لفظي او معنوي،

۱: د لفظي مؤنث درې علامې دي چي د اسم په آخر کي وي او په لاندي توګه دي:

۱- تاء تانیث (ة) لکه: اِمْرَأَةٌ. بَقَرَةٌ. عَالِمَةٌ. مَفْتُوْحَةٌ. اَلْفِضَّةُ او داسي نور...

۲- الف مقصوره لکه: سَلْمٰى. اَلصُّغْرٰى. اَلْحُسْنٰى او داسي نور...

۳- الف ممدوده لکه: اَسْمَاء (د ښځي نوم)، حَسْنَا (ښائسته ښځه) او داسي نور.

صفت مشبه چي د اَفْعَلُ پر وزن راسي د هغه اسم مؤنث د فَعْلَاء پر وزن وي لکه: د اَحْمَرُ ښځه حَمْرَاءُ، د اَسْوَدُ ښځه سَوْدَاءُ، د اَصْفَرُ ښځه صَفْرَاءُ، د اَزْرَقُ ښځه زَرْقَاءُ، د اَحْسَنُ ښځه حَسْنَاءُ او داسي نور...، (نوره حاشیه په راتلونکې مخ کي.......)

Maktaba Tul Ishaat.com

٩- زَهْرَةٌ مُفَتَّحَةٌ ١٠- ثَمَرٌ نَاضِجٌ
١١- اَلسَّمَاءُ الصَّافِيَةُ ١٢- بِنْتٌ جَمِيْلَةٌ
١٣- خَدِيْجَةُ الْعَالِمَةُ ١٤- حَمِيْدَةُ الْخَرْقَاءُ

## اَلتَّمْرِيْن ⑨

خالي ځايونه ډک کړئ :

١- اَللَّيْلُ ............ ٢- اَلْبُسْتَانُ............
٣- اَلسَّاعَةُ ............ ٤- طَاوِلَةٌ ............
٥- كُرْسِيٌّ ............ ٦- اَلسَّبُوْرَةُ ............
٧- سَعِيْدٌ ............ ٨- اَلْعِقْدُ ............
٩- اَلْمِصْبَاحُ............ ١٠- سَيَّارَةٌ ............
١١- اَلْمَنَارَةُ ............ ١٢- اَلْبَقَرَةُ............
١٣- شَاةٌ ١٤- فَاطِمَةُ ............

## اَلتَّمْرِيْن ⑩

خالي ځايونه ډک کړئ :

١- ............اَللَّامِعُ ٢- ............اَلْعَذْبُ
٣- ............اَلنَّقِيُّ ٤- ............اَلسَّمِيْنَةُ

۵- ................. اَلْمُرُّ ۶- ................. اَلْهِنْدِيُ

۷- ................. مُقْمِرَةٌ ۸- ................. بَيْضَاءُ

۹- ................. اَلْمُظْلِمُ ۱۰- ................. نَشِيْطٌ

۱۱- ................. اَلْمُثْمِرُ ۱۲- ................. اَلْمُظِلَّةُ

## اَلتَّمْرِيْن (۱۱)

په عربي يې ترجمه کړئ :

| | | |
|---|---|---|
| شين آسمان | ځلانده لمر | لوړ غر |
| ژور ځاه | میوه داره درخته | خوږ انار |
| يخه شپه | يوه تاريکه خونه | يو لوړ ميز |
| ګران بيه ساعت | سپين قميص | توره خولۍ |
| تعليم يافته عائشه | مجاهد خالد | يوه وينه تويونکي جګړه |

## اَلتَّمْرِيْن (۱۲)

### په تثنيه [۱] او جمع کي د موصوف او صفت مطابقت

[۱]- تثنيه او جمع: د اسم په اعتبار د عدد دري قسمونه دي، ۱: واحد، ۲: تثنيه، ۳: جمع، واحد يوه ته، تثنيه دوو ته او جمع تر دوو زياتو ته ويل کيږي.
د تثنيې جوړولو قاعده: د مفرد اسم په آخر کي د الف او نون په زياتولو سره تثنيه جوړيږي مګر دا هغه وخت چي تثنيه مرفوع (پېښ لرونکې) وي لکه د كِتَابٌ څخه كِتَابَانِ، د كُرَّاسَةٌ څخه كُرَّاسَتَانِ او داسي نور، او كه تثنيه منصوب (زور لرونکې) (پاته حاشيه په راتلونکې صفحه کي..........)

Maktaba Tul Ishaat.com

لاندې جملې په پښتو ترجمه کړئ:

۱- اَلْمَاءُ الرَّائِقُ ۲- اَلْهَوَاءُ النَّقِيُّ

۳- اَلْاَنْهَارُ الْجَارِيَةُ (اَلْجَارِيَاتُ) ۴- نَجْمَانِ لَامِعَانِ

۵- اَلْجِبَالُ الشَّامِخَةُ (اَلشَّامِخَاتُ) ۶- اَلْمُسْلِمُوْنَ الصَّادِقُوْنَ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷- | رِجَالٌ صَالِحُوْنَ | ۸- | وَرْدَةٌ مُفَتَّحَةٌ |
| ۹- | تِلْمِيْذَانِ مُجْتَهِدَانِ | ۱۰- | اَلْبَنَاتُ الصَّالِحَاتُ |
| ۱۱- | اَقْلَامٌ ثَمِيْنَةٌ (ثَمِيْنَاتٌ) | ۱۲- | اَلْمُنَارَتَانِ الطَّوِيْلَتَانِ |
| ۱۳- | اَلدَّوَاةُ الْمَمْلُوْءَةُ | ۱۴- | اَلْاُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنَاتُ |

## التَّمْرِيْن (۱۳)

خالي ځايونه په مناسبو صفتونو ډک کړئ:

اَلْاَزْهَارُ ............

۲- اَلْمَلَابِسُ ............

عَمُوْدَانِ ............

۴- اَلْمَنْظَرُ ............

اَللَّيَالِي ............

۶- اَلْبَقَرَاتُ ............

---

(د تېر سوي مخ پاته حاشيه......)

يا مجرور (زېر لرونکې) وي نو د الف او نون پر ځای ياء چې ماقبل يې مفتوح او نون مکسور وي، زياتيږي لکه کِتَابَيْنِ، کُرَّاسَتَيْنِ، او داسي نور

جمع او د هغې قسمونه: د جمع درې قسمونه دي: جمع مذکر سالم، جمع مؤنث سالم او جمع مِکسر.

۱: جمع مذکر سالم هغه جمع ته وايي چې د واحد وزن پکښې سالم وي، دغه جمع د مفرد اسم په آخر کي د واو او نون مفتوح (ونَ) په زياتولو سره جوړيږي، دغه قاعده يوازي د رفع په حالت کي ده، د نصب په حالت کي د ياء چې ماقبل يې مکسور وي او نون مفتوح په زياتولو سره جمع جوړيږي لکه د مُحَمَّدٌ څخه مُحَمَّدِيْنَ، د صَالِحٌ څخه صَالِحِينَ (د نصب او جر په حالت کي)، مُحَمَّدُوْنَ او صَالِحُوْنَ (د رفع په حالت کي).

پاملرنه! جمع مذکر سالم يوازې د رِجَال (خلکو) د نومونو او د هغوئ د صفتونو لپاره راځي،

(پاته حاشيه په راتلونکې صفحه کي.........)

(د تېر سوي مخ پاته حاشيه......)

۲: د تثنيه او جمع مذکر سالم اعراب د نصب او جر په حالت کي په ياء سره راځي او په ليکنه کي د دواړو صورت يو وي، يوازي دا فرق وي چې د تثنيې تر ياء مخکي فتحه او وروسته نون کسره لري، د جمع مذکر سالم ياء مخکي کسره او وروسته نون يې فتحه لري، يعني په-

Maktaba Tul Ishaat.com

۷- اَلْحَدَائِقُ ............ ۸- كُرْسِيَّانِ ..................

۹- اَلْفَلَّاحُوْنَ.............. ۱۰- اَلتِّلْمِيْذَاتُ............

۱۱- تُفَّاحَتَانِ ............ ۱۲- سَلْمَانُ

---

- تثنيه كي ياء ماقبل مفتوح مابعد مكسور وي او په جمع كي ياء ماقبل مكسور او مابعد مفتوح وي.

۲: جمع مؤنث سالم: هغه جمع چي د يو واحد مؤنث په آخر كي د الف او تاء مبسوط (ت) په زياتولو سره جوړه سي او د واحد وزن پر خپل حال پاته وي لكه د مُسْلِمَةٌ څخه مُسْلِمَاتٌ، د صَالِحَةٌ څخه صَالِحَاتٌ، د فَاطِمَةٌ څخه فَاطِمَاتٌ، د بَقَرَةٌ څخه بَقَرَاتٌ، د شَجَرَةٌ څخه شَجَرَاتٌ، د كَلِمَةٌ څخه كَلِمَاتٌ ...

پاملرنه! دغه جمع د عاقل او غير عاقل دواړو لپاره راځي په خلاف د جمع مذكر سالم چي هغه يوازي د خلكو د نومونو او د هغوئ د صفتونو لپاه راځي.

د جمع مؤنث سالم اعراب د رفع په حالت كي په ضمه سره وي او د نصب او جر په حالت كي په كسره سره وي.

۳: جمع مكسر: جمع مكسر هغي جمع ته وايي چي د مفرد وزن پكښې سالم پاته نه وي بلكه په جمع كي د مفرد وزن مات سي، له همدې كبله دغي جمع ته مكسر (ماته سوې) وايي، لكه د رَجُل څخه رِجَال، د شَاةٌ څخه شِيَاةٌ، د حَدِيْقَةٌ څخه حَدَائِقُ او داسي نور.

د جمع مكسر جوړولو هيڅ قاعده نسته، كله د حركاتو (زور، زېر، پېښ) په تغير سره جوړيږي لكه د اَسَدٌ څخه اُسدٌ، او كله د يو حرف په حذف كولو سره جوړيږي لكه د رَسُوْلٌ څخه رُسُلٌ، او كله د حرف په زياتوب سره جوړيږي لكه د رَجُل څخه رِجَال او داسي نور.

لاندي د جمع مكسر ځيني وزنونه لېكل كيږي، تاسي يې په ياد كړئ:

اَفْعَالٌ، مَفَاعِلُ، مَفَاعِيْلُ، فُعْلٌ، فُعُوْلٌ، فِعَالٌ، اَفْعَلُ، فُعَلَاءُ، اَفْعِلَاءُ، فَوَاعِلُ، فَعَالِلُ، فَعَالِيْلُ، فَعَالِلَةٌ. (هغه الفاظ چي لاندي لېكه لري، غير منصرف دي او تنوين ورباندي نه راځي).

## اَلتَّمْرِيْن ۱۴

خالي ځايونه ډک کړئ :

۱- ................. اَلْمُمْطِرَةُ

۲- ................. اَلضَّئِيْلُ

۳- ................. اَللَّعُوْبَانِ

۴- ................. اَلْبَارُّوْنَ

۵- ................. مُتَلَالِئٌ

۶- ................. اَلْفَائِزَتَانِ

۷- ................. اَلْمُوْرِقَةُ

۸- ................. اَلْقَوِيَّانِ

۹- ................. اَلنَّاجِحُوْنَ

۱۰- ................. عَفِيْفَتَانِ

۱۱- ................. اَلْعَابِدَاتُ

۱۲- ................. مُجْتَهِدَاتٌ

## اَلتَّمْرِيْن ۱۵

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- عربي مدرسې

۲- تعليم يافته انجوني

۳- نېکي مندي

۴- يوه ښائسته هنداره

۵- په زړه پوري موسم

۶- دوه ښائسته پارکونه

۷- دوه ځلانده ستوري

۸- سپوږميزه شپې

۹- مېوه داره درختي

۱۰- شنه ښاخونه

۱۱- مغربي تهذيب

۱۲- انصاف کوونکی قاضي

۱۳- بې پرده ښځې

۱۴- قومي ترانه

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵- مؤمني ښځي
۱٦- په زړه پوري منظر
۱۷- سور ګل
۱۸- خيانت کوونکي وزيران
۱۹- بهېدونکي ويالې
۲۰- خوږه غزل

## اَلتَّمْرِيْن ⑯

### (في الانشاء)

۱. د خپلي ټولګۍ اړوند شيانو په باره کي د موصوف او صفت شپږ جملې جوړي کړئ چي واحد، تثنيه، جمع، تذکير او تانيث پکښې وي.
۲. د خپل تعليم په اړه د موصوف او صفت شپږ داسي جملې وليکئ چي واحد، تثنيه، جمع، تذکير او تانيث پکښې وي.
۳. د خپل هستوګن ځای د شيانو په اړه د موصوف او صفت شپږ داسي جملې جوړي کړئ چي واحد، تثنيه، جمع، تذکير او تانيث پکښې راسي.

# اَلدَّرْسُ الخامس

## مرکب اضافي

**مرکب اضافي:** د دوو اسمونو هغه مرکب چي د لومړي اسم نسبت دوهم اسم ته سوی وي، مرکب اضافي بلل کیږي، لکه: كِتَابُ سَعِيدٍ، بَيتُ خالِدٍ.

د مرکب اضافي لومړي اسم ته مضاف او دوهم اسم ته مضاف اليه وايي.

۱. مضاف او مضاف اليه به دواړه اسمونه وي(۸).

۲. مضاف اسم نکره او مضاف اليه زيات وختونه اسم معرفه وي مګر کله نا کله نکره هم وي.

۳. پر مضاف ال او تنوين نه راځي، مګر پر مضاف اليه ال او تنوين

---

۸- او کله مضاف اليه جمله هم وي (جمله اسميه او جمله فعليه دواړه).

پاملرنه! ۱: په اضافت سره په اسم کي د تخصيص او تعين معنی پيدا کيږي، د مثال په توګه که په "بَيتُ خَالِدٍ" کي يوازي د بيت لفظ ووېل سي نو د دغه لفظ څخه هيڅ خاص او معلوم کور نه مراد کيږي مګر کله چي بيت مضاف کړل سي او خالد ته يې اضافت وسي نو د کور تعين وسي او يو خاص کور (يعني د خالد کور) په ذهن کي راسي.

پاملرنه! په پښتو ژبه کي مضاف اليه مخکي وي او مضاف وروسته وي مګر په عربي ژبه کي د دې برعکس وي يعني مضاف مخکي وي او مضاف اليه وروسته وي، لکه كِتَابُ خَالِدٍ (د خالد کتاب)، اِبنُ مَحمُود (د محمود زوی) او داسي نور ...

پاملرنه! په پښتو کي د اضافت ترجمه په (د، زما، زموږ) کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړه راتلای سي.

۴. مضاف اليه همېشه مجرور (زېر لرونکی) وي.

۵. په اضافت کي د مضاف څخه د تنوين په ډول د جمع او تثنيې نون ايسته کيږي، لکه د مُسْلِمُوْنَ الهِنْد څخه مُسْلِمُو الْهِنْد، د كِتَابَانِ خَالِدٍ څخه كِتَابَا خَالِدٍ، او داسي نور...

٦. کله په يوه ترکيب کي ډېر مضاف اليه وي، لکه: بَابُ بَيْتِ صَدِيْقِكَ، لَوْنُ قَلَنْسُوَةِ مَحْمُوْدٍ، په دغه صورت کي منځنی مضاف اليه وروستني ته مضاف دی ځکه نو جر (زېر) ورکول کيږي مګر پر دغه مضاف اليه تنوين او ال نه راځي.

## اَلتَّمْرِيْن ⑰

په پښتو يې ترجمه کړئ:

| | |
|---|---|
| ۱- ضَوْءُ الْقَمَرِ | ۲- سَنَامُ الْجَبَلِ |
| ۳- شَاطِئُ النَّهْرِ | ۴- حَدِيْقَةُ مَحْمُوْدٍ |
| ۵- نَبَاتُ الْاَرْضِ | ٦- خِدْمَةُ الدِّيْنِ |
| ۷- تَغْرِيْدُ الطُّيُوْرِ | ۸- فَصْلُ الْمَطَرِ |
| ۹- اِكْرَامُ الضُّيُوْفِ | ۱۰- آيَةُ اللهِ |
| ۱۱- ظَلَامُ اللَّيْلِ | ۱۲- غُصْنُ الشَّجَرِ |
| ۱۳- جَمَالُ الطَّبِيْعَةِ | ۱۴- دَارُ غَنِيٍّ |

## اَلتَّمْرِیْن ⑱

د لاندي الفاظو څخه د مرکب اضافي جملې جوړې کړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بَرْقُ | اَلْبَيْتُ | اَلْفِيْلُ | رَمَضَانُ |
| فَرَسُ | اَلْحُجْرَةُ | اَلْكَأْسُ | اَلْعَذْبُ |
| سَقْفُ | اَللُّمْعَانُ | اَلسَّيْرُ | اَلْجَنَاحُ |
| خُرْطُوْمُ | اَلزُّجَاجُ | اَلْعِنَانُ | اَلْمَاءُ |
| قِطَارُ | اَلصَّوْمُ | اَلْبَابُ | اَلطَّيْرُ |

## اَلتَّمْرِیْن ⑲

په عربي يې ترجمه کړئ:

| | | |
|---|---|---|
| د ستورو ځلا | د لمر ګرمي | د آسمان رنګ |
| د باغ منظر | د ګلانو خوشبويي | د هوسۍ ښکار |
| د مرغه غوښه | د محمود توپک | د سپينو زرو ساعت |
| د اوسپني صندوق | د رسول تعليم | د اخلاقو ښه والی |
| د مؤمن ارادې | د دين غلبه | د رب رضا |

## اَلتَّمْرِیْن ⑳

### د تثنيې او جمع اضافت

په پښتو يې ترجمه کړئ :

۱- يَدُ الطِّفْلِ    ۲- عَيْنَا الظَّبْيِ

Maktaba Tul Ishaat.com

٣- جَنَاحَا الطَّيْرِ　　٤- شَاطِئَا الْبَحْرِ

٥- رَاكِبُو السَّفِيْنَةِ　　٦- قَاطِنُو الْجِبَالِ

٧- صَادِقُو الْوَعْدِ　　٨- مُعَلِّمُو الْمَدْرَسَةِ

٩- مِصْرَاعَا الْبَابِ　　١٠- عَجَلَتَا الدَّرَّاجَةِ

١١- مُحْسِنُو الْأُمَّةِ　　١٢- خَادِمُو الدِّيْنِ

## اَلتَّمْرِيْن (٢١)

د لاندي الفاظو اضافت مناسبو اسمونو ته وکړئ :

١- عَيْنَانِ　　٢- اَلْعَقْرَبَانِ

٣- مَنَارَتَانِ　　٤- لَابِسُوْنَ

٥- بَائِعُوْنَ　　٦- اَلْمَدَارِسُ

٧- اَلْمُهَاجِرُوْنَ　　٨- سَائِقُوْنَ

٩- اَلْأُذُنَانِ　　١٠- لَمْعَانٌ

١١- اَلسِّنَانُ　　١٢- اَلْمُسَافِرُوْنَ

## اَلتَّمْرِيْن (٢٢)

په عربي يې وليکئ :

١- د مؤمن فراست (ځيرکتوب)　　٢- د ايمان رڼا

٣- د کفر تاريکي　　٤- د ميږي پوهه

۵- د اوبښ غاړه
۶- د فيل دوه غاښونه
۷- د فيل مرغ دوې پښې
۸- د ابراهيم ﷤ دوه زامن
۹- د پلار فرمانبردار (جمع)
۱۰- د کعبې شريفې جوړونکي
۱۱- د مکې دوه مسافر
۱۲- د مسجد نبوي زيارت کونکي
۱۳- د رسول الله ﷺ اصحاب
۱۴- د وعدې وفادار
۱۵- د خبرو ربښتوني (جمع)
۱۶- د مېلمنو عزت کوونکي
۱۷- د الله ﷻ رسولان
۱۸- د اخلاقو ښوونکي
۱۹- د هيواد سره مينه کوونکي
۲۰- د دين دښمنان

## اَلتَّمْرِيْن ﴿۲۳﴾

(کله چې مضاف اليه تريوه زيات وي)

لاندې جملې په پښتو ترجمه کړئ:

۱- خِصْبُ اَرْضِ الْهِنْدِ
۲- ثَرْوَةُ بِلَادِ اَمْرِيْكَا
۳- لَوْنُ قَلَنْسُوَةِ مَحْمُوْدٍ
۴- ثَمَنُ عِقْدِ فَاطِمَةَ
۵- طُوْلُ مِنْشَفَةِ اَحْمَدَ
۶- نَسْجُ جَوْرَبِ حَامِدٍ
۷- صُوْفُ قُفَّازَىْ هِشَامٍ
۸- خَشْخَشَةُ قُبْقَابِ مَسْعُوْدٍ
۹- حَفْحَفَةُ جَنَاحِ الطَّيْرِ
۱۰- فَخْفَخَةُ اَغْنِيَاءِ اَوْدَه
۱۱- خَشَبَةُ مِصْرَاعَيِ الْبَابِ
۱۲- سَعْيُ مُحِبِّي الدِّيْنِ
۱۳- طَاعَةُ اَحْكَامِ الرَّسُوْلِ
۱۴- سِرُّ غَلَبَةِ الْاِسْلَامِ

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن (۲۴)

لاندي جملې په عربي وليکئ:

۱- د الله د کور عظمت
۲- د نوح علیه السلام د کښتۍ سپاره
۳- د کلي د اوسېدونکو ژوند
۴- د کابل د کارخانو مزدوران
۵- د اندونیسیا د مسلمانانو ژبه
۶- د عمر بن عبدالعزیز عدل
۷- د ګلاب د ګل سوروالی
۸- د شعیب د قلم رنګ
۹- د کاریګر د لاس تیزي
۱۰- د حسن د ساعت مخ
۱۱- د دېوال د ساعت ستني
۱۲- د ژنګ د وهلو اواز

## اَلتَّمْرِيْن (۲۵)

### (ضمیر (۱) ته اضافت)

لاندي جملې په پښتو ترجمه کړئ:

۱- رِيْشَةُ قَلَمِيْ
۲- قَوَائِمُ مِنْضَدَتِهِ
۳- صُفْرَةُ وَجْهِكَ
۴- صِدْقُ مَقَالَتِهِمْ

---

۱- ضمیرېو معرفه اسم دئ چي د غائب، مخاطب او متکلم په دول استعمالېږي لکه: هُوَ (هغه)، اَنْتَ (ته)، اَنَا (زه)، نَحْنُ (موږ)،
د ضمیر دوه قسمونه دي: متصل او منفصل.
ضمیر متصل: هغه ضمیر ته وايي چي د بلي کلمې سره د يوځای کېدو ماسیوا نه استعمالېږي (په خلاف د ضمیر منفصل)، دغه ضمیر کله د فعل سره راځي لکه: ضَرَبَهُ
(پاته حاشیه په راتلونکې صفحه کي........)

۵- مُعَلِّمُو اَبْنَاءِنَا ۶- شُعَرَاءُ بِلَادِكُمْ

۷- مُصَارَعَةُ اِبْنَيْكُمَا ۸- دُمْيَةُ بِنْتِهَا

۹- لَوْنُ خِمَارِكِ ۱۰- ثَمَنُ اَسْوِرَتِهِمَا

۱۱- حَذْقُ بَنَاتِكُنَّ ۱۲- سِيَاحَةُ زَوْجَيْكُمَا

۱۳- رِقَّةُ قُلُوْبِهِنَّ ۱۴- زُعَمَاءُ بِلَادِنَا

## اَلتَّمْرِيْن (۲۶)

لاندي جملې په عربي وليكئ:

۱- زما د باغ منظر ۲- ستا د کور دېوال

۳- د دغه هلك توپ ۴- ستاسي خلكو ننبه ويشتل

---

(د تيري صفحې پاته حاشيه......) او ضَرَبْتُهُ (ما هغه ووهى)، ضَرَبْتُهُمَا (ما دوئ دواړه ووهل)، او كله د اسم سره راځي لكه: كِتَابُهُ (د هغه كتاب) او كله د حرف سره راځي لكه بِهِ، لَهُ، عَلَيهِ او داسي نور...
كله چي د فعل سره راسي نو منصوب وي او كله چي د اسم يا حرف سره راسي نو همېشه مجرور وي، په لومړي صورت كي ضمير منصوب متصل بلل كيږي، په دوهم او دريم صورت كي ضمير مجرور متصل بلل كيږي.
د اسم سره د پيوست كېدو په صورت كي اسم مضاف او ضمير مضاف اليه وي ځكه ضمير اضافي هم ورته وايي، لاندي د ضمير اضافي نقشه لیکل كيږي.

ضمير اضافي يا مجرور متصل

| | غائب | | | مخاطب | | | متكلم | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه/ جمع |
| مذكر | كِتَابُهُ | كِتَابُهُمَا | كِتَابُهُمْ | كِتَابُكَ | كِتَابُكُمَا | كِتَابُكُمْ | كِتَابِي | كِتَابُنَا |
| مؤنث | كِتَابُهَا | كِتَابُهُمَا | كِتَابُهُنَّ | كِتَابُكِ | كِتَابُكُمَا | كِتَابُكُنَّ | كِتَابِي | كِتَابُنَا |

(پاته حاشيه په راتلونكې صفحه كي......)

Maktaba Tul Ishaat.com

٥- د دغو دوو خلکو مېړانه — ٦- زموږ د هېواد هواء
٧- ستاسي د هيواد سياح — ٨- د هغې د پازيب بيه
٩- ستا د غوږونو والي — ١٠- ستاسي د مړونو شهادت
١١- د دغو ښځو د ژړا اثر — ١٢- د ذغو دوو ښځو زامن
١٣- د دغو خلکو د علم شهرت — ١٤- زموږ د اسلافو کړني

## اَلتَّمْرِيْن ٢٧

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- اَلصُّبْحُ الْمُسْفِر — ٢- اَلشَّعْرُ الْفَاحِمُ وَحُسْنُهُ
٣- بَيَاضُ الصُّبْحِ — ٤- سَوَادُ الشَّعْرِ طِوَالَتُهُ
٥- قَفْزُ الْوَلَدَيْنِ وَهَرْوَلَتُهُمَا — ٦- سَاكِنُوا الْبَادِيَةِ وَسَذَاجَتُهُمْ
٧- اَلْفَتَيَاتُ الْاَفْرَنْجِيَّاتُ وَسُفُوْرُهُنَّ — ٨- زَئِيْرُ الْاَسَدِ وَهَيْبَتُهُ
٩- اَلْحِمَارُ النَّاهِقُ وَحَمَاقَتُهُ — ١٠- اَلْكَلْبُ الْعَضُوْضُ وَنُبَاحُهُ
١١- اَلْقِطُّ الْجَائِعُ وَمُوَاوُهُ — ١٢- اَلْقَلَمُ الْمُحَبَّرُ وَرِيْشَتُهُ
١٣- عَقْرَبَا السَّاعَةِ وَمِيْنَاءُهَا — ١٤- اَلْفَرَسُ الْجَامِحُ وَصَهِيْلُهُ

---

(د تېري صفحې پاته حاشيه.....) او د حرف سره لکه: لَهُ، لَهُمَا، لَهُمْ، لَهَا، لَهُمَا، لَهُنَّ، لَکَ، لَكُمَا، لَكُمْ، لَکِ، لَكُمَا، لَكُنَّ، لِيْ، لَنَا.
او د ضمير منصوب متصل صورت په لاندي ډول دی: ضَرَبْتُهُ، ضَرَبْتُهُمَا، ضَرَبْتُهُمْ، ضَرَبْتُهَا، ضَرَبْتُهُمَا، ضَرَبْتُهُنَّ، ضَرَبْتُکَ، ضَرَبْتُكُمَا، ضَرَبْتُكُمْ، ضَرَبْتُکِ، ضَرَبْتُكُمَا، ضَرَبْتُكُنَّ، ضَرَبْتُنِيْ، ضَرَبْتُنَا.

## اَلتَّمْرِيْن ⑳۸

په عربي يې وليکئ:

۱- د زمزم څاه او د هغه اوبه
۲- د سپينو زرو ګوتمۍ او د هغې غمې

ضمير منفصل: هغه ضمير ته وايي چي د بلي کلمې سره د پيوست کېدو ماسيوا استعماليږي لکه: هُوَ (دی)، هِيَ (دا)، هُمَا (دوئ دوه)، هُمْ (دوئ ډېر)، اِيَّاکَ (تا لره)، اِيَّاکُمَا (تاسي دوو لره)، اِيَّاکُمْ (تاسي ډېرو لره).
د ضمير منفصل دوه قسمونه دي: ۱: يو هغه چي د رفع سره خاص وي او همېشه مرفوع وي، دغه ضمير ته ضمير فاعلي هم وايي. ۲: دوهم هغه ضمير چي د نصب سره خاص وي او همېشه منصوب وي، دغه ضمير ته مفعولي هم وايي. (پاته حاشيه په راتلونکي صفحه کي........)
(د تېري صفحې پاته حاشيه.....)

ضمير مرفوع منفصل يا ضمير فاعلي

| | غائب | | | مخاطب | | | متکلم | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه/ جمع |
| مذکر | هُوَ | هُمَا | هُمْ | اَنْتَ | اَنْتُمَا | اَنْتُمْ | اَنَا | نَحْنُ |
| مؤنث | هِيَ | هُمَا | هُنَّ | اَنْتِ | اَنْتُمَا | اَنْتُنَّ | اَنَا | نَحْنُ |

ضمير منصوب منفصل يا ضمير مفعولي

| | غائب | | | مخاطب | | | متکلم | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه/ جمع |
| مذکر | اِيَّاهُ | اِيَّاهُمَا | اِيَّاهُمْ | اِيَّاکَ | اِيَّاکُمَا | اِيَّاکُمْ | اِيَّايَ | اِيَّانَا |
| مؤنث | اِيَّاهَا | اِيَّاهُمَا | اِيَّاهُنَّ | اِيَّاکِ | اِيَّاکُمَا | اِيَّاکُنَّ | اِيَّايَ | اِيَّانَا |

Maktaba Tul Ishaat.com

۳- د مسجد دوې منارې او د هغو لوړوالی
۴- د عربو اوسېدونکي او د هغوئ ژبه
۵- د رسول الله اصحاب او د هغوئ سیرت
٦- د نبیانو بعثت او د هغوئ پیغامونه
۷- اسلامي نظام او د هغه محاسن
۸- مغربي تهذیب او د هغه تاوانونه

۹- د انګریزانو سیاست او د هغوئ چمبازي
۱۰- د عربو مېلمه پالنه او د هغوئ سخاوت
۱۱- زما د توري ځلا او د هغې تېزي
۱۲- ستا د توري لاستی او د هغې پوښ
۱۳- د فاطمې ناوکی او د هغې د لوبو شیان
۱۴- د احمد کتاب او د هغه مخونه
۱۵- د محمود باسکل او د هغه دواړه ټېرونه
۱٦- دوه پنډ غوایي او د هغوئ رمباړی
۱۷- یوه ښائسته غوا او د هغې دواړه ښکرونه
۱۸- د اوښ غاړه او د هغه پښې
۱۹- ستا د آس ځین او د هغه واګي
۲۰- زموږ هستوګن ځای او د هغه خوني
۲۱- ستا د سرای بام او د هغه دېوالونه

# اَلدَّرْسُ السادس

## مرکب تام

مرکب تام: هغه مرکب ته وايي چي ور څخه پوره خبره معلومه سي، يعني د هغه څخه يو خبر، حکم يا خواهش معلوم سي، مرکب تام ته جمله مفيده او کلام هم وايي، که د جمله مفيده لومړی جز اسم وي نو جمله اسميه بلل کيږي او که لومړی جز فعل وي نو جمله فعليه بلل کيږي، مثالونه:

جمله اسميه لکه: اَلْوَلَدُ قَائِمٌ (هلک ولاړ دی)، اَلْوَلَدُ يَقُوْمُ (هلک دريږي). فَاطِمَةُ جَالِسَةٌ (فاطمه ناسته ده)، فَاطِمَةُ تَجْلِسُ (فاطمه کښېني)، دغه ټولي جمله اسميه دي ځکه لومړی جز يې اسم دی.

جمله فعليه لکه: قَامَ الْوَلَدُ (هلک ولاړ سو)، يَقُوْمُ الْوَلَدُ (هلک ولاړيږي)، دغه ټولي جمله فعليه دي ځکه لومړی جز يې فعل دی، د جمله فعليه بيان به په اووم سبق کي راسي.

۲ جمله اسميه ته مبتدا او خبر ويل کيږي، لومړی جز يې مبتدا او دوهم جزيې خبر بلل کيږي، په اَلْوَلَدُ قَائِمٌ کي الولد مبتدا او قائم خبر دی، همدارنګه په اَلْوَلَدُ يَقُوْمُ کي الولد مبتدا او يقوم (۱) د هغه خبر

---

۱- په "اَلْوَلَدُ يَقُوْمُ" کي اَلوَلَد د يَقُومُ فاعل نه دی ځکه په عربي ژبه کي فاعل تر فعل مخکي نه راځي بلکه همېشه تر فعل وروسته وي ځکه دلته د يَقُومُ فاعل د هغه ضمير دی چي اَلوَلَد ته راجع دی او اَلوَلَدُ ته مبتدا ويل کيږي، د دغي جملي ترکيب

Maktaba Tul Ishaat.com

دی .

۱. مبتدا عمومًا (۱۳) معرفه او خبر عمومًا نکره وي، په خلاف د موصوف او صفت چې په هغه کې دواړه معرفه یا دواړه نکره وي .

۲. مبتدا او خبر دواړه همېشه مرفوع وي .

۳. په واحد، تثنیه، جمع، تذکیر او تانیث کې د صفت په ډول خبر هم د خپل لومړني جز (مبتدا) مطابق وي .

۴. همدارنګه کله چې مبتدا د غیر عاقل جمع وي نو خبر عمومًا واحد مؤنث راځي او کله جمع مؤنث هم راځي لکه: اَلْاَقْلَامُ ثَمِیْنَةٌ او اَلْاَقْلَامُ ثَمِیْنَاتٌ (قلمونه ګران بیه دي).

پاملرنه! په موصوف و صفت او مبتدا و خبر کې ښکاره فرق دا دی چې

---

داسې کېږي چې اَلْوَلَدُ مبتدا او یَقُوْمُ فعل د خپل ضمیر (فاعل) سره یو ځای جمله فعلیه سوه او جمله فعلیه د مبتدا خبر سو، په دې باید ښه پوه سئ.

[13] – د دغه عموم برعکس مبتدا کله نا کله نکره هم وي مګر د دې لپاره دغه شرطونه دي:

۱. تر هغه مخکې حرف نفي وي لکه: مَا اَحَدٌ حَاضِرٌ .

۲. تر هغه مخکې حرف استفهام وي لکه: هَلْ کَرِیْمٌ یَبْخَلُ بِمَالِهٖ ؟

۳. یا نکره ته مضاف وي لکه : تَاجِرُ ثَوْبٍ مُسْلِمٌ .

۴. یا موصوف وي لکه: وَرْدَةٌ حَمْرَاءُ تَتَفَتَّحُ .

۵. یا مجرور وي لکه: فِیْکَ شُجَاعَةٌ .

٦. یا د ظرف په صورت کې خبر مقدم وي لکه: عِنْدِیْ حِصَانٌ.

همدارنګه خبر هم کله معرفه راځي او شرطونه یې دا دي:

۱. خبر د یو موصوف صفت کېدای نه سي لکه: اَنَا یُوْسُفُ .

۲. کله چې د مبتدا او خبر په منځ کې ضمیر فصل راوړل سي لکه: اَلْوَلَدُ هُوَ الْقَائِمُ.

مبتدا معرفه وي او خبر نکره وي مګر موصوف او صفت دواړه معرفه یا دواړه نکره وي، اَلْاَقْلَامُ ثَمِیْنَةٌ مبتدا او خبر دي او اَلْاَقْلَامُ الثَّمِیْنَةَ ، یا اَقْلَامٌ ثَمِیْنَةٌ ، موصوف او صفت دي، د ښکاره فرق څخه ماسیوا معنوي فرق دادی چي لومړی مرکب تام (جمله مفیده) وي او دوهم مرکب ناقص (جمله غیر مفیده) وي چي پوره خبره په ذهن کي نه راځي.

## اَلتَّمْرِیْن (۲۹)

په پښتو یې ترجمه کړئ :

۱- اَلْوَلَدُ بَاسِمٌ
۲- اَلشَّمْسُ مُشْرِقَةٌ
۳- اَلْمَاءُ رَائِقٌ
۴- اَلْهَوَاءُ نَقِيٌّ
۵- اَلْمِنْضَدَتَانِ جَمِیْلَتَانِ
۶- فَاطِمَةٌ نَظِیْفَةٌ
۷- اَلْجُنْدِیَانِ قَوِیَّانِ
۸- اَلْقُضَاةُ عَادِلُوْنَ
۹- اَلْوَرْدَةُ مُفَتَّحَةٌ
۱۰- اَلْاَزْهَارُ نَاضِرَةٌ
۱۱- اَلْوَرَقُ نَاعِمٌ
۱۲- اَلْحَدِیْقَتَانِ مُثْمِرَتَانِ
۱۳- اَلْغُرَفَاتُ مُضِیْئَةٌ
۱۴- اَلْاُمَّهَاتُ مُشْفِقَاتٌ
۱۵- اَلْمُعَلِّمُوْنَ جَالِسُوْنَ
۱۶- اَلرُّسُلُ صَادِقُوْنَ

## اَلتَّمْرِیْن (۳۰)

خالي ځایونه ډک کړئ :

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- اَلْقَمَرُ ........ ۲- اَلنُّجُوْمُ

۳- اَلْحَدِيْقَةُ........ ۴- اَلشَّجَرَتَانِ........

۵- اَلْاَبْوَابُ ........ ٦- اَلنَّوَافِذُ

۷- اَلسَّمَاءُ ........ ۸- اَلضَّيْفَانِ ........

۹- اَلْبِنْتَانِ ........ ۱۰- اَلتِّلْمِيْذَاتُ........

۱۱- اَلصَّبِيَّةُ ........ ۱۲- اَلْمُسَافِرُوْنَ ........

## اَلتَّمْرِيْن (۳۱)

خالي ځايونه ډک کړئ:

۱- ........ نَاعِمٌ ۲- ........ بَاسِمَةٌ

۳- ........ طَوِيْلَانِ ۴- ........ مَمْلُوْءَتَانِ

۵- ........ مَسْرُوْرُوْنَ ٦- ........ شَامِخَاتٌ

۷- ........ مُتَلَألِئَةٌ ۸- ........ خَضْرَاءُ

۹- ........ نَائِمَةٌ ۱۰- ........ مُضِيْئَتَانِ

۱۱- ........ مُسَافِرَاتٌ ۱۲- ........ مُكْرَمُوْنَ

## اَلتَّمْرِيْن (۳۲)

په عربي یې ترجمه کړئ:

۱- موسم برابر دی. ۲- ګلان غوړېدلي دي.

۳- کښتونه زرغونه دي. ۴- پاني شنې دي.

۵- شپه یخه ده. ٦- یخ سخت دی.

٧- باد تېز دی.
٨- دروازې بندې دي.
٩- دواړه ګلکينان خلاص دي
١٠- کوچنيان بيده دي.
١١- دواړه چوکيداران ويښ دي
١٢- زينب وږې ده.
١٣- پيشي تږې ده.
١۴- دواړه ګلکينان بند دي.
١۵- انجونې تعليم يافته دي.
١٦- مزدوران مسلمانان دي.
١٧- سرکونه پراخ دي.
١٨- باغونه ګڼ دي.
١٩- آسمان وريځناک دی.
٢٠- تم ځای نژدې دی.
٢١- شاګردان کوښښي دي.
٢٢- ښوونکي مهربانه دي.

## اَلتَّمْرِيْن ﴿٣٣﴾

### (مبتدا چې ضمير وي)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

- اَنَا تِلْمِيْذٌ
٢- اَنْتَ خَطِيْبٌ
- هُوَ شَاعِرٌ
۴- اَنْتُمَا صَدِيْقَانِ
. هُمَا عَالِمَتَانِ
٦- اَنْتُمَا مُسْلِمَتَانِ
٧- هُنَّ صَادِقَاتٌ
٨- هِيَ بَاكِيَةٌ.
٩- هُمَا اَخَوَانِ
١٠- اَنْتِ حَزِيْنَةٌ
١١- هُمْ مُسَافِرُوْنَ
١٢- اَنْتُنَّ صَائِمَاتٌ
١٣- اَنْتُمْ ضُيُوْفٌ
١۴- نَحْنُ مَسْرُوْرُوْنَ

## اَلتَّمْرِيْن ﴿٣۴﴾

په عربي يې ترجمه کړئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

١- تاسي دواړه مېلمانه یاست ٢- زه کوربه یم .
٣- تاسي خلک نېکان یاست. ۴- مور دواړه ملګري یو .
۵- مور مسلمانان یو . ٦- ته رېښتوني یې .
٧- هغوئ دروا غجن دي. ٨- تاسي دواړي ناستي یاست
٩- زه ولاړه یم . ١٠- دوئ دوې بېدې دي .
١١- تاسي ښوونکي یاست. ١٢- دوئ ټولي شاګرداني دي
١٣- تاسي دواړه لوبغاړي یاست ١۴- دوئ دواړي پرمخ ځي .

## اَلتَّمْرِیْن ٣۵

## ( مبتدا چي اسم اشاره (١۴) وي )

---

[١۴]- په عربي ژبه کي د اسم اشاره دپاره لس صیغې استعمالیږي، پنځه د اشاره قریب دپاره او پنځه د اشاره بعید دپاره، په لاندي نقشه کي یې وګورئ :

| | اشاره قریب | | | اشاره بعید | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنیه | جمع | واحد | تثنیه | جمع |
| مذکر | هٰذَا | هٰذَانِ | هٰؤُلَاءِ | ذٰلِکَ | ذَانِکَ | اُولٰئِکَ |
| مؤنث | هٰذِهِ | هَاتَانِ | | تِلْکَ | تَانِکَ | |

اسماء اشاره ټول معرفه وي لکه چي تاسي په شپږم سبق کي ووېل، ځکه نو د مبتدا په توګه هم استعمالیږي لکه چي د فاعل او مفعول لپاره استعمالیږي .
اسم اشاره کله نا کله یوازي مبتدا وي او کله د خپل مشار الیه سره یو ځای مبتدا وي، په دغه صورت کي اسم اشاره موصوف او مشار الیه صفت واقع کیږي، یا دغه دواړه یو ځای د مرکب توصیفي په صورت کي مبتدا کیږي ، د لاندي جملو په فرق کي فکر وکړئ
١: هٰذَا قَلَمٌ (دغه یو قلم دی) .
٢: هٰذَا قَلَمٌ جَمِیْلٌ (دغه یو ښائسته قلم دی ) .
٣: هٰذَا الْقَلَمُ جَمِیْلٌ (دغه قلم ښائسته دی ).
۴: هٰذَا الْقَلَمُ. قَلَمٌ جَمِیْلٌ . (دغه قلم، یو ښائسته قلم دی) .

په پښتو يې ترجمه کړئ :

۱- هٰذَا مَطْبَخٌ وَ هٰذِهِ اَدَوَاتُهُ .

۲- ذٰلِكَ مَوْقِدٌ وَهٰذَا تَنُوْرٌ

۳- هٰذِهِ قِدْرٌ وَ هٰذَا غِطَاءُهَا .

۴- تِلْكَ مِخْبَزَةٌ وَهٰذِهِ مِقْلَاةٌ

۵- هٰذَانِ اِبْرِيْقَانِ وَتِلْكَ جَرَّةٌ .

٦- هَاتَانِ مِلْعَقَتَانِ وَتِلْكَ مِغْرَفَةٌ .

۷- ذَانِكَ قَدَحَانِ وَهٰذِهِ قَصْعَةٌ .

۸- تَانِكَ قَصْعَتَانِ وَهٰذِهِ صُحُوْنٌ .

۹- هٰذِهِ فَنَاجِيْنُ وَتِلْكَ كُئُوْسٌ .

۱۰- هٰؤُلَاءِ طُهَاةُ الْمَطْعَمِ وَاُوْلٰئِكَ خَبَّازُوْنَ

۱۱- اُوْلٰئِكَ خَادِمُوا الْمَقْهٰى وَهٰذَا طَبَّاخٌ .

۱۲- هٰذِهِ اٰنِيَةُ الْمَطْبَخِ وَاَدَوَاتُهُ .

---

په لومړۍ او دوهمه جمله کي "هٰذَا" يوازي مبتدا دی او په دوهمه او دريمه جمله کي "هٰذَا الْقَلَمُ" اشاره او مشارالیه دواړه ګډ مبتدا دي . (...پاته حاشيه په راتلونکي مخ ي)

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن (۳۶)

په عربي ژبه ترجمه کړئ:

۱- دا قلم دی او دغه د هغه نوک دی.
۲- دغه مشواڼۍ ده او هغه د هغې سرپوښ دی.
۳- هغه کتاب دی او دغه کتابچه ده.
۴- هغه توره تخته ده او دغه تباشیر دی.
۵- دغه دواړه ښوونکي دي.
۶- دغه دواړي شاګرداني دي
۷- هغوئ دواړه شاګردان دي او دغه د هغوئ مور و پلار دي.
۸- دغه ټول د دریمي درجې شاګردان دي.
۹- هغه خلک د دارالعلوم ښوونکي دي.
۱۰- هغه ټولي مسلماني انجوني دي.
۱۱- دغه ټولي د انجونو د مدرسې ښوونکي دي.
۱۲- هغه د انجونو مدرسه ده.

## اَلتَّمْرِيْن (۳۷)

(مبتدا د ترکیب توصیفي او ترکیب اضافي په صورت کي)

په پښتو ژبه ترجمه کړئ:

---

(... د تېر سوي مخ پاته حاشیه) همدارنګه خبر هم په لومړۍ او دریمه جمله کي خبر مفرد دی او په دوهمه او څلورمه جمله کي مرکب توصیفي (قَلَمٌ جَمِيْلٌ) خبر دی. دا ډول جملې په عربي ژبه کي ډېري راځي، د مثال په توګه که ته د قلم څخه مبتدا جوړول غواړې نو معرفه یې کړه او که یې خبر جوړول غواړې نو د نکره په صورت کي یې ولیکه.

د غیرذوي العقول د جمع د پاره اسم اشاره واحد مؤنث استعمالیږي ځکه د غیر ذوالعقول جمع د واحد مؤنث په حکم کي وي.

۱- اَلتِّلْمِيْذُ الْمُجْتَهِدُ نَاجِحٌ.

۲- اَلْوَلَدُ اللَّعُوْبُ غَائِبٌ

۳- مَسْجِدُ دَارِ الْعُلُوْمِ جَمِيْلٌ.

۴- مَنَارَتَا الْمَسْجِدِ عَالِيَتَانِ.

۵- هٰذِهِ السَّاعَةُ وَاقِفَةٌ.

٦- عَقْرَبَا السَّاعَةِ لَامِعَانِ.

۷- سبابُ الْمُؤْمِنِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ.

۸- اِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ صَدَقَةٌ.

۹- تِلْكَ الْبَقَرَةُ السَّوْدَاءُ حَلُوْبٌ.

۱۰- هَاتَانِ الشَّجَرَتَانِ، مُثْمِرَتَانِ.

۱۱- ذَانِكَ التِّلْمِيْذَانِ مُجْتَهِدَانِ.

۱۲- أُوْلٰئِكَ الْاَسَاتِذَةُ، عَطُوْفُوْنَ.

## اَلتَّمْرِيْن (۳۸)

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- رښتونی هلک خوښ دی.

۲- کوښښي هلکان کامياب دي

۳- د انسان ژوند ختمېدونکي سايه ده.

۴- مغربي تهذيب لعنت دی.

۵- سپوږمېزه شپې په زړه پورې دي.

٦- د فريد ماما ډاکټر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

٧- ستا دواړه ورونه تجاران دي. ٨- د خالد ملګری وکیل دی.
٩- دغه خونه تاريکه ده. ١٠- دواړه روشندانه بند دي.
١١- ستا خولۍ توره او قميص سپين دی. ١٢- دغه انجوني مسلماني دي

## اَلتَّمْرِيْن ﴿٣٩﴾

(خبر د ترکيب توصيفي او ترکيب اضافي په صورت)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- اَلْاِسْلَامُ دِيْنٌ قَيِّمٌ. ٢- اَلْقُرْآنُ كِتَابُ اللهِ.
٣- اَحْسَنُ الْهَدْيِ، هَدْىُ الْاَنْبِيَاءِ.
٤- خَيْرُ السُّنَنِ، سُنَّةُ مُحَمَّدٍ (صلى الله عليه وسلم).
٥- رَأْسُ الْحِكْمَةِ مَخَافَةُ اللهِ ٦- اَلْهِنْدُ بِلَادٌ خَصِبَةٌ.
٧- اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى.
٨- رَشَادٌ، تِلْمِيْذٌ مُجْتَهِدٌ. ٩- اِقْبَالٌ شَاعِرٌ اِسْلَامِيٌّ.
١٠- هٰذِهٖ سَاعَةٌ ثَمِيْنَةٌ. ١١- ذٰلِكَ قَصْرٌ مَشِيْدٌ.
١٢- اُولٰئِكَ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ. ١٣- هٰذِهٖ تَرْنِيْمَةُ الْاَطْفَالِ.

## اَلتَّمْرِيْن ﴿٤٠﴾

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- دروغ بد عادت دي. ٢- فاطمه ښه انجلۍ ده.

۳- اکبر زړه وړونکی سړی دی.

۴- حامد او هشام کوښښ ناکه هلکان دي.

۵- دغه خلک شرارتي دي.

۶- تاسي اخبارپلورونکي یاست

۷- سپی وفادار حیوان دی.

۸- موټر تېز سپرلی دی.

۹- پیشي د موږکانو ښکاري ده.

۱۰- دوئ دواړه زما د اکا زامن دي.

۱۱- هغه زما د خاله لور ده.

۱۲- دغه ستا د اکا زوی دی.

۱۳- هغه افغانی سفیر دی.

۱۴- دغه خلک مصري نمائندګان دي.

۱۵- دغه یوه عربي رساله ده.

۱۶- هغه سړی د اخبار جوړونکی دی.

۱۷- دغه پاڅون یو دیني پاڅون دی.

۱۸- دغه خلک زموږ د مدرسي معلمان دي.

# اَلدَّرْسُ السابع

## جمله فعلیه

تاسي په شپږم درس کي هم وویل چي جمله فعلیه هغه مرکب تام (جمله مفیده) ته وایي چي په سر کي یې فعل وي، لکه: جَاءَ الْأَمِيْرُ، يَأْكُلُ الْوَلَدُ الْخُبْزَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱. جمله فعليه د فعل، فاعل او مفعول (۱۶) څخه جوړيږي.
۲. فاعل او مفعول دواړه اسمونه وي.
۳. فاعل همېشه مرفوع (پېښ لرونکی) او مفعول همېشه منصوب (زور لرونکی) وي.
۴. په جمله فعليه کي لومړی فعل، بيا فاعل او تر ټولو آخر مفعول راوړل کيږي مګر کله نا کله مفعول تر فاعل مخکي او د ضرورت په وخت کي تر فعل هم مخکي راځي، مګر فاعل تر خپل فعل مخکي نه راځي.

## د فاعل په اعتبار د فعل د تذکير او تانيث او وحدت وجمع قاعده:

۵. که د فعل فاعل اسم ظاهر وي (يعني ضمير نه وي) نو فعل په هر حال کي واحد راځي که څه هم فاعل واحد وي يا تثنيه او جمع وي لکه:

[۱۶]- فعل کار ته وايي، فاعل کار کوونکي ته وايي او مفعول هغه اسم ته وايي چي د فاعل (کارکوونکي) فعل (کار) باندي سوی وي، لکه: ضَرَبَ مَحْمُوْدٌ اَلْحِمَارَ، (محمود خر ووهی)، په دغه مثال کي ضَرَبَ فعل، مَحْمُوْدٌ فاعل او اَلْحِمَارَ مفعول دی، همدارنګه په "يَأكُلُ الوَلَدُ الخُبزَ" کي اَكُلُ فعل، اَلْوَلَدُ فاعل او اَلْخُبْزَ مفعول دی.
لازمي او متعدي: په جمله فعليه کي کله فعل يوازي د خپل فاعل سره پوره مطلب ورکوي او کله د فاعل ماسيوا د مفعول ضرورت هم وي، يعني د مفعول ماسيوا د جملې پوره مطلب نه ښکاره کيږي،هغه ټول افعال چي د فاعل سره خپل مطلب ښکاره کړي فعل لازمي بلل کيږي لکه: جَاءَ الْوَلَدُ. جَرَى الحِصَانُ. تَضحَکُ البِنْتُ.
او هغه افعال چي د فاعل څخه ماسيوا مفعول ته هم ضرورت لري ، متعدي بلل کيږي لکه: اَكَلَ الوَلَدُ الخُبزَ. فَتَحَ الْخَادِمُ البَابَ. قَتَلَ مَحْمُوْدُ الاَسَدَ.

جَاءَ رَجُلٌ　　جَاءَ رَجُلَانِ　　جَاءَ رِجَالٌ

جَاءَتْ اِمْرَاَةٌ　　جَاءَتْ اِمْرَاَتَانِ　　جَاءَتْ نِسَاءٌ

۶. کله چي د فعل فاعل اسم ظاهر نه وي بلکه ضمير وي نو بيا فعل د خپل ضمير مطابق راځي يعني د واحد لپاره واحد، د تثنيه لپاره تثنيه او د جمع لپاره جمع راځي، لکه:

اَلْوَلَدُ قَامَ　　اَلْوَلَدَانِ قَامَا　　اَلْاَوْلَادُ قَامُوْا

پاملرنه! په (قَامَ، قَامَا، قَامُوْا) کي د واحد، تثنيه او جمع ضميرونه دي چي د خپل فعل فاعل دي، او پاته سو الولد، الولدان او الاولاد، نو دا ټول مبتدا دي او فاعل نه دي.

**دفعل تذکير او تانيث!**

۷. د افعالو په تذکير او تانيث کي دا قاعده ده که فاعل مذکر وي نو فعل به هم مذکر وي او که فاعل مؤنث وي نو فعل به هم مؤنث راوړل کيږي لکه چي په پورتنيو مثالونو کي د رجل لپاره جاء فعل مذکر او د امراة لپاره جاءت فعل مؤنث راوړل سوی دی، مګر دا آخري قاعده نه ده، د کتاب په دوهمه برخه کي به په دې اړه نور تفصيل راسي.

۸. که فاعل د غير عاقل جمع وي نو فعل به واحد مؤنث استعماليږي، د دغي قاعدې وجه داده چي د غير عاقل جمع د واحد مؤنث په حکم کي وي، له همدې کبله که مبتدا يا موصوف د غير عاقل جمع وي نو خبر او صفت عمومًا واحد مؤنث راوړل کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن (۴۱)

### (د فعليه جملې تمرين)

په پښتو يې ترجمه کړئ :

۱- اَسْفَرَ الصُّبْحُ. ۲- صَاحَ الدِّيْکُ الصَّائِحُ.

۳- اِسْتَيْقَظَتْ فَاطِمَةُ الصَّغِيْرَةُ.

۴- هَبَّتِ الرِّيْحُ الشَّدِيْدَةُ. ۵- نَزَلَ الْمَطَرُ الْغَزِيْرُ.

٦- حَفِظَ التِّلْمِيْذُ الدَّرْسَ ۷- قَطَفَ مَحْمُوْدٌ زَهْرَةً جَمِيْلَةً

۸- شَرِبَتْ فَاطِمَةُ الْمَاءَ الْبَارِدَ ۹- اَکَلَ الْوَلَدُ الْخُبْزَ الْبَائِتَ.

۱۰- اِشْتَرٰی مَحْمُوْدُنِ الصَّغِيْرُ قَلَمًا ثَمِيْنًا.

۱۱- صَادَ خَالِدُ التِّلْمِيْذُ ظَبْيًا سَمِيْنًا.

۱۲- خَلَقَ اللّٰهُ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى.

## اَلتَّمْرِيْن (۴۲)

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- الله ﷻ نبيان او رسولان رالېږلي دي.

۲- ناشکره بنده د خداى ﷻ نافرماني وکړه.

۳- فرمانبردار هلک د پلار خبره ومنل.

۴- شاګرد ياسر سبق ووايه.

۵- سليم خادم دروازه خلاصه کړل.

٦- زړه ور عسکر زمرى وواژه.
٧- کوښښناکه شاګرد په امتحان کي کامياب سو.
٨- ستا خادمي خوندوره ډوډۍ پخه کړل.
٩- درنو مېلمنو ډوډۍ وخوړل
١٠- شريف کوربه مننه وکړه.
١١- زورور مزدوريو ښاه وکيندى.
١٢- ماهر نجاريوه چوکۍ جوړه کړه.

## اَلتَّمْرِيْن ﴿۴۳﴾

## (فاعل چي اسم ظاهر وي)

(تاسي په اووم سبق کي وويل چي کله فاعل اسم ظاهر وي يعني ضمير نه وي نو فعل په هر حال کي واحد راځي، مګر په تذکير او تانيث کي فعل د خپل فاعل مطابق وي لکه چي په ۴۱، او ۴۲ تمرينونو کي تېر سول).

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- إِنْسَلَخَ شَهْرُ شَعْبَانَ. ٢- أَبْصَرَ رَجُلَانِ الْهِلَالَ.
٣- صَامَ الْوِلْدَانُ الصِّغَارُ الْيَوْمَ.
٤- ذَهَبَ الظَّمَأُ، وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ.
٥- صَلَّى الْمُسْلِمُوْنَ صَلٰوةَ الْعِيْدِ.
٦- سَمِعَتِ الْأَخَوَاتُ خُطْبَةَ الْإِمَامِ.
٧- أَطْعَمَ الْأَغْنِيَاءُ الْمَسَاكِيْنَ الْبَائِسِيْنَ.
٨- تَفَتَّحَتِ الْوَرْدَةُ الْحَمْرَاءُ فِي الْحَدِيقَةِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۹- جَمَعَتِ البِنْتَانِ الأَزْهَارَ الجَمِيلَةَ.

۱۰- كَنَسَتِ الخَادِمَةُ صَحْنَ الدَّارِ.

۱۱- فَازَ الصَّدِيقَانِ فِي سَعْيِهِمَا.

۱۲- نَالَ المُجِدُّونَ الجَوَائِزَ الثَّمِينَةَ.

۱۳- أَفْسَدَتِ الكُتُبُ المَاجِنَةُ أَخْلَاقَ النَّاشِئِينَ.

۱۴- سَمِعَتِ الآذَانُ وَرَأَتِ العُيُونُ وَعَقَلَتِ القُلُوبُ.

## اَلتَّمْرِين (۴۴)

په عربي يې ترجمه كړئ:

۱- لمر ولوېدى او سپوږمۍ راوختل.
۲- د جامع مسجد مؤذن آذان وكړى.
۳- ناروغي عائشې په يخو اوبو اودس وكړى.
۴- روژاتيانو مسلمانانو روژه ماته كړه.
۵- دوارو خويندو د ماښام لمونځ ادا كړى.
٦- دغو انجونو د رمضان روژې ونيولې.
۷- شمع ځلانده سول او تاريكي ختمه سول.
۸- د كابل مسافر په الوتكه كي سپاره سول.
۹- ځيرونكي شرموښ د بزګر پسونه وخوړل.
۱۰- دوارو ورونو يو فتبال رانيوى.
۱۱- د محمود دواړه زامن ناروغ دي.
۱۲- ناروغۍ ډيري سوې او مخلص ډاكتران كم سول.

# الدرس الثامن

## د فعل قسمونه

## (ماضي، مضارع، امر، نهي)

د فعل مشهور قسمونه درې دي: ۱- ماضي، ۲- مضارع، ۳- امر او نهي.

**(۱): فعل ماضي:** فعل ماضي هغه فعل ته وايي چې په تېره سوې زمانه کي د يو کار پر کېدو يا کولو دلالت وکړي لکه: كَتَبَ حَامِدٌ كِتَابًا (حامد يو ليک وليکى).

**(۲): فعل مضارع:** فعل مضارع هغه فعل ته وايي چې په حال (اوسنى) يا مستقبل (راتلونکې) زمانه کي د يو کار پر واقع کېدو دلالت وکړي لکه: يَكْتُبُ حَامِدٌ (حامد لېکل کوي او يا به يې وکړي).

**(۳): فعل امر :** فعل امر د هغه فعل نوم دی چې په هغه کي د يو کار د کولو حکم وکړل سي، لکه: اِقْرَأْ، (ووايه).

**(۴): فعل نهي:** فعل نهي هغه فعل ته وايي چې په هغه کي د يو کار څخه د منعه حکم وکړل سي، لکه: لَاتَقْرَأْ (مه وايه).

پاملرنه! فعل نهي هم د فعل امر يو ډول دی ځکه په دې کي هم په حقيقت کي حکم وي، يوازې دا فرق وي چې په امر کي د يو کار د کولو حکم وي او په نهي کي د يو کار د نه کولو حکم وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

**اثبات او نفي** : که د يو فعل څخه د يو کار کېدل يا کول معلوم سي نو هغه ته اثبات يا فعل مثبت وايي او که د يو فعل څخه د يو کار نه کېدل يا نه کول معلوم سي نو هغه ته نفي يا فعل منفي وايي، فعل منفي د فعل ماضي په سر کي د مَا نافيه او د فعل مضارع په سر کي د لا نافيه په راوړلو سره جوړېږي لکه: ما کتب (نه يې وليکل)، لا يكتب (نه يې ليکي)، همدارنګه په لَمْ او لَنْ هم فعل نفي جوړېږي چي بيان به يې وروسته راسي.

د فعل ماضي څوارلس صيغې دي او همدارنګه د فعل مضارع هم څوارلس صيغې چي په لاندي نقشه کي يې کتلای سئ:

## فعل ماضي

| | غائب | | | حاضر | | | متکلم | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه وجمع |
| مذكر | كَتَبَ | كَتَبَا | كَتَبُوْا | كَتَبْتَ | كَتَبْتُمَا | كَتَبْتُمْ | كَتَبْتُ | كَتَبْنَا |
| مؤنث | كَتَبَتْ | كَتَبَ تَا | كَتَبْنَ | كَتَبْتِ | كَتَبْتُ مَا | كَتَبْتُنَّ | كَتَبْتُ | كَتَبْنَا |

## اَلتَّمْرِيْن ۴۵

## (فاعل چي ضمير وي)

(تاسي په اووم سبق کي ووېل چي کله د فعل فاعل اسم ظاهر وي نو فعل همېشه واحد راځي مګر په تذکير او تانيث کي فعل د خپل فاعل مطابق

وي او په ۴۲، ۴۳ تمرين کي تاسي ولېدل، اوس دوهم صورت ته راځو يعني کله چي د فعل فاعل اسم ضمير وي، په دغه صورت کي فعل د خپل ضمير مطابق وي يعني د واحد لپاره واحد، د تثنيه لپاره تثنيه او د جمع لپاره جمع راځي، په لاندنيو تمرينونو کي يې مشق وکړئ):

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- جَاءَ الْقِطَارُ وَوَقَفَ عَلَى الرَّصِيفِ.

٢- طَارَتِ الْحَمَامَةُ وَجَلَسَتْ عَلَى الشَّجَرَةِ.

٣- خَرَجَ مَحْمُودٌ بِبَنْدُوقِيَّتِهِ وَصَادَ ظَبْيًا.

٤- رَأَتْ فَاطِمَةُ الصَّيْدَ وَفَرِحَتْ.

٥- إِجْتَمَعَتِ الْأَخَوَاتُ وَطَبَخْنَ اللَّحْمَ.

٦- عَجَنَتِ الْبِنْتَانِ وَخَبَزَتَا الْخُبْزَ.

٧- دَعَوْتُ الْإِخْوَانَ وَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِمْ.

٨- أَسْرَعَ الْخَادِمَانِ وَأَحْضَرَ الطَّعَامَ.

٩- جَاءَ الضُّيُوفُ وَجَلَسُوا حَوْلَ الْمَائِدَةِ.

١٠- جَلَسْنَا مَعَ الضُّيُوفِ وَأَكَلْنَا مَعَهُمْ.

١١- شَرِبْتُمُ الْمَاءَ الْبَارِدَ وَارْتَوَيْتُمْ.

١٢- صَنَعْتِ الشَّايَ فَأَحْسَنْتِ الصُّنْعَ.

١٣- كَفَرْتُمَا زَوْجَيْكُمَا وَعَصَيْتُمَا اللهَ.

١٤- سَمِعْتُنَّ كَلَامَ اللهِ وَبَكَيْتُنَّ.

Maktaba Tul Ishaat.com

١٥- أَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا.

١٦- حَفِظْتَ شَيْئًا وَّغَابَتْ عَنْكَ اَشْيَاءُ.

## اَلتَّمْرِيْن ﴿٤٦﴾

خالي ځايونه ډک کړئ:

١- تَغَنَّمَتِ السَّمَاءُ وَ ........... مَطَرًا كَثِيْرًا.

٢- ............... رِيْحٌ عَاصِفٌ وَقَلَعَتِ الْاَشْجَارُ.

٣- اَطْلَقَ خَالِدٌ الْبُنْدُوْقِيَّةَ وَ ........... حَمَامَةً.

٤- ........... حَامِدٌ وَمَحْمُوْدٌ مَرْكَبَةً وَرَكِبَا عَلَيْهَا.

٥- غَيَّرَ ........... اُوْلٰئِكَ مَلَابِسَهُمْ وَ ........... اِلَى الْمُصَلّٰى.

٦- .......... اَلْبَنَاتُ الدَّقِيْقَ وَطَبَخْنَ الرَّغِيْفَ.

٧- تَوَضَّأَتِ الْبِنْتَانِ وَ ............. صَلٰوةَ الْفَجْرِ.

٨- ............ اَلصَّدِيْقَانِ بَعْدَ مُدَّةٍ وَتَعَانَقَا.

٩- دَخَلَ عَلَى الْاَمِيْرِ رِجَالٌ وَ ............ طَوِيْلًا.

١٠- ........... اَيَّامُ السُّرُوْرِ بِسُرْعَةٍ عَجِيْبَةٍ.

## اَلتَّمْرِیْن (۴۷)

په عربي یې ترجمه کړئ :

۱- حامد آذان واورېدی او هلکان یې راکښېنول.
۲- دوو کوچنیانو پېشلمی وکړی او روژه یې ونېول.
۳- دغو دوو ښځو ډوډۍ پخه کړه او په مسکینانو یې وخوړل.
۴- تاسي دواړه هلمند ته ولاړاست او ښار مو ولېدی.
۵- دغو خلکو حج ادا کړی او د مسجد نبوي زیارت یې وکړی.
۶- د مدرسة البنات انجوني په بس کي سپرې سوې او مدرسې ته ولاړې.
۷- موږ ټکټ رانیوی او په اورګاډه کي سپاره سوو.
۸- تاسي دواړو ښځو عربي ویل زده کړل.
۹- تاسي ټولو ښځو خپلو بچیانو ته ادب وښودی.
۱۰- تا خپلو ملګرو ته د چایو بلنه ورکړه.
۱۱- ما د هغوئ په مخکي تقریر وکړی او هغوئ مي اسلام ته راوبلل.
۱۲- فاطمه بازار ته ولاړل او یوه ناوکۍ یې رانیول.
۱۳- تا یوې ښځي قرآن ووایه او په سنت دي عمل وکړی.
۱۴- خالد او هشام غسل وکړی او خپلي جامې یې پرېولې.
۱۵- د څلورم ټولګۍ هلکانو تقریر وکړی او انعام یې تر لاسه کړی.
۱۶- شتمنو مسلمانانو په مسکینانو ډوډۍ وخوړل او په هغوئ یې جامې واغوستې.

Maktaba Tul Ishaat.com

# الدرس التاسع (۱)

## فعل مضارع

د فعل ماضي په ډول فعل مضارع هم څوارلس صیغې لري، په دغه فعل کي د حال او استقبال دواړي زمانې وي، دغه فعل د ماضي څخه جوړيږي او په سر کي يې د (ا، ت، ي، ن) څخه د يو حرف راتلل ضروري دي، دغه څلور حروف د فعل مضارع علامه بلل کيږي، د فعل مضارع د جوړولو قاعده د صرف په يو کتاب کي وګورئ، لاندي د فعل مضارع د څوارلس صيغو نقشه وګورئ:

| | غائب | | | حاضر | | | متكلم | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه | جمع | واحد | تثنيه و جمع |
| مذكر | يَكْتُبُ | يَكْتُبَانِ | يَكْتُبُوْنَ | تَكْتُبُ | تَكْتُبَانِ | يَكْتُبْنَ | أَكْتُبُ | نَكْتُبُ |
| مؤنث | تَكْتُبُ | تَكْتُبَانِ | تَكْتُبُوْنَ | تَكْتُبِيْنَ | تَكْتُبَانِ | تَكْتُبْنَ | أَكْتُبُ | نَكْتُبُ |

### اَلتَّمْرِيْن (۴۸)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- يَقْطِفُ الْوَلَدُ الزَّهْرَةَ وَيَشُمُّهَا.

۲- تُحِبُّ فَاطِمَةُ الْقِطَّ وَتَلْعَبُ مَعَهَا.

٣- يَلْعَبُ الْوَلَدَانِ كُرَةَ الْقَدَمِ وَيَمْرَحَانِ.

٤- يُطْلِقُ الصَّيَّادُوْنَ الْبَنَادِقَ وَيَصِيْدُوْنَ الطُّيُوْرَ.

٥- تَخْدِمُ الْبِنْتَانِ أَبَوَيْهِمَا وَتَمْتَثِلَانِ أَمْرَهُمَا.

٦- تَتَجَمَّلُ الْأَفْرَنْجِيَاتُ بِالْمَلَابِسِ وَيَخْرُجْنَ سَافِرَاتٍ.

٧- تَخْرُجُ إِلَى السُّوْقِ وَتَشْتَرِي الْحَوَائِجَ.

٨- يَمْحَقُ اللهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ.

٩- تَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ.

١٠- تَسْتَيْقِظَانِ صَبَاحًا وَتَخْرُجَانِ إِلَى الْبَسَاتِيْنِ.

١١- تَذْكُرِيْنَ اللهَ وَتَشْكُرِيْنَ نِعَمَهُ.

١٢- تَعْرِفْنَ اللهَ وَتَسْتَعِنَّ فِي فِعْلِ الْخَيْرَاتِ.

١٣- أُحِبُّ كَرِيْمَ الطِّبَاعِ وَأَكْرَهُ سَيِّئَ الْأَخْلَاقِ.

١٤- نَتَّبِعُ السُّنَّةَ وَنَكْرَهُ الْغُلُوَّ فِي الدِّيْنِ.

## اَلتَّمْرِيْن (٤٩)

خالي ڄايون ڀريو :

١- ......... الْبَرْقَ وَيَخْطَفُ الْأَبْصَارَ.

٢- تَخَافُ الْبِنْتُ الْقِطَّ وَ......... مِنْهُ.

٣- ......... الصَّيَّادَانِ الشَّبَكَةَ وَيَصِيْدَانِ السَّمَكَ.

٤- يُحِبُّ الْأَغْنِيَاءُ السُّمْعَةَ وَ...... أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيْلِهَا.

Maktaba Tul Ishaat.com

٥- ....... البِنْتَانِ الدَّقِيْقَ وتَخْبِزَانِ الرَّغِيْفَ.

٦- تُوْقِدُ البَنَاتُ الْمَوْقِدَ وَ....... اللَّحْمَ.

٧- ....... فِي الحَدِيقَةِ وتَقْطُفُ الأَزْهَارَ.

٨- ....... تَرْكَبَانِ الدَّرَاجَةَ وَ....... إِلَى المَدْرَسَةِ.

٩- ....... إِلَى النَّهْرِ وَتَتَعَلَّمُوْنَ السِّبَاحَةَ.

١٠- تَطْبَخْنَ الطَّعَامَ وَ....... ثِيَابَ أَوْلَادِكُنَّ.

١١- ....... الدَّرَاجَةَ وَارْكَبْ عَلَيْهَا.

١٢- نَخْرُجُ إِلَى الْبَسَاتِيْنِ وَ.......

## اَلتَّمْرِيْن (٥٠)

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- لمر لويږي او تاريکي خپرېږي.

٢- فاطمه ډېوه بلوي او خپل سبق يادوي:

٣- حامد او محمود د بازار څخه راګرځي او کور ته ننوزي.

٤- فاطمه او صفيه ولاړيږي او سلام کوي.

٥- مسلماني ښځي قرآن وايي او په سنت عمل کوي.

٦- د پنځم ټولګي شاګردان مقالې ليکي او تقريرونه کوي.

٧- تاسي دواړه په لوبو کي خپل وخت ضائع کوئ.

٨- ته د مسکينانو مرسته کوې او د اجرو ګرځې.

٩- تاسي خلک ټوله ورځ په کارخانه کي کار کوئ.

١٠- تاسي ښځي د خپلو اولادونو روزنه کوئ.

١١- ته سخت کار کوې او ستړی کيږې.

١٢- زه هره ورځ سهار وختي پاڅیږم.

١٣- د فرید دواړه زامن فصیحه عربي وايي.

١۴- موږ د الله ﷻ بندګان یو او د هغه څخه مرسته غواړو.

## اَلتَّمْرِيْن ٥١

### (فعل منفي)

په پښتو یې ترجمه کړئ:

١- لَايَبْخَلُ الْكَرِيْمُ بِمَالِهِ.

٢- لَاتَدُوْمُ صَدَاقَةُ اللَّئِيْمِ.

٣- لَايَأْمَنُ الْعُجُوْلُ مِنَ الْعِثَارِ.

۴- تَتَغَيَّمُ السَّمَاءُ وَلَاتُمْطِرُ.

٥- مَارَبِحَتْ تِجَارَتُنَا فِي الْعَامِ الْمَاضِي.

٦- مَا حَرَثَ الْفَلَّاحُوْنَ اَرْضَهُمْ وَمَا بَذَرُوْا.

٧- مَاعَابَ رَسُوْلُ اللهِ طَعَامًا قَطُّ.

٨- مَا جَعَلَ اللهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ.

٩- مَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ.

١٠- تَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَلَاتَخَافُوْنَ اللهَ.

١١- لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُوْنَ اَبَدًا.

١٢- تَجْرِيْ الرِّيَاحُ بِمَالَا تَشْتَهِي السُّفُنُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۵۲

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- الله ﷻ په مځکه کي فساد نه خوښوي.
۲- تاسي دواړه پر ټاکلي وخت نه راغلاست.
۳- ستا پلار د هرات څخه بېرته نه راغلی.
۴- تاسي خپل سبقونه ياد کړي نه دي.
۵- زه هيڅکله پر اوښ سپور سوی نه يم.
۶- ته سهار وختي نه پاڅيږې.
۷- فاطمه د خپل کتاب ساتنه نه کوي.
۸- نېکي هيڅکله نه ضائع کيږي.
۹- زه په هيڅ امتحان کي ناکام سوی نه يم .
۱۰- تاسي ټول خپل سبق نه يادوي .
۱۱- ښه هلکان د مدرسې څخه نه غير حاضر کيږي.
۱۲- ښه هلکان د بدو کسانو سره لوبي نه کوي.
۱۳- مسلماني ښځي بې پرده نه وځي.
۱۴- موږ فحش کتابونه نه مطالعه کوو .

# الدرس التاسع (۲)

## فعل مستقبل

تاسي په نهم سبق کي وويل چي په فعل مضارع کي د حال او استقبال دواړي زماني موجود وي، لاندي د فعل مستقبل ځيني جملې لیکل کیږي چي ترجمه یې په فعل مضارع کیږي.

کله پر مضارع (س) او (سوف) هم داخلیږي، د (س) تر داخلېدو وروسته د فعل مضارع معنی د مستقبل لپاره خاصیږي، (س) د مستقبل قریب (نژدې راتلونکي) او (سوف) د مستقبل بعید (لیري راتلونکي) لپاره راوړل کیږي، مثالونه:

۱: سَأُهْدِيْ إِلَيْکَ کِتَابًا مُمْتِعًا.

(ډېر ژر به زه تا ته یو ګټور کتاب په تحفه کي ورکړم).

۲: سَتَلْعَبُ فِرْقَتُنَا غَدًا.

(سبا به زموږ لوبډله لوبه وکړي).

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۵۳

په عربي ژبه ترجمه کړئ :

۱- زه به په عربي ژبه تقرير وکړم.
۲- زما پلار به ډېر ژر ما ته يو انعام راکړي.
۳- مور د دوارو سږ کال په رخصتيو کي کور ته نه ځو.
۴- محمود او اسلم سبا په الوتکه کي سفر کوي.
۵- زه د نن ماښام په اورګاډه کي دهلي ته ځم.
۶- فاطمه د خپلي مور سره يو واده ته ځي.
۷- ستا باغ به سږ کال ښه مېوه وکړي.
۸- مور راتلونکی کال په خپل باغ کي د آمونو درختي لګوو.
۹- ستا کوښښ پالتو ځي.
۱۰- تاسي به د خپل کوښښ صله تر لاسه کړئ.
۱۱- نن اورګاډه يو ساعت ناوخته راځي.
۱۲- تاسي به د اورګاډي تر وخت مخکي ورسيږئ.
۱۳- سږ کال به ګرمي سخته وي.
۱۴- ته د خپل پلار سره د کعبې شريفي زيارت کوې.
۱۵- د غه خلک د ظلم څخه نه منعه کيږي.
۱۶- الله جلّ جلاله مشرکان نه بخښي.

# الدرس التاسع (۳)

په ځینو ژبو کي داسي افعال هم وي چي د استمرار (تسلسل)
معنی پکښې وي مګر په عربي ژبه کي د استمرار لپاره یو ځانګړی
فعل نسته ځکه نو کله یې ترجمه په فعل مضارع او کله په اسم فاعل
سره کیږي، لاندي جملو ته غور وکړئ:

يَذْهَبُ مَحْمُوْدٌ إِلَى السُّوْقِ. مَحْمُوْدٌ ذَاهِبٌ إِلَى السُّوْقِ.

تُمْطِرُ السَّمَاءُ اَلسَّمَاءُ مُمْطِرَةٌ.

اَلطِّفْلُ نَائِمٌ. تَحْفَظُ فَاطِمَةُ الدَّرْسَ.

=======

## اَلتَّمْرِيْن ۵۴

په عربي یې ترجمه کړئ (د فعل مضارع په معنی):

۱- زه خپل پلار ته یو لیک لیکم.

۲- فاطمه په خپلي ناوکۍ لوبي کوي.

۳- دغه هلکان ګلان ټولوي.

۴- زما مور زما لپاره ډوډۍ پخوي.

۵- محمود خپل سبق وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦- دغه هلکان خپلې مدرسې ته ځي.

٧- دوه مزدوران ښاه کينډي.

٨- دغه نجاران چوکۍ جوړوي.

٩- حامد په عربي ژبه تقرير کوي.

١٠- عائشه د قرآن کريم تلاوت کوي.

١١- بوډۍ خادمه غولۍ جارو کوي.

١٢- د محمود مزدور غوا لويشي.

١٣- تاسې دواړې ډوډۍ پخوئ.

١٤- ته زما سره پر يوه معمولي خبره جګړه کوې.

١٥- دا د موټرانو تم ځای دی.

١٦- شپانه غزلې وايي او خوشحاله وي.

# الدرس العاشر

## (فعل مجهول، نائب فاعل)

تاسي به د صرف او نحو په کتابونو کي د فعل معروف او فعل مجهول تعریفونه ویلي وي، هغه فعل چي فاعل يې معلوم وي، فعل معروف بلل کیږي او هغه فعل چي فاعل يې معلوم نه وي، فعل مجهول بلل کیږي، تر دې وخته چي د فعلیه جملې څومره تمرینونه تېر سوي دي، هغه ټول د فعل معروف تمرینونه وه، اوس د فعل مجهول ځیني تمرینونه راوړو، په دې اړه ځیني خبري د یادوني وړ دي !

۱. په فعل مجهول کي فاعل نه وي مګر د هغه پر ځای مفعول به د هغه قائم مقام وي چي نائب فاعل ورته وايي.

۲. نائب فاعل همېشه اسم وي او مرفوع (پېښ لرونکی) وي.

۳. د فعل مجهول د تذکیر، تانیث، جمع او تثنیه لپاره د نائب فاعل لحاظ کیږي لکه چي په فعل معروف کي د حقیقي فاعل لحاظ وي.

لاندي د ماضي مجهول او مضارع مجهول صیغي لیکل کیږي، د جوړولو قاعده يې داده چي:

۱. د ماضي معروف لومړي حرف ته ضمه او د آخر څخه مخکي حرف ته کسره ورکړه نو ماضي مجهول به جوړه سي، لکه د : ضَرَبَ زَيْدٌ حَامِدًا، څخه، ضُرِبَ حَامِدٌ. او داسي نور، دا د ثلاثي

Maktaba Tul Ishaat.com

مجرد قاعده ده، د ثلاثي مزيد او رباعي مزيد په ماضي کي د آخر څخه مخکي حرف ته کسره او پاته متحرک حروفو ته ضمه ورکول کيږي، مګر د ماضي آخري حرف په هر حال کي مفتوح وي.

٢. د مضارع معروف لومړي حرف ته ضمه او د آخر څخه مخکي حرف ته فتحه ورکولو سره مضارع مجهول جوړيږي ، لکه د: يَضْرِبُ زَيْدٌ حَامِدًا، څخه ، يُضْرَبُ حَامِدٌ . او داسي نور...

| | | غائب | حاضر | متكلم |
|---|---|---|---|---|
| ماضي مجهول | مذکر | ضُرِبَ، ضُرِبَا، ضُرِبُوْا | ضُرِبْتَ، ضُرِبْتُمَا، ضُرِبْتُمْ | ضُرِبْتُ |
| | مؤنث | ضُرِبَتْ، ضُرِبَتَا، ضُرِبْنَ | ضُرِبْتِ، ضُرِبْتُمَا، ضُرِبْتُنَّ | ضُرِبْنَا |

| | | غائب | حاضر | متكلم |
|---|---|---|---|---|
| مضارع مجهول | مذکر | يُضْرَبُ، يُضْرَبَانِ، يُضْرَبُوْنَ | تُضْرَبُ، تُضْرَبَانِ، تُضْرَبُوْنَ | اُضْرَبُ |
| | مؤنث | تُضْرَبُ، تُضْرَبَانِ، تُضْرَبْنَ | تُضْرَبِيْنَ، تُضْرَبَانِ، تُضْرَبْنَ | نُضْرَبُ |

پاملرنه! د فعل لازم څخه فعل مجهول نه جوړيږي ځکه د فعل لازم مفعول نه وي چي د فاعل قائم مقام سي، مګر داسي افعال چي د باء په داخلولو سره متعدي جوړيږي د هغو فعل مجهول همدارنګه وي لکه: ذَهَبَ بِهِ زَيْدٌ، (زيد هغه بوتلى)، ذُهِبَ بِهِ (هغه بوتلل سو).

# اَلتَّمْرِيْن ۵۵

## (ماضي مجهول)

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- سُرِرْتُ بِنَجَاحِكَ فِي الْاِمْتِحَانِ.
۲- حُصِدَ الزَّرْعُ فِي اَوَائِلِ الرَّبِيْعِ.
۳- جُرِحَ اِبْنَا مَحْمُوْدٍ وَحُمِلَا اِلَى الْمُسْتَشْفٰى.
۴- حُرِمَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ اَكْلُ الرِّبٰوا وَمُنِعُوْا عَنِ الْاِرْتِشَاءِ.
۵- اُمِرَتْ نِسَاءُ الْمُسْلِمِيْنَ بِالْحِجَابِ وَحُظِرْنَ مِنَ السُّفُوْرِ.
۶- قُطِعَتْ يَدُ السَّارِقِ جَزَاءً بِمَا سَرَقَ.
۷- بُعِثَ مُوْسٰى اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَائِهٖ.
۸- زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ.
۹- وَمَا اُمِرُوْا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ.
۱۰- وَمَا اُوْتِيْتُمْ مِنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا.
۱۱- قُبِضَ عَلَى لِصَّيْنِ وَسِيْقَ بِهِمَا اِلٰى مَحَلِّ الشُّرْطَةِ.
۱۲- بُهِتَ الْكَاذِبُوْنَ حِيْنَ سُئِلُوْا.

Maktaba Tul Ishaat.com

## التمرين ۵٦

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- عمر فاروق د يو مجوسي غلام په لاس شهيد کړل سو.
۲- تر حضرت عمر وروسته حضرت عثمان خليفه وټاکل سو
۳- د بدر په غزا کي د قريشو لوی لوی مشران ووژل سول.
۴- تر هجرت مخکي پر مسلمانانو ډېر ظلم وکړل سو او هغوئ خپلو کورونو څخه وايستل سول.
۵- د مکې د فتح په ورځ ټول قريش معاف کړل سول.
۶- کعبه شريفه د بتانو څخه پاکه کړل سول.
۷- د ابوبکر صديق په زمانه کي قرآن کريم په يوه صيحفه کي جم کړل سو.
۸- په دريم هجري کال شراب حرام کړل سول.
۹- د احد په غزا کي حضرت حمزه شهيد کړل سو.
۱۰- مسلماني ښځې د وېر کولو څخه منع سوي دي.
۱۱- برايي شپه زما باسکل غلا کړل سو او غل ونه نيول سو.
۱۲- دغو انجونو ته د پردې حکم وسو او د بازار تګ څخه منع سوې.
۱۳- دواړو قاتلانو ته د دار حکم ورکړل سو او په دار کړل سول.
۱۴- د دوهم ټولګی شاګردان راوغوښتل سول او پوښتني ور څخ وسوې.

## التمرين ٥٧

### (مضارع مجهول)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ مَرَّتَيْنِ.
٢- لَا يُدْرَكُ الْمَجْدُ إِلَّا بِتَضْحِيَّةٍ.
٣- يُخْتَبَرُ الصَّدِيْقُ عِنْدَ بَلِيَّةٍ.
٤- تُعْرَفُ مَوَاهِبُ الرَّجُلِ بِحُسْنِ اِخْتِيَارِهِ.
٥- تُفْتَحُ الدَّكَاكِيْنُ فِي السَّاعَةِ الْعَاشِرَةِ.
٦- تُغْلَقُ الْمَدَارِسُ لِعُطْلَةِ الصَّيْفِ فِيْ مَايُو.
٧- يُزْرَعُ الْقَمْحُ فِي الْخَرِيْفِ وَيُحْصَدُ فِي الرَّبِيْعِ.
٨- تُصْنَعُ الْاَحْذِيَةُ مِنَ الْجِلْدِ.
٩- يُطْحَنُ الْقَمْحُ فِي الرَّحٰى اَوِ الطَّاحُوْنِ.
١٠- سَتُرْسَلُ الْكُتُبُ بِالطَّيَّارَةِ.
١١- يُكْرَمُ اَبُوْكَ اَيْنَ حَلَّ وَسَارَ.
١٢- يُقَاتِلُوْنَ الْمُجَاهِدُوْنَ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۵۸

په عربي ژبه ترجمه کړئ:

۱- درخته د خپلي میوې څخه پېژندل کېږي.
۲- انسان په خپل سیرت (کړني) پېژندل کېږي.
۳- په مصر کي پمبه کرل کېږي.
۴- په دغه کښت کي سرسو (شړشم) ربېل کېږي.
۵- زما باغ د ویالې په اوبو اوبه کېږي.
۶- د افغانستان په ډېرو ولایتونو کي غنم کرل کېږي.
۷- عربي ژبه په ډېرو هیوادونو کي ویل کېږي.
۸- الماری د لرګیو څخه جوړېږي.
۹- د قیامت په ورځ به د هر چا سره حساب وکړل سي.
۱۰- نېکانو ته د نیکۍ او بدو ته د بدۍ بدله ورکول کېږي.
۱۱- مجرمانو ته د هغوئ د جرم په وجه سزا ورکول کېږي.
۱۲- زموږ په مدرسه کي به ډېر ژر یوه جلسه جوړه سي.
۱۳- کامیابو شاګردانو ته به انعامونه ورکړل سي.
۱۴- احمد او خالد به ډېر ژر ووهل سي.

# الدرس الحادي عشر

## (ماضي بعيد او ماضي استمراري)

د فعل ماضي دوه قسمونه نور دي: ماضي بعيد او ماضي استمراري.

۱: د فعل ماضي په سر کي د (كَانَ) په راوړلو سره فعل ماضي بعيد جوړيږي لكه د: ذَهَبَ څخه كَانَ ذَهَبَ (هغه تللى وو)، د ذَهَبُوْا څخه كَانُوْا ذَهَبُوْا (هغوئ تللي وه).

۲: همدارنګه که د مضارع په سر کي د(كَانَ) لفظ راوړل سي نو ماضي استمراري جوړيږي، لكه د يَذْهَبُ څخه كَانَ يَذْهَبُ (هغه به تلى)، د يَذْهَبُوْنَ څخه كَانُوْا يَذْهَبُوْنَ (هغوئ به تلل)، پوره صيغې يې په لاندي توګه دي:

| فعل ماضي بعيد | | | |
|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع |
| مذكر غائب | كَانَ ذَهَبَ | كَانَا ذَهَبَا | كَانُوْا ذَهَبُوْا |
| مؤنث غائب | كَانَتْ ذَهَبَتْ | كَانَتَا ذَهَبَتَا | كُنَّ ذَهَبْنَ |
| مذكر حاضر | كُنْتَ ذَهَبْتَ | كُنْتُمَا ذَهَبْتُمَا | كُنْتُمْ ذَهَبْتُمْ |
| مؤنث حاضر | كُنْتِ ذَهَبْتِ | كُنْتُمَا ذَهَبْتُمَا | كُنْتُنَّ ذَهَبْتُنَّ |

Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| متکلم | كُنْتُ ذَهَبْتُ | كُنَّا ذَهَبْنَا | كُنَّا ذَهَبْنَا |

| فعل ماضي استمراري | | | |
|---|---|---|---|
| | واحد | تثنيه | جمع |
| مذكر غائب | كَانَ يَذْهَبُ | كَانَا يَذْهَبَانِ | كَانُوا يَذْهَبُونَ |
| مؤنث غائب | كَانَتْ تَذْهَبُ | كَانَتَا تَذْهَبَانِ | كُنَّ يَذْهَبْنَ |
| مذكر حاضر | كُنْتَ تَذْهَبُ | كُنْتُمَا تَذْهَبَانِ | كُنْتُمْ تَذْهَبُونَ |
| مؤنث حاضر | كُنْتِ تَذْهَبِيْنَ | كُنْتُمَا تَذْهَبَانِ | كُنْتُنَّ تَذْهَبْنَ |
| متکلم | كُنْتُ اَذْهَبُ | كُنَّا نَذْهَبُ | كُنَّا نَذْهَبُ |

پاملرنه! په ماضي بعيد او ماضي استمراري دوارو کي د کان فعل ماضي وي لکه چي په پورتنيو نقشونو کي دي.

همدارنګه که ماضي بعيد او ماضي استمراري مجهول وي نو بيا هم کان د پورتنيو نقشونو په ډول راځي لکه: كَانَ كُتِبَ ، كَانَ يُكْتَبُ.

❖❖❖

## اَلتَّمرِين ٥٩

### (ماضي بعيد)

په پښتو یې ترجمه کړئ:

١- كُنْتُ تَلَقَّيْتُ كِتَابَكَ مُنْذُ اُسْبُوْعٍ.
٢- كُنْتُ رَاَيْتُكَ فِيْ مَدِيْنَةِ كَابُول.
٣- كُنَّا زُرْنَا بَيْتَ اللهِ فِي العَامِ المَاضِي.
٤- كُنْتُمَا جَرَحْتُمَا فِي سَاحَةِ الحَرْبِ.
٥- كَانَ قُتِلَ كَثِيْرٌ مِنَ الْاَعْدَاءِ.
٦- كُنْتُنَّ حَزِنْتُنَّ بِفَقْدِ اَبِيْكُنَّ.
٧- مَا كُنْتَ عَرَفْتَنِيْ وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ عَرَفْتُكَ.
٨- كُنَّا خَرَجْنَا اِلَى الغَابَةِ وَصِدْنَا الطُّيُوْرَ.
٩- كُنْتُمْ اُخْرِجْتُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَحُرِمْتُمْ مِنْ اَمْوَالِكُمْ.
١٠- مَا كَانَ عُوْقِبَ اَحَدٌ مِنْ تَلَامِيْذِ الصَّفِّ الْاَوَّلِ.
١١- مَا كُنْتُمْ حَفِظْتُمْ دُرُوْسَكُمْ فَضُرِبْتُمْ.
١٢- كُنْتُنَّ ذَهَبْتُنَّ اِلَى الْمُصَلّٰى يَوْمَ الفِطْرِ.

## اَلتَّمرِين ٦٠

په عربي یې ترجمه کړئ:

١- ما ستا مقاله ویلې وه.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- ما تېره اونۍ تا ته ليک لېکلی وو.

۳- تا تر دې وړاندي خرقه شريفه ليدلی نه وه.

۴- موږ د واړه په رخصتيو کي کور ته تللي نه وو.

۵- ما تېر کال هم ستا سره ليدلي وه.

٦- دغو دواړو زه نه وپېژندلم.

۷- تاسي زما ډېر درناوی کړی وو.

۸- فاطمه زما سره پرون بازار ته تللې وه.

۹- هغې د ځان لپاره يوه ناوکۍ رانېولې وه.

۱۰- تاسي ښځو زما تقرير اورېدلی وو.

۱۱- ما خلک د نېکۍ په لور رابللي وه.

۱۲- هغه خلک تر آذان مخکي ويښ سوي وه.

۱۳- تاسي پرون ډوډۍ ته بلل سوي واست.

۱۴- تېر کال د اختر لمونځ په جامع مسجد کښ ادا سوی وو.

## اَلتَّمْرِيْن ٦١

## (ماضي استمراري)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- كُنْتُ اَسْتَيْقِظُ صَبَاحًا وَاَتْلُوْ الْقُرْآنَ.

۲- كُنْتُ اَسْمَعُ تَغْرِيْدَ الطُّيُوْرِ عَلَى الاَغْصَانِ.

۳- كَانَ يَسْكُنُ مَعِيْ رَجُلَانِ مِنْ اَهْلِ الْقَرْيَةِ.

۴- وَكَانَا يَعْمَلَانِ فِيْ مَعْمَلٍ وَكُنْتُ اَتَعَلَّمُ فِي الْكُلِّيَّةِ.

۵- كَانَ يَحْرُثُ قَرَوِيٌّ اَرْضَهُ وَيُغَنِّيْ.

٦- كُنَّا نَخْرُجُ إِلَى الْبُسْتَانِ وَنَنْشِقُ الْهَوَاءَ.

٧- كَانَتْ تَرْقَعُ أُمِّي ثِيَابِي وَتَطْبَخُ لِي الطَّعَامَ.

٨- كَانَتْ تَذْهَبُ أُخْتَايَ إِلَى الْمَدْرَسَةِ وَتَتَعَلَّمَانِ.

٩- كَانَتْ تَقْطِفُ الْبَنَاتُ الأَزْهَارَ وَيُفْرِحْنَ.

١٠- كُنَّ يَسْمَعْنَ الْخُطْبَةَ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ.

١١- كُنْتِ تَبْكِيْنَ عَلَى وَلَدِكَ وَتَذْكُرِيْنَ حِوَارَهُ.

١٢- كُنْتُنَّ تَحْمِلْنَ الْجِرَارَ وَتَسْقِيْنَ الْجَرْحٰى.

## اَلتَّمْرِيْن ٦٢

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- زه د غه باغ ته هره ورځ د تفریح لپاره راتلم.

٢- په دغه کور کي يو ايراني تجار اوسېدی.

٣- هغه به زما سره کله په عربئ او کله په فارسي خبري کولې.

٤- زما خور زما سره ډېره مینه کول.

٥- موږ دواړه يو ځای لوبي کولې.

٦- په اسلامي خلافت کي د غله لاس پرې کېدی.

٧- شراب څښونکي په دُرو وهل کېدل.

٨- پرون ډېر تېز باران اورېدی.

٩- فاطمې د قرآن کريم تلاوت کوی.

١٠- تا د مېلمنو لپاره ډوډی پخول.

١١- په دغه کښنت کي پرون يو طاوس نڅا کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۲- تاسي دوارو په وياله کي لامبو زده کول.

۱۳- مورږ د يوه ساعت څخه ستا انتظار کوی.

۱۴- تاسي ښځو د قرآن کريم درس اوريدی.

# الدرس الحادي عشر (۲)

## (ماضي استمراري منفي)

څرنګه چي په فعل ماضي بعيد کي دواړه فعلونه ماضي وي ځکه نو د هغو په سر کي د ما نافيه په راوړلو سره د قاعدې مطابق د مثبت څخه منفي جوړيږي لکه د "كُنْتُ ذَهَبْتُ" څخه" مَا كُنْتُ ذَهَبْتُ" (زه تللی نه وم).

مګر په ماضي استمراري کي " كان" فعل ماضي او وروسته فعل، فعل مضارع وي ځکه نو د منفي صيغو جوړولو دوې طريقې دي:

۱: دا چي د "كان" په سر کي مَا نافيه راوړل سي لکه: "مَاكَانَ يَلْعَبُ" هغه لوبي نه کولې.

۲: دوهمه طريقه دا ده چي د "كان" وروسته د دوهم فعل په سر کي لاء نفي راوړل سي لکه: كَانَ لَايَلْعَبُ (هغه لوبي نه کولې).

=========

### اَلتَّمْرِيْن ٦٣

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- مَا كَانَ يَذْهَبُ مَحْمُوْدٌ إِلَى الْمَدْرَسَةِ.

۲- كَانَ لَا يَحْفَظُ اِبْنُكَ دَرْسَهُ.

۳- مَا كُنْتُمْ تَلْعَبُوْنَ فِي الْمُبَارَاةِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۴- كُنْتُمْ لَا تُحْسِنُوْنَ السِّبَاحَةَ مِنْ قَبْلُ.

۵- مَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتَابٍ.

٦- كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوْهُ.

۷- مَا كُنْتِ تَلْعَبِيْنَ مَعَ أَتْرَابِكِ.

۸- كُنْتِ لَا تَقْبَلِيْنَ الْهَدِيَّةَ مِنْ أَحَدٍ.

## اَلتَّمْرِيْن ٦۴

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- زه په فارسي ژبه نه پوهېدم.

۲- هغوئ ټول په عربي ژبه نه پوهېدل.

۳- زه په امتحان کي ناکام سوی نه وم.

۴- موږ پر هیڅا ظلم نه کوئ.

۵- تاسي زموږ سره د سیر لپاره وتلې نه واست.

٦- زما اکا په اورګاډه کي نه سپرېدی.

۷- زما خادم هیڅ شی نه غلا کوی.

۸- تا مخکي بنه ډوډۍ نه پخول.

۹- زما پلار هیڅ سوالګر نه منعه کوی.

۱۰- تاسي په عربي جلسو کي ګډون نه کوئ.

۱۱- رسول الله ﷺ د خپل نفس لپاره د هیڅا څخه غچ نه اخیستی.

۱۲- رسول الله ﷺ د خوراک بدي نه بیانول او د هغه ستاینه یې کول

## اَلتَّمْرِيْن ٦٥

په عربي يې ترجمه کړئ :

١- پاکه هوا د روغتيا لپاره ګټوره ده .
٢- لامبو يو ښه ورزش دی .
٣- زما دواړي خويندي ناروغي دي .
٤- د دغه ښار مسلمانان خوشحاله دي .
٥- ستا دواړه ورونه د پر کوښښ کوونکي دي .
٦- زما اکا په پوست خانه کي کار کوی .
٧- زما پلار ما ته يو انعام راکړی دی.
٨- دغه هلکان مدرسې ته نه ځي او ټوله ورځ لوبي کوي.
٩- دغه ساعت پر لس بجې بند سوی دی.
١٠- يو کوچي غزلي ويلې او پسونه يې پيول .
١١- دوو ملګرو په ګډه سفر کوی .
١٢- زه يوه عربي مقاله ليکم .
١٣- انجوني لوبي کوي او خوشحاله کيږي .
١٤- تاسي د واړو يو بل نه پيژندل .
١٥- موږ سبا په الوتکه کي کابل ته ځو .

## اَلتَّمْرِيْن ٦٦

(في الانشاء)

(١): د خپل دار الاقامه (هستوګن ځای) په اړه د جمله اسميه شپږ جملې جوړي کړئ چي د تذکير وتانيث، واحد تثنيه، مبتدا او خبر

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابقت پکښې راسي.

(۲): د خپلې خوني په اړه د جمله فعليه کم تر کمه لس جملې وليکئ چې د فعل مضارع او فعل ماضي ټول قسمونه پکښې راسي، د مضمون د وضاحت لپاره د جمله اسميه څخه هم مرسته واخلئ.

# الدرس الثاني عشر (۱)

## (فعل امر)

تاسي په اتم سبق کي د فعل امر تعريف ويلي دی، لاندي د فعل امر د جوړولو قاعده ليکل کيږي:

۱: فعل امر حاضر معروف د مضارع حاضر معروف څخه جوړيږي او هغه په داسي ډول چي:

۱- تر ټولو مخکي د مضارع علامه ايسته کړئ.

۲- د مضارع د علامې ايسته کولو وروسته که لومړی حرف ساکن پاته سي نـو په سر کي همزه وصل راوړئ لکه د "تَكْتُبُ" څخه "أُكْتُبْ" او داسي نور...

۳- که د مضارع د عين کلمه ضمه ولري نو همزه وصل ته هم ضمه ورکړئ او که د مضارع د عين کلمه فتحه او يا کسره ولري نو په دواړو صورتونو کي همزه وصل ته کسره ورکړئ، لکه: د "تَكْتُبُ" څخه "أُكْتُبْ" او د "تَفْتَحُ" او "تَضْرِبُ" څخه "اِفْتَحْ" او "اِضْرِبْ".

۴- آخري حرف ساکن کړه او که حرف علت وي نو حذف يې کړه

لکه د: "تَدْعُوْ" څخه "اُدْعُ"، د "تَخْشٰی" څخه "اِخْشَ" او د "تَرْمِيْ" څخه "اِرْمِ" او داسي نور.

۲: د امر معروف او امر متکلم صيغې هم سته چي د جوړولو قاعده يې د امر حاضر د قاعدې څخه جلا ده او هغه داده چي:

۱: د مضارع علامه دې پر خپل ځای پاته وي او په سر کي د امر لام راوړه او آخري حرف ساکن کړه.

۲: د امر حاضر په ډول د امر غائب څخه هم نون اعرابي، تثنيه او جمع مذکر نون ايسته کړه.

۳: که په آخر کي حرف علت وي نو هغه حذف کړه.

لاندي د فعل امر ټولي صيغې ليکل کيږي، مګر دا خبره په ياد ولرئ چي امر حقيقي يوازي امر حاضر ته وايي.

| | غائب | حاضر | متکلم |
|---|---|---|---|
| مذکر | لِيَكْتُبْ لِيَكْتُبَا لِيَكْتُبُوْا | اُكْتُبْ اُكْتُبَا اُكْتُبُوْا | لِاَكْتُبْ لِنَكْتُبْ |
| مؤنث | لِتَكْتُبْ لِتَكْتُبَا لِيَكْتُبْنَ | اُكْتُبِيْ اُكْتُبَا اُكْتُبْنَ | |

پاملرنه! که د مضارع د علامې ايسته کولو وروسته لومړی حرف ساکن نه وي نو د همزه وصل راوړلو ضرورت نسته لکه د "يَدَعُ" څخه "دَعْ" د "يُعَلِّمُ" څخه "عَلِّمْ" د "يَتَعَلَّمُ" څخه "تَعَلَّمْ" او د "يَتَقَبَّلُ" څخه "تَقَبَّلْ".

۲: د افعال په باب کي همزه قطعي (اصلي) وي ځکه د هغه په امر کي

Maktaba Tul Ishaat.com

همزه مفتوح وي لكه : اَحْسِنْ، اَكْرِمْ، او داسي نور .

## اَلتَّمْرِيْن ٦٧

په پښتو یې ترجمه کړئ :

۱- وَأْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا.

۲- مَا آتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا.

۳- اَوْفُوْا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ.

۴- قَالَ اللهُ لِمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ. اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى.

۵- فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى.

٦- وَقِيْلَ لِمَرْيَمَ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا.

۷- اِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوْا.

۸- اِجْلِسْ وَاسْتَرِحْ وَلِاَذْهَبْ اَنَا اِلَى السُّوْقِ.

۹- اِكْتَرِ لِيْ مَرْكَبَةً وَلِيَدْعُ اَحْمَدُ حَمَّالًا.

۱۰- اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللهِ.

۱۱- اَكْرِمُوا الضُّيُوْفَ وَاَحْسِنُوْا مَثْوَاهُمْ.

۱۲- عَلِّمْنَ اَوْلَادَكُنَّ الْاَدَبَ وَالدِّيْنَ.

## التمرين ٦٨

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- سهار وخته کښېنه او د الله ﷻ نوم واخله.
۲- چالاکه اوسه او سستي پرېږده.
۳- د مورو پلار خبره ومنه او د هغوئ عزت وکړه.
۴- فاطمې چپه سه او زما خبره واوره.
۵- د کور خادمه دې جارو ووهي او لوښي دې پاک کړي.
۶- تاسي ښځې دوډۍ پخه کړئ او ماشومانو ته يې ورکړئ.
۷- دغه انجوني دې اوس پرده وکړي.
۸- د الله ﷻ د نافرمانۍ ځخه ځان وساتئ.
۹- د ښو خلکو ملګرتيا اختيار کړئ.
۱۰- پر مسکينانو رحم وکړه او د هغوئ مرسته وکړه.
۱۱- تاسي دواړه د سامان ساتنه وکړئ.
۱۲- تاسي مقالې وليکئ او زه به تقرير وکړم.
۱۳- محمود دې شعر وو ايي او خلکو ته دې واوروي.
۱۴- هغه خلک دې د ښمن ته هو ښيار سي.
۱۵- د خپل ورور سره په ورين تندي يو ځای سه.

Maktaba Tul Ishaat.com

# الدرس الثاني عشر (۲)

## (فعل نهي)

فعل نهي چي د امر يو قسم دی او پکښې د يو کار څخه د منع حکم کولو حکم وي، دا هم د فعل مضارع څخه جوړيږي او د جوړولو طريقه يې داده:

۱- د مضارع علامه دي پر خپل ځای پاته وي، په سر کي د نهي لام راوړه او آخري حرف ساکن کړه.

۲- د امر په ډول په نهي کي هم د تثنيې، جمع مذکر او واحد مؤنث حاضر څخه نون اعرابي ايسته کيږي.

۳- که په آخر کي حرف علت وي نو هغه هم ايسته کيږي لکه: لَاتَدْعُ، لَاتَخْشَ.

لاندي د فعل نهي ټولي صيغې ليکل کيږي او د امر په ډول د نهي حقيقي هم يوازي د حاضر شپږ صيغې اصلي دي:

| | غائب | حاضر | متکلم |
|---|---|---|---|
| مذکر | لَايَكْتُبْ، لَا يَكْتُبَا، لَايَكْتُبُوْا | لَا تَكْتُبْ، لَا تَكْتُبَا، لَا تَكْتُبُوْا | لَا أَكْتُبْ، لَا نَكْتُبْ. |
| مؤنث | لَا تَكْتُبْ، لَا تَكْتُبَا، لَا يَكْتُبْنَ | لَا تَكْتُبِيْ، لَا تَكْتُبَا، لَا تَكْتُبْنَ | |

## اَلتَّمْرِيْن ٦٩

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- لَاتَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا آخَرَ.

۲- لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ.

۳- لَاتُطِعِ الْكَافِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ جِهَادًا كَبِيْرًا.

۴- لَاتَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ.

۵- وَلَاتَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ.

٦- لَاتَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ.

۷- لَاتَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ.

۸- لَاتَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا.

۹- لَاتَقْفُ مَالَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ.

۱۰- لَاتَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا.

۱۱- لَايَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسٰى اَنْ يَكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ.

۱۲- لَاتَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ وَلَاتَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ.

۱۳- وَلَاتَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَاءَهُمْ وَلَاتَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ.

۱۴- اِلْزَمْنَ بُيُوْتَكُنَّ وَلَاتَخْرُجْنَ سَافِرَاتٍ.

۱۵- لَاتَتَحَدَّثْ بِكُلِّ مَاسَمِعْتَ.

۱٦- لَاتَقُوْلُوْا لِمَنْ يُقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ. بَلْ اَحْيَاءٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۷۰

پهٔ عربي یې ترجمه کړئ:

۱- د الله ﷻ بندګي وکړه او د هغهٔ د رحمت څخه مه نا امیده کیږه.
۲- د خپلو فرائضو په ادا کولو کي کوتاهي مه کوه.
۳- د الله په نافرمانۍ کي د چا فرمانبرداري مه کوه.
۴- د الله ﷻ څخه ماسیوا د بل هیچا څخه مه بیریږه.
۵- د مور و پلار خدمت وکړه او هغوئ ته اف مه وایه.
۶- د یتیمانو سره ښه چلند کوه.
۷- د مسکینانو مرسته وکړه او پر هغوئ ظلم مه کوه.
۸- تاسي دواړه په غرمه کي د کور څخه مه وځئ.
۹- فاطمې! په ناوکۍ لوبي وکړه او په چاقو لوبي مه کوه.
۱۰- د خپل وررور عذر ومنه.
۱۱- تاسي ښځي بې پرده مه وځئ.
۱۲- بدو کارونو ته مه نژدې کیږه.
۱۳- خالد! ته دلته کښېنه او محمود دي بازار ته ولاړ سي.
۱۴- موږ هریو باید د مظلومانو مرسته وکړو.
۱۵- دوئ دوه دي زما په کار کي مداخلت نه کوي.
۱۶- ته ډیوه بله کړه او زه دي کلکینان خلاص کړم.
۱۷- هیڅ شاګرد دي د غرمې په وخت کي د مدرسې څخه نه وځي.
۱۸- رښتیا ویل عادت کړئ او هیڅکله دروغ مه وایاست.
۱۹- تاسي نن نندارتون ته مه ځئ.
۲۰- تاسي ښځي دلته مه کښېنئ.

# الدرس الثالث عشر

## ( د مبتدا خبر چي جمله يا شبه جمله وي )

تر فعليه جملې مخکي چي څو مره د اسميه جملې تمرينونه راغلي دي، په ټولو کي خبر مفرد وو او يا مرکب ناقص، لکه: اَلتِّلْمِيْذُ مُجْتَهِدٌ. اَلْقُرْآنُ كِتَابُ اللهِ .

اوس په دغه سبق کي ښيو چي څرنګه د مبتدا خبر مفرد او مرکب ناقص راځي همدارنګه جمله اسميه، جمله فعليه او شبه جمله هم راځي مګر موږ دلته يوازي د جمله فعليه بيان کوو، د جمله اسميه (٣) او شبه جمله بيان به وروسته راسي .

لاندي جملې ورواياست :

| | |
|---|---|
| ١- اَلْوَلَدُ يَذْهَبُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ | ١- اَلْبِنْتُ تَذْهَبُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ |
| ٢- اَلْوَلَدَانِ يَذْهَبَانِ اِلَى | ٢- اَلْبِنْتَانِ تَذْهَبَانِ اِلَى |

٣- (١): جمله اسميه لکه: اَلْوَلَدُ مَلَابِسُه نَظِيْفَةٌ. اَلْوَلَدَانِ مَلَابِسُهُمَا نَظِيْفَةٌ. اَلْاَوْلَادُ مَلَابِسُهُمْ نَظِيْفَةٌ، تاسي وګورئ چي دلته د (ه، هُمَا، هُم) ضميرونه د مبتدا په مناسبت بدليږي، په حقيقت کي دغه ضميرونه د مبتدا او خبر په منځ کي د ربط کار کوي، لوړ په جمله فعليه کي هم ضمير بدل سوی دی او بيا د ضمير په مناسبت فعل هم بدليږي ځکه کله چي د فعل فاعل ضمير وي نو فعل د ضمير مطابق راځي .

(٢): د شبه جملې څخه مراد ظرف زمان، ظرف مکان او جار مجرور دي لکه: اَلرَّاحَةُ بَعْدَ التَّعبِ. اَلْقَلَمُ تَحْتَ الْوِسَادَةِ. اَلنَّجَاةُ فِي الصِّدْقِ، او داسي نور.

Maktaba Tul Ishaat.com

المَدْرَسَةِ                    المَدْرَسَةِ

۳- الاَوْلَادُ   يَذْهَبُوْنَ   اِلَى   ۳- البَنَاتُ يَذْهَبْنَ اِلَى المَدْرَسَةِ.

المَدْرَسَةِ

د مبتدا او خبر د ترکیب په اړه تاسي ته معلومه ده چي خبر په تذکیر، تانیث، واحد، تثنیه او جمع کي د خپلي مبتدا مطابق وي.

اوس په پورتنیو مثالونو کي فکر وکړئ، دغه ټولي جمله اسمیه (مبتدا او خبر) دي، ځکه ټولي جملې د اسم څخه شروع کیږي، بیا په الولد ، الولدان او نورو کي فکر وکړئ چي ټولي مبتداوي وي او وروسته جمله (يَذهَبُ الى المَدرسَة، يَذهَبَانِ الى المَدرَسَةِ ...) د مبتدا خبر دي ځکه بېله خبر څخه جمله نه پوره کیږي.

اوس د يذهب په مختلفو شکلونو کي فکر وکړئ، د دغو فعلونو فاعل خپله د هغوئ ضمیرونه دي چي مبتدا ته راجع کیږي، بیا د همدغو ضمیرونو مطابق فعل هم بدلیږي تر څو په مبتدا او خبر کي مطابقت راسي.

## اَلتَّمرِين ۷۱

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- اَلتِّلْمِيْذُ اللَّعُوب سَقَطَ فِي الاِمْتِحَان.

۲- ذٰلِکَ الْقَرَوِيُّ نَالَ جَائِزَةً بِحُسْنِ عَمَلِهِ فِي الزَّرْعِ.

۳- اَلشُّرْطِيَانِ قَبَضَا عَلَى لِصٍّ.

۴- اَخَوَا عَلِيٍّ سَافَرَا اِلَى هِرَات.

۵- هٰذَانِ الْوَلَدَانِ مُنِعَا عَنِ الاِمْتِحَانِ.

٦- أُولٰئِكَ التَّلَامِيذُ خَطَبُوا بِاللُّغَةِ الْعَرَبِيَّةِ.

٧- خَادِمَةُ عَلِيٍّ طَبَخَتْ لَنَا الطَّعَامَ.

٨- أُخْتَايَ قَدْ حَفِظَتَا الْقُرْآنَ.

٩- اَلْغَرِيبُونَ سَمَوْا بِالْعِلْمِ وَالْاِخْتِرَاعِ.

١٠- أَنْتُمْ وَجَدْتُمْ عَلَيَّ فِي أَمْرٍ تَافِهٍ.

١١- اَلْبَنَاتُ أَوْقَدْنَ الْمَوْقَدَ بِالْكِبْرِيتِ.

١٢- اَلْعَوَاصِفُ اِقْتَلَعَتِ الْأَشْجَارَ.

## اَلتَّمْرِين ٧٢

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- دغه هلک خپل کتاب خيري کړی.

٢- د شيشې ګيلاس مات سو.

٣- زما د پلار دواړې پښې وپړسېدې.

٤- دغو دوو چوکيدارانو د غلو مقابله وکړه.

٥- تاسې ذواړو د يوې هوسۍ ښکار وکړئ.

٦- هغه ټول مشران ونيول سول.

٧- کوښښ کوونکي شاګردان په امتحان کي کامياب سول.

٨- طارق بن زياد اندلس فتح کړی.

٩- مسلمانو پوځيانو خپلې کښتۍ وسوځلې.

١٠- خالد بن وليد د يرموک په غزا کي معزول کړل سو.

١١- زما مور و پلار سږ کال د کعبې شريفې زيارت وکړئ.

١٢- تاسې خلکو ډېر ځنډ وکړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۳- دغو انجونو سږ کال د رمضان روژې ونیولې.
۱۴- موږ په غرمه کې بازار ته د تګ څخه منع کړل سوو.

## اَلتَّمْرِيْن ۷۳

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- اَلاِنْسَانُ يَسْتَفِيْدُ مِنَ الْقِرَاءَةِ.
۲- اَلْكَلْبُ يَحْرُسُ الْمَنَازِلَ وَالْمَزَارِعَ.
۳- اَلْفَلَّاحُ يَحْرُثُ الْاَرْضَ وَيَسْقِيْهَا.
۴- هٰذَانِ الثَّوْرَانَ يَجُرَّانِ الْمحراثَ.
۵- هٰؤُلَاءِ التَّلَامِيْذ يَبْتعِدُون عَن الرَّذِيْلَةِ.
۶- هٰذِهِ الْبَقَرَاتُ لَا ترعي الكَلَاءَ.
۷- اَلْوَلَدَانِ يَرضِيان عَن الولد البارّ.
۸- اَلرِّجَال يكدُّون لِكَسْبِ الْقُوْتِ.
۹- اَلنِّسَاء يَقُمْنَ بِشُئُون الْمَنَازِل.
۱۰- اَلْاُمَّهَات يُسْدِيْن النَّصِحَةَ لِاَوْلَادِهِنَّ.
۱۱- اَلسُّفُنُ تَجْرِي عَلَى الْمَاءِ.
۱۲- اَلْاَخَوَاتُ الثَّلاث يَذْهَبْنَ اِلَى الْمَدْرَسَةِ.

## اَلتَّمْرِيْن ۷۴

په عربي یې ترجمه کړئ:

۱- لمر د ختیځ څخه را خیژي .
۲- ستوري په آسمان کي ځلیږي .
۳- دغه دوه هلکان په دارالاقامه کي اوسیږي.
۴- موږ په مدرسه ......... کندهار کي سبق وایو .
۵- تاسي دواړه د کابل په پوهنتون کي زده کړه کوئ.
۶- هلکان په ویلو کي ډېر کوښښ نه کوي .
۷- دغه انجوني ټوله ورځ د خپلو ملګرو سره لوبي کوي.
۸- ډېر خوراک معدې ته تاوان رسوي .
۹- ورزش کول عصاب او بدن قوي کوي.
۱۰- پیشي په خپل نوک خاکې کوي.
۱۱- زمری د هیچا پسخورده نه خوري.
۱۲- مرغان پر ښاخونو رېزونه کوي.
۱۳- ماهیان په اوبو کي ژوند کوي.
۱۴- میندي د خپلو بچیانو روزنه کوي .

## اَلتَّمْرِیْن ۷۵

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- أَبِي كَانَ يَسْهَرُ اللَّيْلَ وَيَتَهَجَّدُ.
۲- أُمِّي كَانَت تُصَلِّي فِي هٰذِهِ الغُرْفَةِ.
۳- نَبِيُّ اللهِ إِسْمٰعِيلُ كَانَ يَأْمُرُ اَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ.
۴- اَصْحَابُ الْحِجْرِ كَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الجِبَالِ بُيُوْتًا.
۵- أُولٰئِكَ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦- أُولٰئِكَ النِّسْوة كُنَّ لَا يَخْرُجنَ مِن الدُّوَرِ.

٧- خَادِمَتِي كَانَتْ تَنزع الدَّلو وتَملأُ جرَّتَهَا.

٨- بَقَرَتِي مَا كَانَتْ تَنْطِحُ وَلَا تَرْكُلُ.

٩- هٰذَانِ الْكَبْشَانِ كَانَا يَتَنَاطِحَان.

١٠- ذَانِكَ التّلمِيذَانِ كَانَا رَسَبَا فِي الامْتِحَانِ.

١١- أُولٰئِكَ الطلبَة كَانُوا لَعبوا فِي المُبَارَاةِ.

١٢- هٰؤُلَاءِ البَنَات كُنَّ شَهِدنَ الحَفْلَة.

١٣- أُولٰئِكَ كَانُوْا يَئِدُوْنَ بَنَاتهم اَيَّام الجَاهِلِيَّةِ.

## اَلتَّمرِيْن ٧٦

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- زما باغ سږ کال ښه مېوه وکړه.
٢- دغه درخته تېر کال لګېدلې وه.
٣- دغو دوو کسانو په هرات کې تجارت کوئ.
۴- زما پلار په دارالعلوم کې سبق وايه.
۵- مورږ په سالانه امتحان کې ناکام سوي وو.
٦- دغو انجونو په ژرنده کې اوړه مېده کول.
٧- برايي شپه سپيانو غپل.
٨- زما پلار ما ته يو ګران بيه انعام راکړی وو.
٩- ستا خادمي زما ساعت غلا کړی وو.
١٠- دغو دوو انجونو د غلا خبر ورکړی وو.
١١- تاسي دواړه د زمري د غړمباري څخه بيريدلي واست.

۱۲- زما د همسایه چرگ به هره ورځ آذان کوی.
۱۳- دغه خوني پرون جارو سوي نه وې.
۱۴- دغو انجونو په مدرسة البنات کي سبق وایه.
۱۵- رسول الله ﷺ په ورکتوب کي پسونه کتل.
۱۶- ابوبکر صدیق تر خلافت مخکي د ټوکرانو تجارت کوی.

# الدرس الرابع عشر (۱)

## (په قد سره د فعل ماضي تاکید)

که په فعل ماضي کي د تاکید (ټینګار) معنی پیدا کول وي او یا دا مقصد وي چي فلانی کار وسو، یا تا فلانی کار وکړی نو د دې لپاره د فعل ماضي په سر کي د (قد) لفظ راوړل کیږي، لکه:

۱: وَصَلَ اِلَيَّ كِتَابُكَ. (ستا لیک راورسېدی).

۲: قَدْ وَصَلَ اِلَيَّ كِتَابُكَ. (بېله شکه ستا لیک ما ته راورسېدی).

۳: قَدْ كَانَ وَصَلَ اِلَيَّ كِتَابُكَ. (ستا لیک ما ته رسېدلی وو).

همدارنګه په ماضي استمراري کي هم د قد په راوړلو سره د تاکید معنی پیدا کیږي لکه: قَدْ كُنْتُ اَرْجُو مِنْكَ الْخَيْرَ (ما ستا څخه د خیر امید درلودی).

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۷۷

پہ عربي يې ترجمه کړئ:

۱- بېله شکه ما دغه کتاب ووايه.
۲- بېله شکه زينب خپل سبق ياد کړی.
۳- بېله شکه فريد خپله غوا وپلورل.
۴- بېله شکه مونږ دواړو ډوډی وخوړل.
۵- بېله شکه د ابراهيم مېلمانه بېرته ولاړل.
٦- بېله شکه هغه پسونه پرون ذبح کړل سول.
۷- بېله شکه زما پلار د کابل څخه بېرته راغلی.
۸- بېله شکه ما تا ته بخښنه وکړه.
۹- بېله شکه ما تر دې مخکې ته ليدلی يې.
۱۰- بېله شکه مونږ ټول په خير او عافيت ورسېدو.

## اَلتَّمْرِيْن ۷۸

پہ عربي يې ترجمه کړئ:

۱- بېله شکه ما ټول تقرير په ياد کړی وو.
۲- بېله شکه ما ستا د ليک جواب درکړی وو.
۳- بېله شکه فاطمه د تالندي څخه بېرېدلې وه.
۴- بېله شکه تاسي دواړو زما د مرګ يقين کړی وو.
۵- بېله شکه مونږ پر وخت مدرسې ته رسېدلي وو.
٦- بېله شکه زما خور ټول قرآن کريم ياد کړی وو.
۷- بېله شکه مونږ ستا څخه نا اميده سوي وو.

۸- بېله شکه تاسي د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه خپل امید ونه قطع کړي وه.
۹- بېله شکه تاسي په هر امتحان کي ناکامه کېداست.
۱۰- بېله شکه موږ خپل وخت ضائع کوئ.

========

# الدرس الرابع عشر (۲)

## (د فعل مضارع تاکید په قد او لام تاکید سره)

په (قد) سره د فعل مضارع تاکید (۱۸) کېږي او همدارنګه په لام تاکید سره هم کېږي، مګر لام تاکید هغه وخت راوړل کېږي کله چي په سر کي (اِنَّ) راغلی وي او خبر جمله فعلیه وي، لکه: اِنِّيْ لَاَعْرِفُ اَخَاكَ. (بېله شکه زه ستا ورور پېژنم).

## اَلتَّمْرِيْن ۷۹

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱۸- د دې برعکس کله نا کله قد د تقلیل لپاره هم راځي او معنی یې په (کله ناکله) کېږي، لکه: قَدْ يَصدق الكَذُوبُ (درواغجن سړی کله نا کله رښتیا هم وایي)، او که د تاکید په معنی وي د هغه ترجمه په (بېله شکه، په تحقیق سره) او داسي نورو الفاظو کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- إِنَّ الْوَلَدَ الْبَارَّ لَيُطِيْعُ أَبَاهُ.

۲- إِنَّ الْخفِيرِين لِيسهران طُول اللَّيلِ.

۳- اَلْمُجْتَهِدُونَ مِن الطَّلَبَة قَد يُعْرَفُوْنَ بِسِيمَاهُمْ.

۴- اَلفَلاح قَد يَأكل بِعرق جَبينِهِ.

۵- إِنَّا لنصفح عن ذوي سَفه.

٦- قد يعلم الله المعوقين منكم.

۷- ولقد كانوا عاهدوا الله من قبل.

۸- إِنَّكِ لتُكثرِين من الضحك يا زينبُ.

۹- إِنَّكُم لَتُحسِنون السِّبَاحَة.

۱۰- اَلنِّسَاءُ قَد يَكفرن العَشيرَ.

## اَلتَّمْرِيْن ۸۰

په عربي یې ترجمه کړئ:

۱- زه بېله شکه خپله وعده پوره کوم.

۲- بېله شکه تاسي دواړه فصيح عربي واياست.

۳- مور به نن خامخا کابل ته ولاړ سو.

۴- کوښښ کوونکي هلکان خامخا کامیاب کيږي.

۵- تاسي بېله شکه په سبق کي کوښښ کوئ.

٦- تاسي ښځي په حقیقت کي د خاوندانو ناشکري کوئ.

۷- د بدو ملګرتيا په حقیقت کي هلکان خرابوي.

۸- بېله شکه فحش کتابونه د نوو کوچنیانو اخلاق خرابوي.

۹- فاطمې! ته بېله شکه ښه ډوډۍ پخوې.

۱- تاسي د واړه مدرسې ته په رسېدو کي همېشه ځنډ کوئ.

۱۱- مور و پلار په حقیقت کي د خپلو بچیانو خیرخواه وي.

۱۲- مور یقینًا په تا باور کوو.

# الدرس الخامس عشر

## (فعل نفي په "لَمْ، لَمَّا، لَنْ" سره)

موږ په اتم سبق کي ویلي وه چي د ما او لا په ډول په لم، لما او لن سره هم د فعل نفي کیږي، اوس به دلته په تفصیل سره بیان وکړو.

(لَمْ) او (لَمَّا) پر فعل مضارع داخلیږي او د ماضي منفي په معنی یې بدلوي، لکه: لَمْ یَذْهَبْ (هغه نه وو تللی)، لَمَّا یَذْهَبْ (هغه تر اوسه تللی نه دی).

د (لَمْ) او (لَمَّا) په معنی کي لږ فرق دی او هغه دا چي (لَمْ) په ماضي زمانه کي د مطلق نفي لپاره استعمالیږي او (لَمَّا) په ماضي زمانه کي داسي نفي کوي چي دغه نفي د ویلو تر وخت پوري وي، په پورتنیو دوو مثالونو کي غور وکړئ.

۱: کله چي دغه دوه حروف پر فعل مضارع داخل سي نو آخري حرف ساکن کیږي.

۲: د څلورو تثنیو، جمع مذکر غائب، جمع مذکر حاضر او واحد مؤنث

Maktaba Tul Ishaat.com

حاضر څخه نون اعرابي ايسته کيږي .

۳: که په پای کي حرف علت وي نو هغه هم ايسته کيږي لکه د "يَأْتِيْ" څخه "لَمْ يَأْتِ" (هغه نه دی راغلی) او "لَمَّا يَأْتِ" (هغه تر اوسه نه دی راغلی).

پاملرنه! تاسي د لم او لما په معنوي فرق پوه سوي یاست، اوس په یوه بله خبره پوه سئ چي کله پر فعل مضارع لم داخل سي او وروسته د "بَعْدُ" یا "اِلَی الْآن" حرف راوړل سي نو هغه هم د لما (تر اوسه) معنی ورکوي، لکه "لَمْ يَذْهَبْ بَعْدُ" (هغه تر اوسه تللی نه دی)، یا "لَمْ يَذْهَبْ اِلَی الْآنِ" (هغه تر اوسه تللی نه دی)، همدارنګه کله نا کله د نور ټينګار لپاره "لَمَّا يَذْهَبْ بَعْدُ" هم ويل کيږي .

(لَنْ) هم پر فعل مضارع داخليږي او د معنی په اعتبار په مستقبل (راتلونکي) کي د نفي تاکيد کوي لکه "لَنْ يَّذْهَبَ" (هغه به هيڅکله ولاړ نه سي) .

۱: د لن په داخلېدو سره د فعل مضارع آخري مفتوح کيږي لکه : لَنْ يَّذْهَبَ".

۲: د څلورو تثنيو، جمع مذکر غائب او حاضر، واحد مؤنث حاضر څخه نون اعرابي ايسته کيږي .

۳: که په پای کي حرف علت وي نو د متحرک (مفتوح) کېدو په وجه پر خپل ځای پاته کيږي لکه: "لَنْ يَّأْتِيَ" .

پاملرنه! د نورو حروف ناصبه (ان، کی، اذن) هم دغه عمل دئ کوم چي د لن په اړه تاسي وويل، مګر په معنی کي يې فرق سته .

۱: اَنْ (چي) د مصدري معنی لپاره لکه: "يَسُرُّنِي اَنْ تَنْجَحَ"، (يَسُرُّنِي نَجَاحُکَ"، او همدارنګه "اُرِيْدُ اَنْ اَزُوْرُکَ" (اُرِيْدُ زِيَارَتَکَ) او داسي نور.
۲: کَيْ (د دې لپاره) لکه: "اِجْتَهِدْ کَيْ تَفُوْزَ" (کوښښ وکړه د دې لپاره چي کامياب سې).
اِذَنْ (په دغه وخت کي) او داسي نور...
۳: تر لام تعليل او حتی وروسته اَن مقدر وي ځکه حتی او لام تعليل هم د هغوئ په ډول عمل کوي، همدارنګه تر فاسببيه، لام جحود، او، او داسي نورو وروسته هم ان مقدر وي مګر په دې اړه نور تفصيل به په دوهم جلد کي راسي.

=======

## اَلتَّمْرِيْن ۸۱

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- اَلْقِطَارُ لَمْ يَتَأَخَّرْ عَنْ مَوْعِدِهٖ.
۲- اَنَا لَمْ اَرْسَبْ فِي الْاِمْتِحَانِ قَطُّ.
۳- اَخَوَایَ لَمْ يُسَافِرَا اِلٰی دِهْلِي.
۴- اُولٰئِکَ التَّلَامِيذ خرجوا الی المتحف ولَمَّا يَرْجعوا.
۵- اُولٰئِکَ الْكَافِرُوْنَ لَمْ يُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ.
۶- اَلرَّجُلُ لَمَّا يقض دينَهٗ.
۷- کبر الغلام ولَمَّا يَتَهَذَّبْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٨- غَامَتِ السَّماءُ وَلَمْ تُمْطِرْ.

٩- ذَانِکَ الضَّيفَانِ لَمَّا يأكلا العشاءَ.

١٠- بقرتاي لَمْ تَعْلَفَا مُنْذُ يَوْمَيْنِ.

١١- مَا خَطْبُكِ يَا فَاطِمَةُ! لَمْ تَحْفَظِي الدَّرْسَ.

١٢- التلميذاتُ المُجْتَهِداتُ لَم يَسْقُطْنَ فِي الامتِحَانِ

## اَلتَّمْرِيْن ٨٢

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- اورګاډه تر اوسه راغلې نه ده.

٢- دغو دوو مسافرانو خپل ټکټونه رانيولي نه دي.

٣- دغه هلکان په امتحان کي کامياب نه سول.

٤- ما خپل وخت په لوبو کي ضائع کړی نه دی.

٥- تاسي دواړو زما خبره ونه منل.

٦- مزدورانو ډوډی خوړلې نه ده.

٧- دغو مجرمانو تر اوسه د جرم اقرار کړی نه دی.

٨- تر اوسه يخ ختم سوی نه دی.

٩- فاطمې د دغې درختي څخه ميوه شکولې نه ده.

١٠- زينب! تا نن سهار ډوډی خوړلې نه ده.

١١- دغه دوې خوني جارو سوي نه دي.

١٢- مدرسه تر اوسه خلاصه سوې نه ده او نه سبقان شـ

١٣- مور د لويديځ تهذيب څخه متاثر سوي نه يو.

١٤- دغو انجونو تر اوسه ډوډی نه ده پخه کړې.

## اَلتَّمْرِيْن ۸۳

### (د لن په ذريعه په مستقبل کي د نفي تاکيد)

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- لَنْ يَرْضٰى اللهُ عَنِ الْمُشْرِكِيْن يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

۲- اَلْمُشْرِكُ بِاللهِ لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ.

۳- اَلْحُزْنُ لَنْ يَّرُدَّ الْفَائِتَ.

۴- أَخَوَاىَ لَنْ يُّسَافِرَا اِلٰى اَرُوْبَّا.

۵- أُولٰئِكَ الْفَلَّاحُوْنَ لَنْ يَّبِيْعُوا الْقَمْحَ بِالْاَرُزِّ.

۶- اَلْمُؤْمِنَاتُ الْقَانِتَاتُ لَنْ يُشْرِكْنَ بِاللهِ اَحَدًا.

۷- لَاتَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا.

۸- إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا.

۹- أَنْتِ لَنْ تَسْتَطِيْعِي الْمَشْيَ فِي تِلْكَ الْاَرْضِ.

۱۰- ذَانِكَ الرَّجُلَانِ لَنْ يَّكْتُمَا الشَّهَادَةَ وَلَنْ يَّشْهَدَا بِالزُّوْرِ.

۱۱- هٰؤُلَاءِ الْبَنَاتُ لَنْ يَّسْتَطِعْنَ الصَّبْرَ عَلَى الْجُوْعِ.

۱۲- مُسْلِمُوا الْهِنْدِ لَنْ يَّرْضَوْا بِالْحَضَارَةِ الْوَثَنِيَّةِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِیْن ۸۴

په عربي ژبې ترجمه کړئ:

۱- زه هیڅکله د بدو په مجلس کي نه کښېنم.
۲- موږ په سبق کي هیڅکله سستي نه کوو.
۳- دغه دوه هلکان به په امتحان کي هیڅکله کامیاب نه سي.
۴- تاسي به سبا هیڅکله لوبه ونه کړئ.
۵- دغه خلک د خپلو ظلمونو څخه هیڅکله نه منعه کیږي.
۶- موږ به د باطل په وړاندي هیڅکله کښېنته نه سو.
۷- مسلماني ښځي هیڅکله بې پردګي نه خوښوي.
۸- زما ورور به هیڅکله دغه راز ښکاره نه کړي.
۹- تاسي دواړه به هیڅکله پر ټاکلي وخت ونه رسیږئ.
۱۰- ته به هیڅکله دغه بام ته ونه خیژې.
۱۱- موږ به بیا هیڅکله پالتو مصرف ونه کړو.
۱۲- زما مور و پلار هیڅکله په مصرف کي تنګي نه کوي.
۱۳- هغه خلک به خپله وعده هیڅکله پوره نه کړي.
۱۴- الله ﷻ به هیڅکله مشرکین معاف نه کړي.

# الدرس السادس عَشر

## ( د فعل مستقبل مثبت تاكيد )

پر فعل مضارع باندي د لام تاكيد او نون تاكيد په داخلولو سره د فعل مثبت مستقبل تاكيد كيږي لكه: "لَيَذْهَبَنَّ" (هغه به خامخا ولاړ سي).

نون تاكيد پر دوه ډوله دی: ثقيله او خفيفه، د نون ثقيله څخه مراد مشدد نون (نّ) دی او د نون خفيفه څخه مراد ساكن نون (نْ) دی، لكه: "لَيَذْهَبَنْ" (هغه به خامخا ولاړ سي).

د نون ثقيله احكام په لاندي ډول دي:

۱: د څلورو تثنيو، جمع مذكر غائب او حاضر، واحد مؤنث حاضر څخه نون اعرابي ايسته كيږي.

۲: د جمع مذكر غائب او جمع مذكر حاضر څخه واو او د واحد مؤنث حاضر څخه (ي) ايسته كيږي.

۳: د جمع مؤنث غائب او جمع مؤنث حاضر د نون او نون ثقيله په منځ كي فاصل الف زياتيږي.

۴: نون ثقيله چي تر الف وروسته وي (يعني څلور تثنيې او دواړه جمع مؤنث) مكسور وي او پاته مفتوح.

۵: د مضارع لام كلمه په جمع مذكر غائب او حاضر كي مضموم او په واحد مؤنث حاضر كي مكسور وي او په پاته پنځو صيغو كي (كوم

Maktaba Tul Ishaat.com

چي الف پکښې نه وي) مفتوح وي .

## د فعل مضارع ټولي صيغې د نون ثقيله سره:

| | | واحد | تثنيه | جمع |
|---|---|---|---|---|
| غائب | مذکر | لَيَضْرِبَنَّ | لَيَضْرِبَانِّ | لَيَضْرِبُنَّ |
| | مؤنث | لَتَضْرِبَنَّ | لَتَضْرِبَانِّ | لَيَضْرِبْنَانِّ |
| حاضر | مذکر | لَتَضْرِبَنَّ | لَتَضْرِبَانِّ | لَتَضْرِبُنَّ |
| | مؤنث | لَتَضْرِبِنَّ | لَتَضْرِبَانِّ | لَتَضْرِبْنَانِّ |
| متکلم | مذکر او مؤنث | لَاَضْرِبَنَّ | لَنَضْرِبَنَّ | |

د نون خفيفه يوازي اته صيغې دي، نون خفيفه په هغو صيغو کي نه راځي په کومو کي چي تر نون ثقيله مخکي الف وي يعني څلور تثنيې او دوې جمع مؤنث غائب او حاضر .

پاملرنه! د فعل ماضي تاکيد په نون تاکيد سره نه کيږي .

۱: همدارنګه کله چي فعل مضارع د حال په معنی وي او يا منفي وي نو په دغه صورت کي په نون تاکيد سره د هغه تاکيد کول صحيح نه دي او همدارنګه کله چي د لام تاکيد او نون تاکيد لرونکي فعل په منځ کي فصل راسي، مثالونه يې په لاندي ډول دي:

۱: وَاللهِ لَاَقُومُ بِوَاجِبِي الاٰنَ. ۲: وَللهِ لَا اُسَاعِدُکَ .

۳: تَاللهِ لَسَوفَ اَخْدِمُ الوَطَنَ.

۲: کله چي د لام تاکيد او نون تاکيد په منځ کي د يو لفظ فصل نه وي او هغه فعل د قسم په جواب کي وي نو تاکيد راوړل ضروري وي لکه:

والله لاقومن بوجبي ، وَاللّٰهِ لَاَقُومَنَّ بِوَاجِبِي الاٰنَ، وَللّٰه لَااُسَاعِدَنَّکَ ، تَاللّٰهِ اَخْدِمَنَّ الوَطَنَ.

د امر، نهي، استفهام، عرض تمنا، تحضيض او اِمَّا تاكيد راوړل او نه راوړل دواړه صحيح دي.

## اَلتَّمْرِيْن ۸۵

### (د مستقبل مثبت تاكيد په نون تاكيد سره)

په پښتو يې ترجمه کړئ :

۱- وَاللّٰهِ لَاَنْتَصِرَنَّ لِلْمَظْلُوْمِيْنَ وَلَاَعْطِفَنَّ عَلَى الْبَائِسِيْنَ.

۲- اَنَا لَاُلَاقِيَنَّكُمْ بَعْدَ غَدٍ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ.

۳- ذَانِكَ السَّيَّاحَانِ لَيَزُوْرَانِّ بِلَادَنَا.

۴- اَلْمُسِيْئُوْنَ اِلَى النَّاسِ لَيَذُوْقُنَّ وَبَالَ اَمْرِهِمْ.

۵- اَنْتُمَا لَتَعْرِفَانِّ صِدْقَ مَقَالَتِيْ.

۶- نَحْنُ لَنُرَحِّبَنَّ بِقُدُوْمِكُمْ وَلَنَفْرَحَنَّ بِلِقَائِكُمْ.

۷- وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِيْنَ.

۸- لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ.

۹- اَنَا لَاَذْبَحَنَّ الشَّاةَ لِهٰؤُلَاءِ الضُّيُوْفِ.

۱۰- اَنْتِ لَتَطْبَخِنَّ الطَّعَامَ وَلَتُجِيْدِنَّهُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱- هٰؤُلَاءِ الْبَنَاتُ لَيَقْتَصِدْنَانِّ فِي النَّفَقَاتِ.

۱۲- أَنْتُنَّ لَتَكْرَهْنَانِّ السُّفُوْرَ وَلَتَلْزَمْنَانِّ الْبُيُوْتَ.

## اَلتَّمْرِيْن ۸٦

په عربي ېې ترجمه کړئ :

۱- الله ﷻ به خامخا خپل دين غالب کړي .
۲- موږ به خامخا د الله ﷻ په لار کي جهاد وکړو .
۳- موږ دوه به د لوی اختر په رخصتيو کي خامخا کور ته ولاړسو .
۴- تاسي به زما په ليدنه خامخا خوشحاله سئ .
۵- دغه دعوه به خامخا محکمې ته وړاندي سي .
۶- دغه دوه هلکان به خامخا په امتحان کي ناکام سي .
۷- تاسي به په دغه خبر خامخا خوابدي سئ .
۸- فاطمې ! ته به په دغه انعام خامخا خوشحاله سې .
۹- د بدو ملګرتيا به ستا اخلاق خامخا خراب کړي .
۱۰- ستا مور و پلار به په دغه خبره خامخا ناراضه سي .
۱۱- الله ﷻ به د خپلو بندګانو سره خامخا محاسبه وکړي .
۱۲- تاسي به د دښمنانو سره خامخا جنګ وکړئ .
۱۳- دغه هلکان به په امتحان کي خامخا کامياب سي .
۱۴- تاسي ښځي به خپلو بچيانو ته خامخا ادب وښياست .

## اَلتَّمْرِيْن ۸۷

### (د فعل امر تاکید په نون ثقیله سره)

| | | واحد | تثنيه | جمع |
|---|---|---|---|---|
| غائب | مذکر | لَيَضْرِبَنَّ | لَيَضْرِبَانِّ | لَيَضْرِبُنَّ |
| | مؤنث | لَتَضْرِبَنَّ | لَتَضْرِبَانِّ | لَيَضْرِبْنَانِّ |
| حاضر | مذکر | اِضْرِبَنَّ | اِضْرِبَانِّ | اِضْرِبُنَّ |
| | مؤنث | اِضْرِبِنَّ | اِضْرِبَانِّ | اِضْرِبْنَانِّ |
| متکلم | مذکر او مؤنث | لَأَضْرِبَنَّ | لَنَضْرِبَنَّ | |

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- اُتْرُكِ اللَّعِبَ وَأَقْبِلَنَّ عَلَى عَمَلِكَ.
۲- تَجَنَّبَنَّ الْمِزَاحَ الْكَثِيْرَ يَا خَالِدُ.
۳- اِحْفَظَنَّ عَهْدَ الصَّدِيقِ وَارْعِيَنَّهُ.
۴- اِبْتَعِدَانِّ أَنْتُمَا عَنْ صُحْبَةِ الْأَشْرَارِ.
۵- تَعَوَّدُنَّ مَقَالَ الصِّدْقِ يَا بُنَيَّ.
۶- اِفْهَمْنَانِّ الدَّرْسَ يَا تِلْمِيذَاتُ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٨- لِيَنْظُرَنَّ الْاِنْسَانُ اِلٰى عَمَلِهٖ.

٩- عَامِلْنَ النَّاسَ بِالرِّفْقِ وَالْمُوَدَّةِ.

١٠- اِحْفَظْنَ دَرْسَكِ يَا مَرْيَمُ وَاكْتُبِنَّهُ عَلَى الْكُرَّاسَةِ.

١١- اِمْنَعَنَّ الصِّغَارَ عَنِ الْكُتُبِ الْمَاجِنَة.

١٢- اِلْزَمْنَانِ بُيُوْتَكُنَّ يَا نِسَاءَ الْمُؤْمِنِيْنَ.

## اَلتَّمْرِيْن ٨٨

په عربي يې ترجمه کړئ :

١- هره ورځ د تګ لپاره خامخا وځه .
٢- تاسي هره اونۍ ما ته خامخا ليک ليکئ.
٣- د لوبو په وخت کي خامخا لوبي وکړئ.
٤- خالد ! ته د خپل مېلمه لپاره يو پسه حلال کړه.
٥- په مورږ کي هريو بايد د سيمي د مسکينانو مرسته خامخا وکړي.
٦- مورږ بايد خامخا سبق ووايو .
٧- محمود ! ته هره ورځ خامخا مسواک وهه.
٨- تاسي دوه خامخا عربي ژبه زده کړئ.
٩- هره ورځ د قرآن کريم تلاوت خامخا کوه .
١٠- فاطمه! ته خامخا د خپل مور و پلار خدمت کوه .
١١- دغه انجوني دي اوس خامخا پرده وکړي.
١٢- دغه هلکان دي اوس خامخا لمونځ وکړي.
١٣- د مسکينانو خامخا پوښتنه کوئ.
١٤- حق خبره خامخا وکړه که څه هم تاوان پکښې وي.

## اَلتَّمْرِيْن ۸۹

### (د فعل نهي تاكيد په نون ثقيله سره)

| | | واحد | تثنيه | جمع |
|---|---|---|---|---|
| غائب | مذکر | لَايَذْهَبَنَّ | لَايَذْهَبَانِّ | لَايَذْهَبُنَّ |
| | مؤنث | لَاتَذْهَبَنَّ | لَاتَذْهَبَانِّ | لَايَذْهَبْنَانِّ |
| حاضر | مذکر | لَاتَذْهَبَنَّ | لَاتَذْهَبَانِّ | لَاتَذْهَبُنَّ |
| | مؤنث | لَاتَذْهَبِنَّ | لَاتَذْهَبَانِّ | لَاتَذْهَبْنَانِّ |
| متکلم | مذکراو مؤنث | لَااَذْهَبَنَّ | لَانَذْهَبَنَّ | |

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- عَامِلَنَّ النَّاسَ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَاتُسِيْئَنَّ اَحَدٍ.

۲- لَاتَصْنَعَنَّ الْمَعْرُوْفَ فِيْ غَيْرِ اَهْلِهِ.

۳- اِذَا عَاتَبْتَ صَدِيْقًا فَلَا تُبَالِغَنَّ فِيْ عِتَابِهِ.

۴- لَايَعْتَمِدَنَّ اَحَدٌ عَلٰى غَيْرِ نَفْسِهِ.

۵- لَاتَدْخُلَنَّ بُيُوْتَ غَيْرِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْذِنُوْا.

۶- اِفْهَمْنَ الدَّرْسَ يَا تِلْمِيْذَاتُ وَلَاتَلْعَبْنَانِّ.

۷- لَايَصُدَّنَّكَ عَنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٨- وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ وَلَاتَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ.
٩- لَاتَخْرُجِنَّ فِي الشَّمْسِ يَا رَيْحَانَةُ.
١٠- لَاتُكْثِرَانِ مِنَ الضِّحْكِ يَا فَاطِمَةُ وَيَازَيْنَبُ.
١١- لَاتَمْدَحَنَّ اَمْرًا حَتّٰى تُجَرِّبَهُ.
١٢- وَلَاتَذُمَّنَّهُ مِنْ غَيْرِ تَجْرِيْبٍ.

## اَلتَّمْرِيْن ٩٠

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- په لوبو کي هيڅکله خپل وخت مه ضائع کوه.
٢- تاسي دواړه هيڅکله يو ځای لوبي مه کوئ.
٣- هيڅوک دي د خپل ورور غيبت نه کوي.
٤- هغه خلک دي ستاسي خوني ته هيڅکله نه ننوزي.
٥- د اسراف څخه ځان وساتئ او هيڅکله پالتو مصرف مه کوئ.
٦- تاسي ښځي هيڅکله د خپلو خويندو سپکاوی مه کوئ.
٧- په تاسي کي هيڅوک دي په ړانده پسخند نه وهي.
٨- په موږ کي هر يو دي هيڅکله د الله ﷻ څخه ماسيوا د بل چا څخه نه بيرېږي.
٩- کله چي ته وعده وکړې نو هيڅکله د وعدې خلاف مه کوه.
١٠- عائشه! ته هيڅکله سوالګر مه منعه کوه.
١١- د خلکو سره نرمي وکړه او هيڅکله سختي مه کوه.
١٢- تاسي ښځي هيڅکله بې پرده مه وځئ.

## اَلتَّمْرِيْن ۹۱

## (د "اَنْ، کَیْ، اِذَنْ" استعمال)

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- تَعَلَّمُوْا قَبْلَ أَنْ تَسَوَّدُوْا.

۲- يَجِبُ اَنْ تُفَكِّرَ فِي الْعَمَلِ قَبْلَ الشُّرُوْعِ فِيْهِ.

۳- اِفْتَحْ نَوَافِذَ الْحُجْرَةِ كَيْ يَتَجَدَّدَ هَوَاؤُهَا.

۴- نَحْنُ نَتَعَلَّمُ كَيْ نَخْدِمَ الدِّيْنَ.

۵- أَرْجُوْ أَنْ أَزُوْرَ مَدِيْنَتَكُمْ فِي الْأُسْبُوْعِ الْآتِيْ.

۶- إِذَنْ تُقِيْمَ عِنْدَنَا وَنَحْنُ نَسْعَدُ بِإِقَامَتِكُمْ فِيْنَا.

۷- إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوْا الْاَمَانَاتِ.

۸- وَإِذَا حَكَمْتُمْ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ.

۹- وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا.

۱۰- وَمِنْكُمْ مَنْ يُّرَدُّ اِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَايَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا.

۱۱- يُرٰى اَنْ تُمْطِرَ السَّمَاءُ بَعْدَ قَلِيْلٍ.

۱۲- إِذَنْ يَفْرَحَ الْفَلَّاحُوْنَ وَيَحْرُثُوْا اَرْضَهُمْ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ۹۲

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- زه امید لرم چي ته به هره اوني ما ته لیک ولیکې.
۲- زه په دې خبره خوشحالېږم چي هلک د خپل مور و پلار اطاعت وکړي.
۳- داسي معلومېږي چي سږ کال به باران ونه سي.
۴- د تعلیم مقصد دادی چي د هلک اخلاق ښه سي.
۵- پر تا لازمه ده چي د خپلو ښوونکو عزت وکړې.
۶- مور غواړو چي سبا تاسي ته بلنه درکړو .
۷- تاسي د سهار وختي کښېنستو عادت جوړ کړئ.
۸- مور تلوار کوو تر څو پر وخت مدرسې ته ورسېږو.
۹- په کمه رڼا کي مه وایاست تر څو مو نظر کمزوری نه سي.
۱۰- مور پرون هوایي مېدان ته ولاړو تر څو الوتکه د نژدې څخه ووینو.
۱۱- امید کیږي چي سږ کال به کښت ښه وي .
۱۲- نو غله به ارزانه سي او خلک به د پرېشانیو څخه خلاص سي.
۱۳- مهتمم صاحب غواړي چي کامیابو شاګردانو ته انعامونه ورکړ
۱۴- نو هلکان به په سبق ویلو کي نور زیات کوښښ وکړي .

## اَلتَّمْرِيْن ۹۳

### (أَنْ مقدره د لام تعلیل او حتی وروسته)

په پښتو یې ترجمه کړئ :

۱- خَرَجْتُ اِلَى الْبَسَاتِيْنِ لِاُرَوِّحَ نَفْسِيْ.

۲- عَلَيْكُمْ اَنْ تَدَاوَمُوا على العمل لِتَبْلغوا مرامكم.

۳- لَاتَاْكُلَنَّ الطَّعَامَ حَتّٰى تَجُوْعَ.

۴- وَلَاتبلع لُقْمَةً حَتّٰى تُجِيْدَ مَضْغَهَا.

۵- لَاتَدْخُلِ الصَّفَّ حَتّٰى يُؤْذن لك.

۶- اَلْوِلْدَانُ لَايُمْدَحُوْنَ حَتّٰى يَنَالُوا رِضَا الْوَالِدَيْنِ.

۷- لَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصَارٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ.

۸- لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّوْنَ.

۹- مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ.

۱۰- وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللهِ.

۱۱- بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْاَخْلَاقِ.

۱۲- اِسْتَيْقِظُوا صَبَاحًا لِتَنْشَطُوا فِيْ اَعْمَالِكُمْ.

## اَلتَّمْرِيْن ۹۴

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- محمود بازار ته ولاړی تر څو د کور لپاره ضروري سامان رانيسي.

۲- بزګر د کښت په خوا ولاړی تر څو ځمکه يوې کړي.

۳- زما پلار ما ته انعام راکړی تر څو زما حوصله لوړه کړي.

۴- کاميابو شاګردانو ته انعامونه ورکړل سول تر څو هغوئ نور کوښښ وکړي.

۵- زما مور و پلار د حجاز سفر کوي تر څو د کعبې شريفې حج وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦- دغه شاګردان مصر ته لېږل کېږي تر څو هلته ښه تعليم حاصل کړي.
٧- الله ﷻ نبيان او رسولان رالېږلي دي تر څو خلک د هغوئ څخه هدايت تر لاسه کړي.
٨- تاسي د خپلو خونو څخه مه وځئ تر څو چي زه اجازه در نه کړم.
٩- تاسي تلوار مه کوئ تر څو چي کار ختم سي.
١٠- انسان کاميابي تر لاسه کولای نه سي تر څو د خپل رب رضا تر لاسه نه کړي.
١١- د خلکو اخلاق به ښه نه سي تر څو هغوئ د حق دين پيروي ونه کړي.
١٢- ته به په خپل مقصد کي هيڅکله کامياب نه سې تر څو چي حقيقي کوښښ ونه کړې.
١٣- زه به نن هيڅکله بېده نه سم تر څو چي خپل سبق ياد نه کړم.
١٤- دغه خلک د جرمونو څخه هيڅکله نه منع کېږي تر څو چي هغوئ ته سزا ورنه کړل سي.

## اَلتَّمْرِيْن ٩٥

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- الله ﷻ به د خپلو بندګانو سره خامخا محاسبه وکړي.
٢- تر څو هر يوه ته د هغه د عمل بدله ورکړي.
٣- موږ به په سبق کي خامخا کوښښ وکړو تر څو په امتحان کي کامياب سو.
٤- موږ د خپل رب نافرماني هيڅکله نه کوو.
٥- نو الله ﷻ به ستا څخه راضي سي او تا ته به ښکه بدله درکړي.
٦- زه غواړم چي تا ته يو ګران بيه انعام درکړم.
٧- نو زه به ډېر خوشحال سم او په سبق کي به خامخا کوښښ کوم.
٨- په هيچا باور مه کوه تر څو چي د هغه تجربه ونه کړې.
٩- پاکي غوره شی دی.

۱۰- ترخوراک مخکې لاسونه پرېوله او په خوله اوبه ولغړوه.
۱۱- هره ورځ سهار خامخا مسواک وهه.
۱۲- ترخوب مخکې خوله پرېوله تر څو په غاښونو کې څه پاته نه سي
۱۳- ډېر خوب کول د کهالۍ علامه ده.
۱۴- د هیڅ شی مه اخله تر څو چې هغه اجازه درنه کړي.
۱۵- په پاکه هوا کې ګرځه.
۱۶- هیڅکله په تش نس چایي مه څښه.

## اَلتَّمرِین ۹۶

### (في الانشاء)

۱. د فعل امر شپږ داسي جملې ولیکئ چې یو شاګرد ته د مدرسې په اړه لارښووني پکښې وسي.
۲. د فعل نهي شپږ داسي جملې ولیکئ چې ته خپلي خادمې ته د اشپزخانې په اړه د څو شیانو منع کوې او د هغه مقصد وښیه.

=====

Maktaba Tul Ishaat.com

# الدرس السابع عشر

## (ادوات الاستفهام)

په عربي ژبه کي د استفهام (پوښتني) لپاره ډېر حروف استعماليږي چي ځيني مشهور يې په لاندي توګه دي:
همزه (أَ)، هَلْ، مَنْ، مَا، مَتٰى، أَيْنَ، كَيْفَ، كَمْ، أَيُّ.

۱: په همزه او هل د جملې د مضمون په اړه پوښتنه کيږي لکه: أَأَكَلْتَ الطَّعَامَ؟، هَلْ أَكَلْتَ الطَّعَامَ؟ (ايا تا ډوډۍ وخوړل؟) د دغه سوال جواب په "نَعَم" يا "لَا" سره ورکول کيږي.
۲: کله نا کله همزه په دوو شيانو کي د يو شي د تعين لپاره هم استعماليږي لکه: أَزَيْدٌ جَاءَ أَمْ مَحْمُوْدٌ؟، د دغه سوال جواب په تعين سره ورکول کيږي.
۳: پاته حروف چي د لاندنيو معناوو دپاره راځي، جواب يې په تعين سره ورکول کيږي.
۴: مَنْ؟ (څوک؟)، دغه لفظ د ذوي العقول دپاره استعماليږي، لکه: مَنْ هٰذَا؟ (دغه کس څوک دئ؟).
۵: مَا؟ (څه شي؟)، دغه لفظ د غير ذوالعقول دپاره استعماليږي لکه: مَاهٰذَا؟ (دغه څه شي دی؟).
۶: مَتٰى؟ (کله؟)، دغه لفظ د زمانې دپاره استعماليږي لکه: مَتٰى

مُتَ؟ (ته کله راغلې؟) .

۷: أَيْنَ؟ (چیرې؟)، دغه لفظ د مکان (ځای) دپاره استعمالیږي لکه: أَيْنَ تَذْهَبُ؟ (ته چیرې ځې؟) .

۸: كَيْفَ؟ (څنګه؟)، دغه لفظ د حالت او کیفت دپاره استعمالیږي، لکه: كَيْفَ أَنْتُمْ؟ (تاسې څنګه یاست؟) .

۹: كَمْ؟ (څو؟)، دغه لفظ د عدد (شمېر) دپاره استعمالیږي، لکه: كَمْ أَخًا لَكَ؟ (ستا څو وروڼه دي؟) .

۱۰: أَيُّ؟ (کوم؟، څه شي؟، چیرې؟....)، دغه لفظ د ټولو ذکر سوو الفاظو په معنی استعمالیږي .

۱۱: لِمَ؟ (ولې؟)، دغه لفظ پر مَا باندې د لام په داخلولو سره جوړ سوی دی، د لِمَ په ډول پر نورو حروفو هم حرف جاره داخلیږي چې معنی یې بدلیږي، لکه: لِمَنْ؟ (د چا؟)، مِنْ أَيْنَ؟ (د کومه ځایه؟)، إِلٰى أَيْنَ؟ (کومې خوا ته؟) حَتّٰى مَتٰى (تر څو؟)، بِكَمْ رُوْبِيَّةٍ؟ (په څو روپو؟)، فِيْ كَمْ يَوْمٍ؟ (په څو ورځو کې؟)، مُنْذُ كَمْ يَوْمٍ؟ (د څو ورځو راهسې؟) او داسې نور.

پاملرنه! د استفهامیه کَم وروسته په عامه توګه لفظ مفرد او منصوب وي لکه: کَم روبیة؟، مګر کله چې پر دغه لفظ (کَم) حرف جر داخل سي نو بیا هغه اسم مجرور هم کېدای سي او منصوب هم، په پورتنیو مثالونو کې فکر وکړئ.

: "أَيّ" لفظ مضاف وي ځکه وروسته اسم یې د مضاف الیه کېدو په

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه مجرور وي، لكه: أَيُّ كِتَابٍ تَقْرَأُ؟ (ته كوم كتاب وايې؟).

## اَلتَّمْرِيْن ٩٧

په پښتو يې ترجمه كړئ:

١- أَيَذْهَبُ مَحْمُوْدٌ إِلٰى جُنَيْنَةِ الْحَيَوَانَاتِ؟
٢- هَلْ تَسْكُنُ فِيْ دَارِ الْإِقَامَةِ؟
٣- هَلْ رَأَيْتَ مَتْحَفَ افغانستان؟
٤- أَأَنْتَ قُلْتَ هٰذَا أَمْ أَخُوْكَ؟
٥- أَتَأْكُلُ الْفُطُوْرَ قَبْلَ السَّابِعَةِ صَبَاحًا؟
٦- مَا تَأْكُلُ فِي الْفُطُوْرِ صَبَاحًا؟
٧- مَنْ كَانَ عِنْدَكَ أَمْسِ؟
٨- مَنْ يَسْكُنُ فِيْ هٰذِهِ الْغُرْفَةِ؟
٩- مَتٰى تُغْلَقُ مَدْرَسَتُكُمْ لِعُطْلَةِ الصَّيْفِ؟
١٠- أَيْنَ تَجْتَمِعُوْنَ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ؟
١١- فِيْ أَيِّ صَفٍّ تَقْرَأُ أَنْتَ؟
١٢- كَمْ تِلْمِيْذًا يَقْرَأُ فِيْ صَفِّكَ؟

## اَلتَّمْرِيْن ٩٨

په عربي يې ترجمه كړئ:

۱- ایا ستا پلار کابل ته ځي؟
۲- ایا ته دغه سړی پېژنې؟
۳- ایا تاسي دواړه په دوهم ټولګی کي سبق وایاست؟
۴- ایا خالد په ښار کي اوسیږي او که په دارالاقامه کي؟
۵- ایا ته وریجي خورې او که ډوډی؟
۶- ته د ماښام په ډوډی کي څه شي خورې؟
۷- محمود خپل پلار ته څه شي لیکي؟
۸- مځکه او آسمان چا پیدا کړي دي؟
۹- د آسمان څخه باران څوک اوروي؟
۱۰- تاسي دواړه خپل کور ته کله ځئ؟
۱۱- دغه انجوني چیري سبق وایي؟
۱۲- تاسي په لومړي ساعت کي کوم کتاب وایاست؟
۱۳- ستاسي په ټولګی کي څو شاګردان دي؟
۱۴- په لیلیه کي څو شاګردان اوسیږي؟

## اَلتَّمْرِیْن ۹۹

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- کَمْ رَکْعَةً تُصَلِّيْ فِي الْمَغْرِبِ؟
۲- فِيْ کَمْ دَقِیْقَةً تَقْضِيْ صَلٰوتَکَ؟
۳- فِيْ کَمْ یَوْمٍ وَصَلْتَ اِلٰی غزنی؟
۴- مُنْذُ کَمْ عَامٍ تَتَعَلَّمُ فِيْ هٰذِهِ الْمَدْرَسَةِ؟
۵- بِکَمْ رُوْبِیَّةٍ اِشْتَرَیْتَ الحِذَاءَ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

٦- لِمَ ضَرَبْتَ هٰذَا الْوَلَدَ؟
٧- إِلٰى أَيْنَ تَقْتَصِدُ يَا مَحْمُوْدُ؟
٨- مِنْ أَيْنَ اِشْتَرَيْتَ هٰذَا الْقَلَمَ؟
٩- بِأَيِّ شَيْئٍ يقطع الخَشَب؟
١٠- مِنْ أَيِّ شَيْئٍ تُصْنَعُ الْاَحْذِيَةُ؟
١١- إِلٰى أَيِّ سَاعَةٍ ترجعُ مِن السُّوْقِ؟
١٢- حَتّٰى مَتٰى أُكَابِدُ تِلْكَ الْمَصَائِبَ؟

## اَلتَّمْرِيْن ١٠٠

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- ستا په کتاب کي څو مخونه دي؟
٢- په دغه کتاب کي څو تمرينونه دي؟
٣- دغه بېړۍ په څو ورځي کي جدې ته رسيږي؟
٤- تا دغه کتاب په څو ساعته کي ووايه؟
٥- تا دغه ساعت په څو روپۍ رانيوی؟
٦- دغه مېز په څو روپو پلورې؟
٧- کاغذ د څه شي څخه جوړيږي؟
٨- مځکه په څه شي يوې کيږي؟
٩- تاسي اوس چيري ځئ؟
١٠- دغه کور د چا دی او په هغه کي څوک اوسيږي؟
١١- تاسي پرون ولي د مدرسې څخه غيرحاضر واست؟
١٢- تاسي د مصر څخه کله راستنيږئ؟

۱۳- زه تر څو بجو ستا انتظار وکړم؟

۱۴- ته په دغه کور کي د څو کاله راهیسي اوسیږې؟

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۱

په پښتو يې ترجمه کړئ:.

۱- هَلْ هٰذِهِ الْقَلَنْسَوَةُ سَوْدَاءُ؟

۲- لَا بَلْ هِيَ حَمْرَاءُ!

۳- هَلْ هٰذَا الْحِذَاءُ اَحْمَرُ؟

۴- لَا. بَلْ هُوَ اَسْوَدُ!

۵- هَلْ هٰذَانِ الْقَمِيْصَانِ اَصْفَرَانِ؟

۶- لَا. بَلْ هُمَا اَبْيَضَانِ!

۷- هَلْ هَذَانِ الرَّجُلَانِ اَخَوَانِ؟

۸- هَلْ هَاتَانِ الْبَقَرَتَانِ بَيْضَاوَانِ؟

۹- لَا. بَلْ هُمَا صَفْرَاوَانِ.

۱۰- أَهٰذِهِ الْبَقَرَاتُ سُوْدٌ؟

۱۱- لَا بَلْ هِيَ صُفْرٌ.

۱۲- أَهٰذَا اِبْنُ عَمِّکَ اَمْ ذَاکَ؟

۱۳- نَعَمْ هٰذَا اِبْنُ عَمِّيْ وَذَاکَ اِبْنُ خَالِيْ.

۱۴- أَهٰؤُلَاءِ مُسَافِرُوْا مَكَّةَ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵- لَا. بَلْ هُمْ مُمَثِّلُو الْبِلَادِ الْعَرَبِيَّةِ جَمِيْعِهَا.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۲

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- ايا دغه رنګ سور دی؟
۲- نه، بلکه دغه شين دی.
۳- ايا دغه څادر ژړ دی ؟
۴- نه، بلکه دغه زرغون دی.
۵- ايا دغه خولۍ سپيني دي ؟
۶- نه، بلکه هغه شنې دي.
۷- ايا دغه لنګوټه شنه ده ؟
۸- نه، بلکه هغه سپينه ده.
۹- ايا دغه دوې درختي شنې دي ؟
۱۰- هو، دغه دوې درختي شنې دي.
۱۱- ايا د محمود دواړه ورونه عالمان دي ؟
۱۲- هو، هغوئ دواړه عالمان دي.
۱۳- ايا دغه خلک په کارخانه کي مزدوران دي او که بل څه؟
۱۴- نه، دغه خلک بزګران دي.

========

# الدرس السابع عشر (۲)

## (استفهام او نفي يو ځای)

تاسو په مخکنيو تمرينونو کې د مثبت استفهام جملې وويلې، اوس دلته د منفي استفهام ځيني جملې ليکو، لاندي مثالونه ووايا ست:

۱: أَلَيْسَ مَحْمُوْدٌ خَطِيْبًا؟ (ايا محمود خطيب نه دی؟)
بَلٰى، هُوَ خَطِيْبٌ بَارِعٌ. (ولي نه، هغه يو ښه خطيب دی).

يا: نَعَمْ هُوَ لَيْسَ بِخَطِيْبٍ. (هو، هغه خطيب نه دی).

۲: أَلَا تُسَافِرُ مَعِيْ؟ (ايا ته زما سره سفر نه کوې؟)
بَلٰى لَأُسَافِرَنَّ مَعَكَ. (ولي نه، زه به خامخا ستا سره سفر وکړم).

يا: نَعَمْ، لَا أُسَافِرُ مَعَكَ. (هو، زه ستا سره سفر نه کوم).

۳: اَلَمْ تَكْتُبْ اِلٰى اَبِيْكَ؟ (ايا ته خپل پلار ته ليک نه ليکې؟)
بَلٰى قَدْ كَتَبْتُ اِلَيْهِ. (ولي نه، ما هغه ته ليک وليکی).

يا: نَعَمْ مَا كَتَبْتُ اِلَيْهِ مُنْذُ شَهْرٍ. (هو، ما د يوې مياشتي څخه هغه ته خط ليکلی نه دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسي په دغو مثالونو کي د منفي او مثبت استفهام په فرق پوه سواست، او په دې هم پوه سئ چي د منفي استفهام جواب د اثبات په صورت کي په بلی (ولي نه)، او د نفي په صورت کي په نعم ورکول کيږي.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۳

په پښتو يې ترجمه کړئ:

۱- أَلَا تَأْكُلُ الْفَوَاكِهَ يَا مَحْمُودُ؟

۲- بَلٰى، اٰكُلُ الْفَوَاكِهَ بِرَغْبَةٍ جِدًّا.

۳- أَلَا تُحِبُّ الْاِقَامَةَ عِنْدَنَا يَا خَالِدُ؟

۴- بَلٰى، يَا سَيِّدِيْ! وَاَنَا اَسْعَدُ بِالْاِقَامَةِ عِنْدَكُمْ.

۵- أَلَا تُضِيْعَانِ وَقْتَكُمَا فِي اللَّعِبِ كَثِيْرًا؟

۶- نَعَمْ، لَا نُضِيْعُ اَوْقَاتَنَا كَثِيْرًا فِي اللَّعِبِ.

۷- أَلَا تَرْضَوْنَ بِحُكْمِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ؟

۸- بَلٰى، نَحْنُ رَاضُوْنَ بِحُكْمِ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ.

۹- وَاِذْ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ، رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى؟

۱۰- قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ؟ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ.

۱۱- كُلَّمَا اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَا، اَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيْرٌ؟

۱۲- قَالُوْا: بَلٰى قَدْ جَاءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللهُ مِنْ شَيْءٍ.

۱۳- اَلَمْ تَكُنْ تَحْفَظُ دَرْسَكَ يَا سَعِيْدُ؟

۱۴- نَعَمْ مَا كُنْتُ اَحْفَظُ الدَّرْسَ فَرَسَبْتُ الْاِمْتِحَانَ.

۱۵- أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ؟

۱۶- بَلٰى وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۴

په عربي ېې ترجمه کړئ:

۱- ایا ته هره ورځ غسل نه کوې؟
۲- هو، ولې نه، زه هره ورځ غسل کوم.
۳- ایا تاسي خپلې جامې پخپله نه پرېولئ؟
۴- ایا تاسي دواړه د خپل مور و پلار خبره نه منئ؟
۵- ولې نه، مورږ د هغوئ فرمانبرداري کوو.
۶- ایا تاسي د خپلو ښوونکو درناوی نه کوئ؟
۷- ولې نه، مورږ د هغوئ یقیني احترام کوو.
۸- فاطمې! ایا ته نن ورځ سبق نه وایې؟
۹- هو، زه غواړم چي د خپلې خاله کورته ولاړه سم.
۱۰- ایا الله ﷻ نیکانو ته د هغوئ بدله نه ورکوي؟
۱۱- ولې نه، الله ﷻ د هغوئ اجر هیڅکله نه ضائع کوي.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۵

په عربي ېې ترجمه کړئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- ایا ته نن مدرسې ته تللی نه یې ؟
۲- هو، نن ما رخصتي اخیستې وه .
۳- ایا هغه ناروغ ټوله شپه بېده سوی نه دی؟
۴- هو، هغه د تکلیف په وجه ټوله شپه بېده سوی نه دی.
۵- ایا ما تاسي په غرمه کي د وتلو څخه منع کړي نه یاست؟
۶- ولي نه، تا موږ منع کړي وو مګر دا ځل عفوه وکړه.
۷- ایا ستا پلار د سفر څخه راغلی نه دی ؟
۸- هو، تر اوسه راغلی نه دی .
۹- ایا تا ته زما لیک رسېدلی نه وو؟
۱۰- هو، ولي نه، ستا لیک را رسېدلی وو .
۱۱- ایا تا پروسږ کال د شام او عراق سفر کړی نه وو ؟
۱۲- هو، ولي نه، ما د ټولو عربو هېوادو سیاحت وکړی.
۱۳- ایا تاسي د کندهار په پوهنتون کي سبق نه وایه ؟
۱۴- نه، بلکه موږ د کابل په پوهنتون کي سبق وایه .

## اَلتَّمْرِیْن ۱۰۶

په عربي یې ترجمه کړئ :

۱- د غه ساعت د چا دی ؟
۲- چوکۍ د څه شي څخه جوړېږي ؟
۳- تاسي دواړه د څو بجو څخه زما انتظار کوئ ؟
۴- حضرت حمزه په کومه غزا کي شهید کړل سو ؟
۵- ایا ته په لومړۍ ټولګۍ کي سبق وایې؟
۶- نه، بلکه زه په دوهمه ټولګۍ کي سبق وایم .

۷- دغه خلک چیري ځي ؟

۸- دغه ټول خلک یوې دیني جلسې ته ځي ترڅو د دین خبري واوري.

۹- ایا هغه مېلمانه به ترماښام پوري خامخا ولاړ سي؟

۱۰- هو، هغوئ به خامخا ولاړ سي ترڅو سبا سهار کور ته ورسیږي.

۱۱- ایا ستا پلار تر اوسه روغ سوی نه دی؟

۱۲- نه، مګر زه د الله ﷻ امید لرم چي ژر به روغ سي.

۱۳- ایا ستاسي امتحان تر اوسه ختم سوی نه دی؟

۱۴- هو، تر اوسه زموږ امتحان ختم سوی نه دی ؟

۱۵- ایا الله ﷻ د دې خبري حکم کړی نه دی؟

۱۶- چي موږ خلکو ته د ښو خبرو حکم وکړو او د بدو کارونو څخه یې منع کړو ؟

۱۷- ولي نه، الله ﷻ موږ د دې خبري حکم کړی دی.

۱۸- او موږ د هغه د حکم خامخا پیروي کوو تر دې چي د الله ﷻ کلمه لوړه سي.

۱۹- ایا تاسي دا خبره خوښوئ چي بدی خپرې سي؟

۲۰- نه، موږ هیڅکله دا نه خوښوو چي خلک په بدیو اخته سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# الدرس الثامن عشر (۱)

## (ادوات الشرط)

جمله شرطیه د دوو جملو په یو ځای کېدو سره پوره کېږي، لومړۍ ته شرط او دوهمي ته جزا وايي لكه: مَنْ يَعْمَلْ سُوْءًا يُجْزَ بِهِ (څوک چې بدي وکړي نو د هغه بدله به ترلاسه کړي).

ادوات شرط دوه ډوله دي: يو جازمه او بل غير جازمه، ادوات جازمه په لاندې ډول دي:

إِنْ، إِذْمَا، مَنْ، مَهْمَا، مَتٰى، أَيَّانَ، أَيْنَ، أَنّٰى، حَيْثُمَا. كَيْفَمَا، أَيُّ.

په دغو حروفو کي (إِنْ، إِذْمَا) حروف دي او نور ټول اسمونه دي.

۱: دغه ادوات پر فعل مضارع داخلېږي، لم او لام د امر په ډول جزم ورکوي او همدارنګه نون اعرابي او په پای کي حرف علت حذف کوي.

۲: دوهمه جمله یعني دوهم جز که فعل مضارع وي نو هغه ته هم جزم ورکوي، په پورتنيو مثالونو کي فکر وکړئ.

۳: او که دوهمه جمله فعل مضارع نه وي بلكه جمله اسميه، امر، نهي او يا فعل مضارع وي مګر پر هغه لن، قد، س، سوف او يا مانافيه داخل وي، يا د عسى او ليس په ډول افعال جامد وي نو پر جزا (ف) داخلول ضروري دي.

اِنْ او اِذمَا (که چیري)، دغه دواړه حروف په یوه معنی استعمالیږي.

مَنْ (څوک چي)، دغه لفظ د ذوي العقول لپاره استعماليږي .

مَا (هغه چي)، دغه لفظ د غير ذوي العقول لپاره استعماليږي .

مَهْمَا (کوم چي)، د غير ذوي العقول دپاره استعماليږي .

مَتٰى (کله چي)، د ظرف زمان دپاره استعماليږي .

أَيَّانَ (کله چي) د ظرف زمان دپاره استعماليږي .

أَيْنَ (چيري)، د ظرف مکان دپاره استعماليږي .

أَنّٰى (کله چي)، د ظرف مکان دپاره استعماليږي .

حَيْثُمَا، اينما (چيري چي)، د ظرف مکان دپاره استعماليږي .

كَيْفَمَا (څنګه چي)، د کيفيت او حالت دپاره استعماليږي .

أَيُّ ، أَيَّةُ (کوم چي، څنګه چي)، د ټولو ذکرسوو معناوو دپاره استعماليږي.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۰۷

په پښتو يي ترجمه کړئ :

۱- مَنْ يَّتْعَبْ فِيْ صِغْرِهٖ يَتَمَتَّعْ فِيْ كِبَرِهٖ.

۲- مَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ.

۳- مَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللهِ.

۴- مَهْمَا تُنْفِقْ فِي الْخَيْرِ يُخْلِفْهُ اللهُ.

۵- إِنْ تُسَافِرْ تَسْتَفِدْ مِنَ التَّجَارُبِ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦- إِذْمَا تَفْعَل شَرًّا تَنْدَمْ عَلَيْهِ.

٧- اَيُّ نَفْعٍ تَنْفَعِ النَّاسَ يَحْمَدُوْكَ.

٨- مَتٰى يُسَافِرْ اَخِيْ اِلٰى هِلمَنْد اُسَافِرْ مَعَهُ.

٩- أَيَّانَ تَدْعُنِيْ فِيْ مُلِمَّةٍ اُجِبْكَ.

١٠- اَيْنَ يَذْهَبْ مَحْمُوْدٌ يَصْحَبْهُ اَخُوْهُ.

١١- اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ.

١٢- أَنّٰى يَرْحَلْ ذُوْالعِلْمِ يُكْرَمْ.

١٣- حَيْثُمَا يَنْزِلْ اَبُوْكَ يَلْقَ الْحَفَاوَةَ وَالْاِكْرَامَ.

١٤- كَيْفَمَا تُعَامِلْ اِخْوَانَكَ يُعَامِلُوْكَ.

١٥- إِنْ تَفْتَحْ نَوَافِذَ الْحُجْرَةِ يَتَجَدَّدْ هَوَاؤُهَا.

١٦- وَمَهْمَا تَكُنْ عِنْدَ امْرِءٍ مِنْ خَلِيْقَةٍ وَإِنْ خَالَهَا تَخْفٰى عَلَى النَّاسِ تُعْلَم

## اَلتَّمْرِيْن ١٠٨

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- که په سبق کي کوښښ وکړې نو کامياب به سې.

٢- که د بدو ملګرتيا وکړې نو اخلاق به دي خراب سي.

٣- څوک چي د خلکو سره ښېګڼه کوي، خلک د هغه سره مينه کوي.

٤- څوک چي د مشرانو په نصيحت عمل کوي هغه ګټه تر لاسه کوي.

٥- هر څه نېکي يا بدي چي وکړې د هغه بدله به تر لاسه کړې.

٦- هر څه نېکي چي وکړې د هغه ګټه به تا ته راجع سي.

٧- هغه چي هر څو مره تېز و ځغلي ما پيدا کوای نه سي.

۸- کله چي ګرمي سي نو موږ د کابل سفر کوو.

۹- کله چي ته هرات ته ځې نو زه هم درسره ځم.

۱۰- چيري چي ته پاتيږې زه هم هلته پاتيږم.

۱۱- هر چيري چي وې الله ﷻ تا ته رزق درکوي.

۱۲- هر ځای چي ولاړ سې د الله ﷻ جوړ بنت به ووينې.

۱۳- څنګه چي ستا اخلاق وي خلک به په تا خبر سي.

۱۴- هر څه چي په محکمه کي وکړې هغه به ريبې.

۱۵- کله چي لمر راوخيژي نو تاريکي ختميږي.

۱۶- څوک چي د ځان عزت نه کوي، خلک د هغه عزت نه کوي.

## اَلتَّمرِين ۱۰۹

په پښتو يې ترجمه کړئ:

- اَلحِكْمَةُ ضَالَّةُ المُؤمِنِ حَيثُ وَجَدَهَا فَهُوَ اَحَقُّ بِهَا.

- مَنْ سَعٰى فِي الخَيرِ فَسَعْيُهُ مَشْكُورٌ.

۳- إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ.

۴- مَهْمَا اِرْتَكَبْتَ مِنَ الذُّنُوبِ فَلَا تَيْئِسْ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ.

۵- مَا تَصْنَعْ مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يَضِيْعَ جَزَاءُهُ.

۶- إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ.

۷- إِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللهُ.

۸- مَهْمَا تُخْفِ مِنْ طِبَاعِكَ فَسَيَعْلَمُهُ النَّاسُ.

۹- إِنْ تَتَقَرَّبْ إِلَى اللهِ فَمَا يُقَصِّرُ فِيْ مُكَافَاتِكَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰- مَنْ اَفْشٰى سِرَّ الصَّدِيْقِ فَلَيْسَ بِأَمِيْنٍ.

۱۱- اِنْ تَتُوْبُوْا اِلَى اللهِ فَعَسٰى اَنْ يَرْحَمَكُمْ.

۱۲- مَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۱۰

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- چا چې دغه مضمون ليکلی دی هغه د انعام ور دی.
۲- څوک چې د خپل نفس پيروي کوي هغه تاواني دی.
۳- هر څه چې استاد نصيحت درته وکړي په هغه عمل وکړه.
۴- علم چې هر ځای تر لاسه کړې خپله ورکه شتمني يې وګڼه.
۵- کله چې وعده وکړې نو هغه پوره کړه.
۶- کله چې ته سفر کوې نو ما هم د ځان سره ملګری کړه.
۷- څوک چې د الله نافرماني کوي د هغه پيروي مه کوه.
۸- که ته زما په نصيحت عمل وکړې نو ډېر ژر به ګټه ومومې.
۹- که تا وعده خلافي وکړه نو تر دې مخکې دې هم کړې ده.
۱۰- که ته د خپل مور و پلار نافرمانې وکړې نو هغوئ به هيڅکله ستا څخه راضي نه سي.
۱۱- که ته زما خبره ونه منې نو ډېر ژر به پښېمانه سې.
۱۲- څوک چې په مصرف کې ميانه روي کوي هغه بخيل نه دی.
۱۳- چا ته چې الله هدايت ونه کړي نو هغه ته هيڅوک هدايت کولای نه سي.
۱۴- په موږ کې چې څوک شتمن وي هغه دې د مسکينانو مرسته وکړي.

# الدرس الثامن عشر (۲)

## (ادوات الشرط غیر جاذمه)

لَوْ، لَوْلَا، لَوْمَا، لَمَّا، كُلَّمَا، إِذَا، أَمَّا.

۱- لَوْ (که چیري)، دغه لفظ ښیي چي د شرط نه موجود کېدو په وجه جزا هم نه موجود کېږي، لکه: لَوِاجْتَهَدْتَ لَفُزْتَ (که ته کوښښ وکړې نو کامیاب به سې).

۲- لَوْلَا، لَوْمَا، (که چیري نه وای)، دغه لفظ ښیي چي د شرط د نه جودتیا په وجه جزا هم موجود نه سول لکه: لَوْلَا الْهَوَاءِ مَا عَاشَ اِنْسَانٌ
ه هوا نه وای نو هیڅ انسان به ژوندی پاته سوی نه وای).

۱- لَمَّا، (کله چي)، دغه لفظ ظرف دی او د حین په معنی دی، دغه لفظ پر فعل ماضي داخلیږي لکه: لَمَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ رَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ (کله چي ما هغه ته سلام ادا کړی نو هغه زما د سلام جواب را کړی).

۴- كُلَّمَا (کله چي)، دغه لفظ هم ظرف دی او پر فعل ماضي داخلیږي، لکه: كُلَّمَا مَرِضْتُ خَافَتْ عَلَيَّ أُمِّي (کله چي زه ناروغ سوم نو زما مور پر ما وبېرېدل).

۵- إِذْ، (کله چي)، دغه لفظ هم ظرف دی مګر د مستقبل لپاره راځي لکه: اِذَا تَعَلَّمْتَ فَاعْمَلْ بِعِلْمِكَ (کله چي علم ترلاسه کړې نو په هغه عمل

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړه، اِذَا الْاُسْتَاذُ نَصَحَکَ فَاعْمَلْ بِنُصْحِهِ (کله چي استاد تا ته نصیحت وکړي نو د هغه په نصیحت عمل وکړه).

٦- أَمَّا (مګر)، دغه لفظ د تفصیل بیانولو لپاره راځي لکه: لِلْبُسْتَانِ بَابَانِ، اَمَّا اَحَدُهُمَا فَفِيْ جَانِبِ الشَّرْقِ وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَفِيْ جَانِبِ الشِّمَالِ.

پاملرنه! د "اَما" پر جواب د فاء داخلول ضروري دي مګر د "لما" پر جواب د فاء داخلول صحیح نه دي، شاګردان په دغه لفظ کي ډېره غلطي کوي.

هغه "لما" چي (تر اوسه) په معنی کي د نفي لپاره راځي، حرف جازم دی او پر فعل مضارع داخلیږي او هغه ته جزم ورکوي مګر دغه لفظ پر فعل ماضي راځي او جازم نه دی، د دواړو په فرق پوه سئ.

## اَلتَّمْرِيْن ١١١

په پښتو یې ترجمه کړئ:

١- لَوْ عَمِلْتَ فِيْ فَرَاغِکَ مَا نَدِمْتَ.

٢- لَوْ کَانَ عِنْدِيْ مَالٌ لَفَدَيْتُکَ.

٣- لَوْلَا الْعَقْلُ لَکَانَ الْاِنْسَانُ کَالْبَهَائِمِ.

٤- لَوْ لَا الطَّبِيْبُ لَسَاءَتْ حَالُ الْمَرِيْضِ.

٥- لَوْ مَا التَّعْبُ مَا کَانَتِ الرَّاحَةُ.

٦- لَوْ مَا ثَوَابُ الْعَامِلِيْن لفَتَرتِ الهِمَمُ.

٧- لَمَّا تُوُفِّیَ اَبِيْ کُنْتُ اِبن خَمس سَنَوَاتٍ.

۸- لَمَّا رَاَی الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّیْ .

۹- اِذَا اَسَرَّ اِلَیْکَ اَحَدٌ فَلَا تُفْشِ سِرَّہٗ .

۱۰- کُلَّمَا ذَهَبَ جِیلٌ جَاءَ جِیلٌ اٰخَرُ .

۱۱- لِیْ صَدِیْقَانِ عَالِمَانِ، اَمَّا اَحَدُهُمَا فَهُوَ مَحْمُوْدٌ .

۱۲- وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَهُوَ خَالِدُ نِ الْخَطِیْبُ .

## اَلتَّمْرِیْن ۱۱۲

په عربي يې ترجمه کړئ :

۱- که تا په سبق کي کوښښ کړی وای نو په امتحان کي به کامياب سوی وای .

۲- که ته کامياب سوی وای نو ما به انعام درکړی وای .

۳- که مور ډُنډ نه وای کړی نو موټر به تر لاسه سوی وای.

۴- که هغه لږ پرواه کړې وای نو نتيجه به د دې برعکس وای.

۵- که دېوال نړېدلی وای نو ټول خلک به مړه سوي وای.

۶- که تاريکي نه وای نو د رڼا قدر به نه کېدای .

۷- که تجربې نه وای نو انسان به ګټه نه اخيستلای .

۸- که اسلام نه وای نو خلک به د عدل او برابرۍ د نامه څخه ناخبره وای .

۹- کله چي رسول الله ﷺ د څلوېښتو کلونو سو نو نبوت ورکړل سو .

۱۰- کله چي ما ستا سره ليدلي نو تا زما عزت کړی دی.

۱۱- هر کله چي تا عذر کړی دی نو ما ستا عذر منلی دی.

۱۲- کله چي ناروغ سې نو د ډاکټر څخه مشوره واخله.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۳- تاسي دوارہ د ناروغ سره کښېنئ، پاته سوم زه نو زه به....
۱۴- بازار ته ولاړ سم تر څو د هغه لپاره درمل رانيسم.

# الدرس التاسع عشر

## (اسم موصول)

د اسم اشاره په ډول د اسم موصول هم شپږ صيغې دي:

اَلَّذِيْ اَلَّذَانِ اَلَّذِيْنَ
اَلَّتِيْ اَلَّتَانِ اَللَّاتِيْ

همدارنګه (مَنْ، مَا، أَيٌّ) هم اسم موصول دي.

مَن د عاقل او مَا د غير عاقل دپاره مطلقا، يعني د واحد، تثنيه، جمع، مذکر او مؤنث ټولو دپاره راځي او همدارنګه اَيّ هم.

د دغو الفاظو معنى په دغه، هغوئ او داسي نورو الفاظو کيږي چي مقصد نه واضح کيږي، ځکه تر دې وروسته يوه بله جمله راوړل کيږي تر څو مقصد واضح سي، د دغي دوهمي جملې نوم صله دی.

په صله کي يو ضمير وي چي اسم موصول ته راجع کيږي، دغه ضمير ته عائد وايي، عائد د خپل اسم موصول په مناسبت د واحد، تثنيه، جمع، مذکر او مؤنث په مختلفو شکلونو بدليږي، لاندي مثالونه وواياست:

أُحِبُّ الَّذِيْ يَصْدُقُ. أُحِبُّ الَّذَيْنَ يَصْدُقَانِ.

أُحِبُّ الَّذِيْنَ يَصْدُقُوْنَ . أُحِبُّ الَّتِيْ تَصْدُقُ .
أُحِبُّ اللَّتَيْنِ تَصْدُقَانِ . أُحِبُّ اللَّاتِيْ يَصْدُقْنَ .
تُوُفِّيَتِ الَّتِيْ كَانَتْ مَرِيْضَةً . نَجَحَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يَجْتَهِدُوْنَ .

پاملرنه!

۱: "مَن، مَا، أَي" د مبتدا، فاعل او مفعول په توګه راتلای سي او همدارنګه الذي او نور هم، مګر الذي، الذان او داسي نور د صفت په توګه زيات استعماليږي .

۲: اسماء موصوله (لکه چي تاسي په دوهم سبق کي وويل) معرفه وي ځکه اسم موصول د هغه لفظ صفت واقع کيږي کوم چي معرفه وي (تر څو په موصوف او صفت کي مطابقت راسي) ، په دې اړه تمرينونه به د کتاب په دوهم جلد کي راسي مګر دلته په دې خبره پوه سئ چي شاګردان زيات وختونه په دې کي غلطي کوي چي د نکره صفت اسم موصول راوړي د مثال په توګه: جاء رجل الذي کان منتظرا، دغه جمله غلطه ده بايد "الرجل" وويل سي .

## اَلتَّمْرِيْن ۱۱۳

په پښتو يې ترجمه کړئ :

۱- هُوَالَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ .
۲- هُوَالَّذِيْ اَرْسَلَ رَسُوْلَهُ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ .
۳- اَلضَّيْفَانِ اللَّذَانِ كَانَا عِنْدَنَا سَافَرَا .
۴- اَلْاَسَاتِذَةُ الَّذِيْنَ عَلَّمُوْنِيْ اُجِلُّهُمْ وَاُحِبُّهُمْ .

Maktaba Tul Ishaat.com

۵- هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ.

٦- اَلْاُمَّهَاتُ اللَّاتِيْ يُرَبِّيْنَ اَوْلَادَهُنَّ عَلَى الْفَضِيْلَةِ هُنَّ خَيْرُ اُمَّهَاتٍ.

۷- اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ يَدِهٖ وَلِسَانِهٖ.

۸- مَنْ حَفَرَ حَفِيْرًا لِاَخِيْهِ كَانَ حَتْفُهٗ فِيْهِ.

۹- لَا تَعِدْ بِمَا لَا تَقْدِرُ عَلٰى اِيْفَاءِهٖ.

۱۰- لَا تُحَاوِلْ تَاْدِيْبَ مَنْ لَا يَتَاَدَّبُ.

۱۱- لَا تُحَاوِلْ تَقْوِيْمَ مَا لَا يَسْتَقِيْمُ.

۱۲- سَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُوْنَ.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۱۴

په عربي یې ترجمه کړئ:

۱- هغه هلک چې پر سړک څغلي زما ورور دی.
۲- هغه ناروغه چې پرون د لته راغلې وه، نن مړه سوه.
۳- ایا ته هغه هلک پېژنې کوم چې تا ته یې سلام ادا کړی.
۴- ایا دا هغه شاګرد دی کوم چې انعام یې تر لاسه کړی وو.
۵- دا هغه کور دی کوم چې زه دوه کاله مخکې پکښې اوسېدم.
٦- هغه کتاب چې تا پرون راکړی وو، ورک سو.
۷- څوک چې د مشرانو نصیحت نه اوري خپل تاوان به وکړي.
۸- هغه هلک راوغواړه کوم چې د غه کتابچه یې ده.
۹- د هغو دوو هلکانو سره ووینه کوم چې نن راغلي دي.
۱۰- څوک چې د الله ﷻ حکم مني، الله ﷻ ور څخه راضي کیږي.
۱۱- پولیسو هغه کسان ونیول کوم چې د غلا هڅه یې کول.

۱۲- دا هغه ساعت دی کوم چې زما پلار په انعام کې را کړی وو.

۱۲- ایا دا هغه دوه کسان دي کوم چې ستا سره یې لیدلي وه.

۱۲- هغه سعد بن ابی وقاص چې د دجلې په سیند کې یې آسونه اچولي وه.

# الدرس العشرون

## (نواسخ جمله)

تاسې به د نواسخ جمله بحث د نحو په کتابونو کې ویلی وي، دغه حروف پر جمله اسمیه داخلیږي او د مبتدا او خبر اعراب بدلوي ځکه ورته نواسخ جمله (د جملې منسوخ کوونکي) وایي، کله چې دغه حروف پر جمله اسمیه داخل سي نو د مبتدا نوم اسم سي، نواسخ جمله څلور ډوله دي: حروف مشبه بالفعل، افعال ناقصه، ماولامشبهتان بلیس، لاء نفي جنس، دلته موږ یوازي د حروف مشبه بالفعل بیان کوو، د پاته نواسخو بیان به په راتلونکو سبقونو کې راسي.

حروف مشبه بالفعل شپږ دي او په لاندي ډول دي:

إِنَّ، أَنَّ، كَأَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ.

دغه حروف پر جمله اسمیه (مبتدا او خبر) داخلیږي او خپل اسم (مبتدا) ته نصب (زور) ورکوي او خبر پر خپل حال مرفوع پاته وي؛ دغو حروفو ته ځکه مشبه بالفعل وایي چې د فعل په ډول دغه حروف هم یو اسم (مبتدا) ته نصب او بل اسم (خبر) ته رفع ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱: " إِنَّ، أَنَّ " په جمله کي د تاکید او ټينګار معنی پیدا کوي لکه: إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ .

۲: " كَأَنَّ " د تشبیه معنی ورکوي، لکه: كَأَنَّ مَحْمُوْدًا اَسَدٌ (محمود داسي دی لکه زمری) .

۳: "لَيْتَ، لَعَلَّ"، د تمنی او خواهش لپاره استعمالیږي مګر په دواړو کي دا فرق دی چي د لیت په ذریعه د ناممکن کار خواهش کیدای سي مګر د لعل په ذریعه یوازي د ممکن کار خواهش او تمنی کیږي .

۴: "لٰكِنَّ"، د استدراک دپاره استعمالیږي یعني د مخکنۍ جملې شبه او وهم ختموي .

په إِنَّ او أَنَّ کي فرق دادی چي أَنَّ د خپل معمول سره د مصدر په معنی کي مؤول کیږي او همدارنګه د دوهمي جملې جز جوړیږي لکه: عَلِمتُ أَنک ذَاهِبٌ . یعني علمت ذهابک.

إِنَّ، د مصدر په معنی کي مؤول نه وي او نه د بلي جملې جز وي بلکه پر جلا جملې راځي لکه: إِنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْر .

په لاندي صورتونو کي إِنّ په کسره ویل کیږي او لیکل کیږي :

۱: کله چي د کلام په شروع کي وي لکه: إِنَّ الحَرَّ شَدِيْدٌ.

۲: کله چي د قول او د قول تر مشتقات وروسته وي لکه: قُلْ إِنَّ الحَقَّ واضِحٌ .

۳: کله چي د صله په شروع کي وي لکه: زرت الذي إِني أَجله. جَاء الذِين اِنّ مَجِيئَه يَسُرُّنِيْ.

أَنَّ، د کلام په منځ کي راځي، د قول او صله په نورو صورتونو کي

أَنَّ ویل کیږي په خاصه توګه تر حروف جاره وروسته لکه: اَلَمْ یَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ یَرٰی.

پاملرنه! څنګه چې په جمله اسمیه کي خبر مفرد، جمله او یا شبه جمله راورل کیدای سي همدارنګه د نواسخ خبر هم مفرد، جمله او یا شبه جمله راتلای سي لکه: اِنَّ اللهَ یَرزُقُ العِبَادَ.

## اَلتَّمرِین ۱۱۵

په پښتو یې ترجمه کړئ:

۱- إِنَّ الرِّيحَ شَدِيدَةٌ.

۲- إِنَّ الْبَخِيلَ عَدُوٌّ لِنَفسِهِ.

۳- إِنَّ الْهَوَاءَ الطَّلْقَ مُفِيدٌ.

۴- كَأَنَّ الشَّمْسَ قُرصٌ مِنَ الذَّهَبِ.

۵- اَلرَّجُل بَخِيلٌ وَلٰكِنَّ اِبْنَهُ جَوَادٌ.

۶- إِنَّ الْمُجِدِّينَ فَائِزُونَ.

۷- لَيْتَ النَّاسَ مُنْصِفُونَ.

۸- لَيْتَ الحَيَاةَ خَالِيَةٌ مِنَ الكَدَرِ.

۹- لَعَلَّ الْقِطَارَ مُتَأَخِّرٌ.

۱۰- لَعَلَّ العُمَّالَ مُتعَبُونَ.

۱۱- إِنَّ الْفَتَيَاتِ مُهَذَّبَاتٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

## اَلتَّمْرِيْن ١١٦

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- محمود په حقيقت کي يو کوښښ ناک شاګرد دی.
٢- په حقيقت کي دغه ماڼۍ ښکلې ده.
٣- دغه ښار په حقيقت کي ښائسته دی مګر سړکونه يې تنګ دي.
۴- زه خوشحاله سوم چي خالد کامياب دی.
۵- ارمان چي ټول شاګردان کامياب وای.
٦- دغه ماڼۍ داسي ده لکه يو لوی غر.
٧- ښوونکي داسي دي لکه مهربان پلار.
٨- محمود نيول سوی دی مګر هغه بې ګناه دی.
٩- ملګري ډېر دي مګر وفادار لږ دي.
١٠- دغه خلک په خپلو نيتونو کي مخلص دي مګر خطاکار دي.
١١- ارمان چي تاسي کوښښ ناکه شاګردان وای.
١٢- شايد دغه خلک سياحت کوونکي وي.
١٣- د دغه تالاب اوبه داسي دي لکه صافه شيشه.
١۴- ستوري داسي دي لکه ځلانده څراغان.

## اَلتَّمْرِيْن ١١٧

په پښتو يې ترجمه کړئ:

١- إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ.
٢- إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ.

٣- إِنَّ السَّفِيْنَةَ لَاتَجرِىْ عَلَى الْيُبْسِ.

٤- لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِيْ صَلاحًا.

٥- لَيْتَكُمْ تَجْتَهِدُوْنَ قَبْلَ الْاِمْتِحَانِ.

٦- كَأَنَّ أُذُنَيِ الْفِيْلِ مِرْوَحَتَانِ.

٧- إِنَّ الْجَاهِلَ يُسِيْئُ إِلٰى نَفْسِهِ.

٨- إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ.

٩- إِنَّ الْاُمَّهَاتِ يُهَذِّبْنَ الْبَنَاتِ.

١٠- وَجَدْتُ اَنَّ اِنْغمَاسَ الْمَرءِ فِي الترف يضرُّهُ.

١١- أَرٰى أَنَّ بَائِعِي الصُّحُفِ قَدْ كَثُرُوْا.

١٢- إِنَّ الْاَغْنِيَاءَ كَثِيْرُوْنَ وَلٰكِنَّهُمْ لَايُؤَاسُوْنَ الْفُقَرَاءَ.

## اَلتَّمْرِيْن ١١٨

په عربي يې ترجمه کړئ:

١- په حقيقت کي ورزش بدن ته ګټه رسوي.

٢- په حقيقت کي محمود ښه تقرير کوي.

٣- ارمان چي تا زما په نصيحت عمل کولای.

٤- تاسي دواړه ذهين یاست مګر په سبق کي کوښښ نه کوئ.

٥- زه پوهېدم چي دغه شاګردان به په امتحان کي ناکام سي.

٦- کيدای سي دغه خلک اوس په سبق کي کوښښ وکړي.

٧- خلک د دنیا په ژوند کي داسي ډوب دي لکه هيڅکله چي نه مري

٨- بخيل ګمان کوي چي مال همېشه پاته کېدونکی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۹- کاش موږ د الله ﷻ د نعمتونو شکر ادا کړو.
۱۰- اسلام یو حق دین دی مګر زیات خلک نه پوهیږي.
۱۱- ارمان چي مسلمانانو د اسلام په احکامو عمل کولای.
۱۲- زه خوشحاله سوم چي تاسي په امتحان کي کامیاب سو است.
۱۳- د دغه مسجد دواړي مناري په حقیقت کي لوړي دي.
۱۴- لکه دغه دواړي چي د آسمان سره خبري کوي.

==========

# الدرس الحادي والعشرون

## (افعال ناقصه)

د نواسخ جمله دوهم ډول افعال ناقصه دي چي په لاندي توګه دي:

كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ، مَابَرِحَ، مَادَامَ، مَازَالَ، مَاانْفَكَّ، مَافَتِئَ، لَيْسَ.

دغه افعال پر جمله اسمیه (مبتدا او خبر) داخلیږي، مبتدا چي اسم بلل کیږي د إِنَّ برعکس مرفوع وي او خبر منصوب وي لکه: كَانَ الْوَلَدُ جَالِسًا (هلک ناست وو).

د "لیس" ماسیوا د نورو ټولو افعالو فعل مضارع او فعل امر هم

راځي او هغه عمل کوي کوم چې ماضي يې کوي، يعنې اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي.

د "ليس" فعل مضارع او امر نسته مګر د ماضي ټولي صيغې يې راځي.

۱: د "كَانَ" څخه دا خبره معلوميږي چې د مبتدا تعلق د ماضي زمانې سره دی لکه: كَانَ الْحَرُّ شَدِيْدًا (ګرمي ډېره سخته وه).

۲: "صَارَ" د حالت بدلون ښيي لکه: صَارَ الرَّجُلُ غَنِيًّا (سړی شتمن سو).

۳: "لَيْسَ" د نفي دپاره استعماليږي لکه: لَيْسَ الرَّجُلُ غَنِيًّا (هغه سړی شتمن نه دی).

کله نا کله د "ليس" پر خبر حرف جار (ب) هم داخليږي لکه: لَيْسَ الرَّجُلُ بِغَنِيٍّ، دا وخت به خبر مجرور وي.

۴: "اصبح، امسى"، ظل"، بات، اضحى" دغه الفاظ ښيي چې د هغو اسم (مبتدا) چې په کوم خبر متصف کيږي د هغه تعلق د دغو وختونو سره وي. د اصبح څخه د سهار وخت، د عسى څخه د مابنام وخت، د ظل څخه د ورځي وخت او د بات څخه د شپې وخت مراد وي، لکه: أَصْبَحَ حَامِدٌ مَسْرُوْرًا (حامد د خوشحالۍ په حالت کي سهار کړی)، بَاتَ الْمَرِيْضُ مُتَأَلِّمًا (ناروغ د تکليف په حالت کي شپه تېره کړه).

که څه هم دغه الفاظ د خپلو وختونو دپاره وضع سوي دي مګر کله نا کله د "صار" په معنى کي هم استعماليږي لکه: أَصْبَحَ مَحْمُوْدٌ غَنِيًّا (محمود شتمن سو) او داسي نور.

Maktaba Tul Ishaat.com

۵: " مَابَرِحَ، مَادَامَ، مَازَالَ، مَاانفک، مَافَتِئَ" دغه پنځه الفاظ د استمرار او همېشتوب دپاره استعمالیږي لکه: مَازَالَ مَحْمُوْدٌ مُجْتَهِدًا (محمود همېشه کوښښ کوونکی دی) . مَازَالَ مَحْمُوْدٌ یَجْتَهِدُ (محمود همېشه کوښښ کوي) .

پاملرنه! د حروف مشبه بالفعل په ډول د افعال ناقصه خبر هم مفرد، جمله او شبه جمله راتلای سي لکه: کَانَ مَحْمُوْدٌ یَکْتُبُ اِلٰی اَبِیْهِ (محمود خپل پلار ته خط لیکی) .

د " کَان یکتُب مَحمودٌ" او "کَان مَحمودٌ یکتب" په منځ کي هغه فرق دی کوم چي د "یکتُب مَحمودٌ" او " مَحمودٌ یکتُب " په منځ کي دی، یعني د جمله اسمیه او جمله فعلیه فرق ، پاته سوه دا خبره چي چیري جمله اسمیه راوړل کیږی او چیري جمله فعلیه، نو په دې اړه به وروسته بحث وسي.

## اَلتَّمْرِیْن ۱۱۹

په پښتو یې ترجمه کړئ :

۱- کَانَ مَحْمُوْدٌ تِلْمِیْذًا نَجِیْبًا وَلٰکِنَّهُ ضَلَّ بِصُحْبَةِ الْاَشْرَارِ.

۲- کَانَ الْبَیْتُ نَظِیْفًا وَلٰکِنْ صَارَ متسِخا بِالْاَقْذَارِ.

۳- صَارَ الْعَدُوُّ صَدِیْقًا حَیْثُمَا تَبَیَّنَ لَهُ الْاَمْرُ.

۴- یَبْدُو الهِلَالُ ضَئِیْلًا ثُمَّ یَصِیْرُ بَدْرًا کَامِلًا .

۵- اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ اَحَدًا، اِنَّهُ لَیْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِیْدِ.

۶- اَلْاَسَاتِذَةُ لَیْسُوا قُسَاةً عَلَی الطَّلَبَةِ.

۷- اَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فَرِغًا.

۸- اَضْحَى الْغَمَامُ كَثِيْفًا وَكَادَتِ السَّمَاءُ اَنْ تُمْطِرَ.

۹- اَمْسَى الطَّلَبَةُ مُشْتَغِلِيْنَ بِدُرُوْسِهِمْ.

۱۰- ظَلْتُمْ طَوَّافِيْنَ بِالْاَسْوَاقِ وَمَا عَمِلْتُمْ.

۱۱- بِتْنَا مُسْتَرِيْحِيْنَ وَلَمْ نَشْعُرْ بِاَذًى.

۱۲- بَاتَ الْمَرِيْضُ مُتَاَلِّمًا وَلَمْ يَنَمْ طُوْلَ اللَّيْلِ.

## اَلتَّمْرِيْن ۱۲۰

په عربي يې ترجمه کړئ:

۱- سبق ډېر گران نه وو مگر زه پوه نه سوم.
۲- پوښتني ډېري اسانه وې مگر زما هېري سوې.
۳- محمود ډېر ذهين وو مگر د ناروغۍ په وجه کامياب نه سو.
۴- تاسي نن ټوله ورځ په سبق کي بوخت واست.
۵- مور په ډېره پرېشاني کي شپه تېره کړل.
۶- خلکو په بيره کي سهار کړئ.
۷- نېک ځوانان ټوله شپه د الله ﷻ په ياد کي وېښ وه.
۸- پرون تر غرمې پوري باران اورېدی.
۹- د دوهم ټولگی شاگردان په دوهم ساعت کي غير حاضر وه.
